میاشتني
د ۱۳۷۰ دمرغومي اوسلواغي میاشت

حریت

داسلامي انقلاب د اهدافو خپـــروونکي



افغان جهاد څه وړله پیچومو بریالی راووت ؟



لویدیځ ته «حکمتیار» دافغانستان امام خمیني بنکاریده ....

دشهیدانو له وینو او دجهاد له اهدافو سره دوفا شانداره مظاهره



«حکمتیار» او «مسعود» دهغو ونو په څیر دي چې ....

تقاضای دین

الهی ارشاد

دخلکو لپاره نفسي غوښتني ، ښځي ، اولادونه ، دسروسپینو زیرمي ، کره آسونه ، څاروي او کروندي ، دډیري میني وړګرځول شوي دي ، خو دا هر څه دځو ورځي دنیوي ژوندانه وسایل دي . په حقیقت کي کوم ډیر ښه استوګنځي دي ، هغه له اللّه «ج» سره دي وو ایه زه دروښیم چي له دینه ډیر ښه څه شي دي ؟ دهغو خلکو لپاره چي دپرهیز ګاري چلند ئي غوره کړي ، دهغو له رب سره باغونه دي ، چي تر هغو لاندي به ویا لي بهیږي ، هلته به دتل لپاره اوسیدونکي وي . سپیڅلي میرمني به ئي ملګري وي او دالله درضا په ګټلو به سرلوړي وي ، اللّه د خپلو بندګانو کړه وړه په ښه شانویني .

«ال عمران – ۱۵»

ډیزاین : وحیدالرحمن «توره خیل»

بسم الله الرحمن الرحيم

مياشتنى

حريت

داسلامي انقلاب داهدافو خپروونکى

دليکوالو دشورى ترنظر لانـــدى
سرمحرر: محمد نذير« بشارت »

لومړي کال -اوومه اواتمه ګڼه -د ۱۳۷۰هـ.ش دمرغومى اوسلواغى مياشتى

بانکى پته

اکاونټ نومره (۷۰۱٤)
عمان بانك لميتد پشاور پاکستان

دګڼون بيه :

کلني په پاکستان کي (۸۵) کلداري
په‌اروپا اوامريکا کـي (۳۰) ډالره
په عربي هيوادونوکي (۷۵) رياله
ديوي ګڼي بيه په پاکستان کي (۷) روپي يادهغه معادل
دمحصلينو اومتعلمينو له پاره نيمه بيه

ددى ګڼي مطالب

۱- يوآغاز ے يو انجام ....(۲)
۲- دظاهرشاه دراوستو احتمالات ....(٤)
۳- دظاهر شاه له زوم سره دآصف نواز کتنه ...(۱۱)
٤- امريکا آزادي ميخواهد يافرماندهي ؟...(۱۵)
٥- دالجزاير انتخابات ....(۲٦)
٦- دشهيدانو له وينو سره ....(۲۷)
۷- به پيري هم ندانستم افسوس ....(۳۱)
۸- تقاضاي دين ....(۳٤)
۹- افغان جهاد څه وړله پيچومو اوکړليچوسو (۳۹)
۱۰- شګفت انګيزترين واقعه ....(٥٤)
۱۱-داسلامي نظام داقامي يواځيني لار ......(٥٦)
۱۲- دګرديز دوروستيو جګړو په باب ....(٥۸)
۱۳- ژورګړنګونه چي حادثوته انتظاروو .....(٦۰)
۱٤- سفر درظلمت ....(٦۸)
۱٥- دحيا پړوني ....(۷۱)
۱٦-مرحله تشخيص وشناخت فرصت ....(۷۲)
۱۷- اسلامي اوغير اسلامي ادب ....(۷٥)

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

یو آغاز - یو انجام

د۱۳۵۸دجدي شپږم سهار دیوه وحشتناك تاړاك پیل و ، ددوونظریو اودوو نابرابر وطاقتونو دقهرجن ټکر آغاز و ، دتاریخ دیوي خوفناکي معرکي شروع وه ، یوي خواته کمونیستي امپراتوري وه ، هغه چي هیبت ئي دولسونو روحونه قبضول ،داستبداد او سبوعیت منگولو ئي گڼ شمیر ازاد ملتونه زندي کړي وو ، زورئي په نړي دویري اورعب سیوري غورځولي و ، مخي ته ئي دریدل « مرگ» ته بلنه ورکول بلل کیده ، دائي په باب منله شوي وه چي یواځي پرمخ گام پورته کول پیژني اوپه شاپل اخیستل ورته نا اشنا دي .

بلي خواته یو کمزوري ولس و ، افغان ولس، گمنام ، بي وزله ، یبلي پښې ، لوڅ سر ، فقیر اوتش لاسي ، هغه چي دظالمو زمامدارانو ظلم ، بي غوري ، خیانت اوجفا ووئي دتن وینه وچه کړي وه او دبدن هډوکي ئي شپیلولي وو .

دجدي په شپږمه دافغانستان هوا روسي الوتکو نیولي وه ، په ډیره عجله ئي په هوائي ډگرونو کوماندو کوزوله ، جنگي الوتکوئي گزمي کولي ، ترسهاره کافي اندازه دسره پوځ او کي ،جي ،بي کوماندو افغانستان ته راغلي وه ، دغرمي په وخت دوړوټانکونو په بدرگه په ډیر وحشت اوزور د دارلامان په خوا وخوځیدل ، په دارالامان کي حفیظ الله امین مسموم پروت و .زماني انتظار ایستلو چي الله «ج» له هغه څخه څه وړ انتقام اخلي ، دزرگونو مسلمانو مبارزینو دمظلومانه قتل انتقام ،دزرگونو کونډو یتیمانو اوبورو میندو دسلگیو اواوښکو غچ ، او په اسلام دتیري او دیوه مومن ملت دتوهین بدله .

روسانو په زور اوغرور عملیات کول ، هغوي فکر کاوه چي ددارلامان نیول دافغانستان نیول دي ، مگر له دي بي خبره وو چي دارالامان دوي لا پخوا نیولي و ، هلته ددوي مزدوران پراته وو ، خودافغانستان نیول به تاریخ لړزوي او« محشر ونه » جوړوي .

څو ساعت وروسته امین ووژل شو ، بیا وروسته ببرك کارمل راوستل شو ، روسانو تر یوه لك زیات پوځ ځاي

پرځاي کړ . هغوي دخپل کارمهمه برخه بشپړه ګڼله ، خواشتباه ئي کړي وه ، ډيره لويه اشتباه ، اصلاً هرځه نوي پيليدل ، افغانان سره خوځيدل ، ديوي نوي مبارزي اونوي معرکي لپاره ئي ځانونه سمول ، کمر بندونه ئي تړل او په ټوپکو ئي مزي تيرول ، هغوي اوږدي مقابلي ته چمتو کيدل ، دخپلي ازادي او اسارت جګړي ته اودژوند او مرګ جنګ ته.وروسته ثابته شوه چي هغوي يواځي خپلي آزادي اوخپل.ژوند ته ملا نه تړله ، بلکي د ډيروولسونو او پراخوپرګنو خپلواکولو ته راپورته کيدل.

معرکه شروع شوه ، توده شوه ، دلکونو انسانانو په ککرويو اووينو غرونه ورنګيدل اورغونه ډک شول ، دافغانستان ځپك ځپك خاوره چي په کوم وحشت شاهدي وائي او دکوموفاجعو او تراژيد يو کيسي کوي ، هغه ددي ګواه دي چي دوحشت او فاجعو لښکرو اودهغوي بي حيا اذنابو ديوه مظلوم قوم اويوه ازاد ملت دتباهي اوهلاکت تصميم نيولي و ، اوپه ډيره تيزي اوبي باکي ئي غوښتل هغه دنړي له مخي نابود کړي ، مګر دملتونو دژوند اومرګ فيصلي چي کوي اودعروج اوزوال لوري ئي چي ټاکي ، هغه دمځکي دمخ قوتونه نه دي ، بلکي هغه دمځکي اواسمانونو خالق او مالك خداي «ج» دي ، هغه خداي «ج» اراده کړي وه چي افغان مومن ملت د« فوز» پرکوټل وخيږوي او دفتحي تاج ورپه سر کړي . هغه ذات فيصله کړي وه چي دخپلو لاري دلښکرو په لاسونو روسيه دړي وړي کړي ، د« زور» او« جبر» زولني ئي ماتي کړي

اوداستبداد ديوالونه ئي ونړوله او په داسي سرنوشت ئي اخته کړي چي لس کاله دمخه چاپه خوب هم نشواي ليداي.

دادي نن موږ په خپل هيواد دروسانو يرغل پداسي حال کي غندو چي د «شوروي اتحاد » نوم دجغرافيا له مخي ورك شو اوکمونيزم دتاريخ موزيم ته وسپارل شو .

پدي موقع چي موږ د« شوروي » يرغل دتاريخ ديوي شرمناکي اوترخي پيښي په حيث محکومو وبايد دلوي رب دربارته دنياز اودعا لاسونه پورته کړو اودخپلو شهيدانو پاکو روحونو ته رحمتونه وغواړو دچاپه وينو چي دتاريخ يوه لويه حادثه جوړه شوه او دخپلو غازيانو عظمتو نو ته سلام وکړو چي يو دوران ئي واړاو. همداراز بايد دخلق ، پرچم غړي دهغه بي انتها ظلم له امله چي زموږ پرولس ئي وکړ ، دهغه جنايت اوخيانت په وجه چي دخپل وطن په وراندي ئي وکړ اودهغي بد تريني غلامي له کبله چي داسلام په دښمني کي ئي دروسي وحشيانو په وړاندي وکړه شديداً اوعميقاً ندامت ښکاره کړي، په خپلو جناياتو او خيانتو نو اعترا ف وکړي اودخپل ولس په وړاندي دشرم اوملامتي سرونه ټيټ کړي .بايد ټول هغه هيوادونه اوولسونه چي د« شوروي » اوکمونيزم له شراوضرره خلاص شول دزړه له کومي له افغان برميال قوم څخه مننه وکړي اوددي ستر احسان دپاس په توګ نه يواځي ورته دستو نزو له پيدا کولو ډډه وکړي بلکي دمشکلاتو اوقضايا وو په اوارو لو کي ورسره په اخلاص اوښه نيت مرسته وکړي . .

دجهاد مشرانو اومسئولينو ته پکار ده چي دالله «ج» له خوا دورپه برخه شوي ستر عزت شکر ادا کړي اوپر ينږدي چي ددوي داشتباهاتو او لغزشونوله امله ديوي عظيمي فتحي دبربادي ستر خون ورپه غاړه شي .

دظاهرشاه دراوستو احتمالات ، بیلا بیل دریځونه ، دخطرناکی لوبی د پیل هڅی ....!

محمد نذیر « بشارت »

د۱۳٦٦ کال دژمي خبره ده ما او یوه بل ملګري مي دمجاهدینو له یوه مشر سره ملاقات کاوه، دهغه له خبرو څخه دیوه خطرناکي اوجنجالي راتلونکي پیشبیني کیده ، دهغه دخبرو ټول محور دا وچي امریکا اوروسیه دافغانستان په

غرب ظاهرشاه نه ددي لپاره غواړي چي واقعاً جګړه پاي ته ورسوي اونه ددي په خاطر چي زموږ دولس ستونزي حل شي بلکي غواړي له دي لاري مسلمان ملتونه مایوس کړي . دجهاد لار نیمګړي لاروښیي اوهغه رحجان چي داسلام اومجاهد روش ته دراګرزیدو لپاره په امت کي پیدا شوي وټکوي اوپرینږدي چي یو داسي حکومت جوړ شي چي دمبارزینو دوینو محصول وي اودهغوي دلاري اوهدف پالونکي . دادهغوي لپاره ډیر ستر اهداف دي .

قضیه له یو بل سره توافق ته رسیدلي ر دي اودي متیقن دي چي د « ملي پخلاتوب » او« اوربند » اعلان ددي ګډ سازش دپلي کولو لپاره دلاري پرانیستل دي

. دهغه مشر داتحلیل شاید پر هغه وخت یو څه مبالغه امیزه بریښیده ، خو وروستیو پیښو اوحالاتو وښوده چي دهغه په نظر کي پوره وزن و .

که څه هم دظاهرشاه دراوستو خبره کله دیوي پیښي له امله سره اودبل جریان په نتیجه کي بیاتوده شي مګر له ډیر پخوا راهیسي دامریکا او نورو غربي هیوادونو له خوا ورته په بیلا بیلو جهتونو کي منظم کارکیږ ي اودیوي مستمري پروسي بڼه لري .

پدي وروستیو کي روم ته دپاکستان دپوځ دقوماندان سفر داخبره بیا په ډیره ګرمي را پورته کړه چي دپخواني پاچا دراتلو احتمالات زیات شوي دي .

اوس زموږ له وطنوالو سره طبعاً دا پوښتنه توده مطرح ده چي آیا ظاهرشاه راځي ؟ څوك ئي غواړي ؟ دراوستو احتمال ئي څومره دي ؟ دمخالفت امکان ئي څومره دي ؟ دهغه دراتلو په صورت کي به زموږ دهیواد مستقبل څه وي ؟

موږ دپورتنیو پوښتنو دځواب لپاره دظاهر شاه دراوستو په برخه کي دبیلا بیلو لوریو پردریځونو او مختلفو فکتورونو خبري کوو :

الف : امریکا اوغربي هیوادونه :

امریکا او نور غربي هیوادونه په ټول قوت ظاهرشاه غواړي. اصلاً ظاهر شاه یعني دغرب داهدافو تمثیل- نن چي دظاهرشاه په نامه کومه مسئله مطرح ده ، هغه دغرب د زور اونفوذ داعظمي استعمال اودخپلو ګټو دساتلو دنهائي هاند نتیجه ده .

غرب ظاهرشاه نه ددي لپاره غواړي چي واقعاً جګړه پاي ته ورسوي اونه ددي په خاطر چي زموږ دولس ستونزي حل شي بلکي غواړي له دي لاري مسلمان ملتونه مایوس کړي . دجهاد لار نیمګړي لاروښیي اوهغه رحجان چي داسلام اومجاهد روش ته دراګرزیدو لپاره په امت کي پیدا شوي وټکوي اوپرینږدي چي یو داسي حکومت جوړ شي چي دمبارزینو دوینو محصول وي اودهغوي دلاري اوهدف پالونکي . دادهغوي لپاره ډیر ستر اهداف دي .

هغه کسان چي فکر کوي دافغانستان

دقضيي اهميت اوس امريكايانو ته كم شوي دي ډيره اشتباه كوي. البته په خپله امريكايان داخبره ديوه غرض لپاره كوي،هغه غرض دادي چي داقضيه بي اهميته وښيي ، خونور داسي فكر كوي چي له دي منطقي دروسيي او كمونيزم خطر نفي شوي او امريكا عملاً دنړي هغه ابرقدرت دي چي هرڅه كنترولوي، له دي امله نور افغانستان ته اړتيا نلري مگر دوي هيروي چي امريكا اوس يو درووند كار په مخ كي لري ، هغه دادي چي خپل دالوسني « يوقطبيت » وساتي،ځكه دامريكا داوسني « يوقطبيت » دتزلزل ورځ به د«شوروي اتحاد » په سرنوشت باندي دهغي دبدليدو نتيجه وي .

اوس په ټوله نړي كي په تيره اسلامي امت كي دامريكائي « استكبار» په وړاندي يوه كركه په راپورته كيدو ده ، اودهغه له كبر او « بدماشي » نه دنجات احساس په راټوكيدو دي ، او امريكا زياترباسي هغه ټول خطرونه چي د« فعل» په حالت كي دي وځپي اوهغه چي د« قوي » په حال كي دي شنډ كړي .

په داسي يوه وضعيت كي څوك منلاي شي چي امريكا دي هغي قضيي ته بي اهميته ووائي چي دهغه جهاد سرنوشت پكي ټاكل كيږي چي ديوي قهرجني امپراتوري دزوال او اضمحلال سبب شو اودمسلمانو ملتونو په وړاندي دنجات اوازادي دمبارزي يوه اساسي تجربه جوړولاي شي اوبيا د« مجاهد » حكومت پكي جوړيږي. شايد دافغانستان دقضيي په برخه كي دپخوا په پرتله دامريكا دسياسي تحرك ظاهري كمښت ددي ذهنيت په پيدا كولو كي اثر كړي وي چي گني افغان بحران ورته بي اهميته دي .

خوددي عوامل نوردي - يو داچي امريكايانو دروسانو تروتو وروسته زموږ په قضيه كي خپل تخريبي كار ښه په پراخه پيمانه وكړ ، پوره سرمايه گذاري ئي وكړه اودخپلي ورروستي نقشي لپاره ئي لومړني لاري چاري تر سره كړي .داسي چي اوس په ډيره اساني كولاي شي تخريبي عمل وكړي، له دي امله ئي ډير حضور اوتحرك ته اړتيا نشته .

دوهم دا چي دخليج تر جگړي وروسته امريكا عملاً دجهاني سياست په ډيرو برخو مسلطه شوه ، زموږ دقضيي په باب هم وضعه داسي بدله شوه چي روسيه دامريكا دسياست تابع شوه او دكابل رژيم دمرستي زياته برخه هم دامريكايانو په غاړه شوه ، دي موقعيت هم امريكا له دي بي نيازه كړه چي دافغان قضيي په برخه كي دپخوا په شان فعاله اودلگرمه معلومه شي .

مگر واقعيت دادي چي امريكا په ټول زور دظاهرشاه دراوستو لپاره تلاش كوي اوداني دجهاني سياست مهمه برخه ده .

ب : دايران اسلامي جمهوريت :

ايران اوس نه يوازي دظاهرشاه له راوستو سره موافق دي بلكي دهغه لپاره كار هم كوي .

ايران تر ډيره وخته په دي لټه كي و چي په مجاهدينو كي دنفوذ د ټينگولو له لاري دافغانستان په قضيه كي خپل نقش پياوړي كړي اوبيا هغه نقش ددي قضيي په حل كي دامتياز اتو دترلاسه كولو لپاره په كار واچوي .

ايران په ډير حرص دا كار وكړ او په ډير جرئت ويلاي شو چي كه دايران ټول خارجي سياست اوستراتيژي په همدي روحيه اوكيفيت وي نو ناكام ترين روش اوپاليسي ده . اوس دافغانستان په باب دايران سياست يوه نوي حالت ته رسيدلي هغه دا چي د مجاهدينو له ډلو څخه بيخي دمخ اوښتو په حال كي دي .مخكي ئي كه له احزابو سره مرسته پراخه هم نه وه اودهغوي له اهدافو سره ئي ژوره هم اهنگي اوپيوستون هم نه درلود خو په مختلفو ډولونو ئي تعلقات اوتريوه

په داسي يوه وضعيت كي څوك منلاي شي چي امريكا دي هغي قضيي ته بي اهميته ووائي چي دهغه جهاد سرنوشت پكي ټاكل كيږي چي ديوي قهرجني امپراتوري دزوال او اضمحلال سبب شو اودمسلمانو ملتونو په وړاندي دنجات اوازادي دمبارزي يوه اساسي تجربه جوړولاي شي اوبيا د« مجاهد » حكومت پكي جوړيږي. شايد دافغانستان دقضيي په برخه كي دپخوا په پرتله دامريكا دسياسي تحرك ظاهري كمښت ددي ذهنيت په پيدا كولو كي اثر كړي وي چي گني افغان بحران ورته بي اهميته دي .

حده مرسته ورسره کوله مګر اوس ئي تعلقات له مجاهدينو سره ساړه شوي اوله کابل سره ئي مخکيني پټې مرستي اواړيکي رسمي اوعلني بڼه غوره کړي ده .

دحزب اسلامي اړيکي لا پخوا ورسره خرابي شوي وي. که څه هم داړيکو د تودوالي يوه دوره ئي هم سره درلوده ، دمحترم استاد سياف روابط لا ان له پيله ورسره خراب دي - دخالص صاحب اړيکي خوورسره بالکل خړي پړي دي .

سړي هيڅ نشي منلاي چي دمحترم استاد رباني په څير هوښيار اوعالم سړي دي زموږ په قضيه کي د ايران په وروستي منفي نقش ونه پوهيږي خو داسي معلوميږي چي هغه دخپل سياسي مزاج اورواني جوړښت له مخي صراحت نه خوښوي اودريسك اوخطر سياست ته په هيڅ توګه په اساني زړه نشي ښه کولاي ، له دي امله ګوته ورته نه نيسي ، ددي تر څنګ دا هم نشي نفي کيداي چي ايرانيان پخپل خاص مهارت او چرب زباني د« ژبي» مسئله ورته يادوي اواستادني له خپلي خوا دتائيد په تمه کړي وي .

له محترم مجددي اوګيلاني سره ئي اړيکي ښي دي، هغه هم پدي چي دواړه له هغي پروسي سره موافق دي چي په افغانستان کي د« بنياد ګرو» پرځاي دظاهرشاه حکومت جوړ شي. داهل تشيع دجهاد ي دلو زياتي برخي لا له پخوا خپل مرکزونه پيښور ته انتقال کړي دي.هغوي دافغانستان په باب دايران له سياسته په تنګ شوي وو . ايران غوښتل په مطلقه توګه دي دلوته هغه نقش ورکړي چي په لبنان کي ئي ددوي او سورئي طرفداري مليشي لري.

، دهغوي په تشکيلاتو کي ئي افراطي تشبث کاوه او اصلاً ئي له هغو نه افغانئ سازمانونه نه، بلکي په افغانستان کي دايران دواکمنو دګټو تامينونکي جوړول . اوس دحزب وحدت دلوئي برخي په شمول ټول افغاني شيعه سازمانونه دخپل اصالت اواستقلال خبري کوي اودايران له سياست سره مخالفت ښيي.

خو معلومه نده چي آيا ايران دي سازمانونو ته په دي شاکړه چي نورئي دنقشي تقاضا داده چي نور ددوي له لاري دتخريبي نقش په ځاي دکابل له رژيم سره رسماً اوعلناً رابطه ټينګه کړي اوکه داهل تشيع سازمانونو له دي موضع څخه نا اميده شول چي له نجيب اوظاهرشاه سره روغي جوړي ته چمتو نه و .

ددي احتمال شته چي ايران دشيع جهادي سازمانونو پرځاي په افغانستان کي دخپلو ګټو دساتلو لپاره دکابل په رژيم کي دسلطانعلي کشتمند په څير کسان چي ظاهراً ځانونه شيعه ګانوته منسوب ګڼي غوره کړي وي .شايد ايران پدي فکر وي چي دهغوي دتقوئي له لاري هم ځانته يوه کتله جوړولاي شي اوهم دظاهر شاه دراوستو له پلان سره مرسته کولاي شي خودا فرصت به له لاسه ورکړي چي دمجاهدينو په رنګ او ليکوکي دظاهرشاه دراوستو په پروسه کي نقش ولوبوي .

ددي احتمال شته چي ايران دشيع جهادي سازمانونو پرځاي په افغانستان کي دخپلو ګټو دساتلو لپاره دکابل په رژيم کي دسلطانعلي کشتمند په څير کسان چي ظاهراً ځانونه شيعه ګانوته منسوب ګڼي غوره کړي وي .شايد ايران پدي فکر وي چي دهغوي دتقوئي له لاري هم ځانته يوه کتله جوړولاي شي اوهم دظاهر شاه دراوستو له پلان سره مرسته کولاي شي خودا فرصت به له لاسه ورکړي چي دمجاهدينو په رنګ او ليکوکي دظاهرشاه دراوستو په پروسه کي نقش ولوبوي .

ج : دپاکستان اسلامي جمهوريت :

داسي معلوميږي چي پاکستان دافغانستان دقضيي دحل لپاره په تلوار کي دي ، هغه غواړي چي په افغانستان کي د« سولي» دتحقق په صورت کي له هغي لاري دمرکزي اسيا له انکشافاتو ګټه واخلي ، پاکستان غواړي تاجکستان ، ازبکستان ، قزاقستان او ترکمانيه نه دافغانستان له طريقه دکراچي بندر ته لاروركړي ، دهغوي خام مواد را وارد کړي او دخپلو پخو موادو لپاره مارکيټ پيدا کړي .

دوي نه غواړي چي لومړي فرصت له لاسه ورکړي ، اوس نوي ازاد جمهوريتونه په داسي وضعه کي دي چي له يوي خوا شديد اقتصادي مشکلات لري ، له بل لوري دژوند په

بیلا بیلو اړخونو کي نویو ابتکاراتو ، تعلقاتو اوهڅوته اړتیا لري اوددي ترڅنګ دبي تجربګي له ستونزي سره مخامخ دي ، له دي امله که هر څوک اول وروراندي شول چانس به هغوي ګټي .

ممکن پاکستان وغواړي چي دانقلابیونو مخالفت وکړي اوپه داسي چاتوافق ته تر جیح ورکړي چي ددي جمهور یتونو کمونیستو واکمنو ته هم دقبول وړوي او داسي څوک پخواني پاچا ظاهرشاه ښکاري - له بل لوري پاکستان فکر کوي چي دظاهر شاه په ملاتړ به هم امریکایان تر یوه حده راضي کړي او دهغوي له ډیره فشاره به ځان خلاص کړي اوهم به دقضیي په ژر حل کي دهغوي مرسته راجلب کړي .

پاکستان شاید وغواړي چي پدي برخه کي ددي جمهوریتونو حکومتونو ته یو امتیاز هم ورکړي ، هغه داچي هغه حکومتونه دمجاهدینو په نسبت دکابل له کمونیستانو سره ډیره دلچسپي لري اوپه مجموع کي دمسلمانو انقلابیو نو سره چي اوس ورته « بنسټ پال» ویل کیږي، شدید مخالفت لري ، اوپه افغانستان کي دهغوي اقتدار دهغو مسلمانو انقلابیونو لپاره دپیاوړتیا داډي جوریده بولي کوم چي ددوي په خلاف په مبارزه لګیا دي .

ممکن پاکستان وغواړي چي دانقلابیونو مخالفت وکړي اوپه داسي چاتوافق ته تر جیح ورکړي چي ددي جمهور یتونو کمونیستو واکمنو ته هم دقبول وړوي او داسي څوک پخواني پاچا ظاهرشاه ښکاري - له بل لوري پاکستان فکر کوي چي دظاهر شاه په ملاتړ به هم امریکایان تر یوه حده راضي کړي او دهغوي له ډیره فشاره به

ځان خلاص کړي اوهم به دقضیي په ژر حل کي دهغوي مرسته راجلب کړي .

دپاکستان داقتصاد ددوهم وزیر سردار اصف علي داخرګندوني چي ځیني « بنیاد ګرایان » په افغانستان کي دسولي خنډ دي ، په روم کي دظاهرشاه له زوم سره د پاکستاني پوځ دقوماندان جنرال اصف نواز ملاقات او دافغان جهاد دمضبوط پلوي جنرال حمید ګل متقاعد ول دپاکستاني مقاماتو له نوي نظره نمایندګي کوي .

حمید ګل دقوي اسلامي احساساتو خاوند جنرال دي ، دپاکستان په اردوکي له پوره نفوذه برخمن دي اودهغه رجحان قیادت ئي کاوه چي باید پاکستان دامریکا په وړاندي بیدار واوسي او په افغانستان کي دمجاهدینو دحکومت جوړیدو ملا تړ وکړي .

نوموري سره له دي چي په رسمي توګه ئي دافغانستان له قضیي سره رابطه کمه وه خو په پوځ کي ئي دنفوذ له امله پکي ښه نقش درلود . ددي هیواد دپوځ پخواني قوماندان اسلم بیګ ئي له نظریاتو متأثرو ، له دي امله ئي د«افغان سیل» غړي کړ اوپدي برخه کي ئي نظریاتو ته پوره درناوي کاوه . وائي چي اسلم بیګ دخپلو امریکائي ضد نظریاتو له امله دامریکا یانو دفشار له امله تقاعد کړای شو اوپر ځاي ئي اوسني قوماندان اصف نواز دامریکا یانو په مشوره رامنځ ته کړای شو .

داصف نواز په باب ویل کیږي چي دي دغرب په وړاندي نرم دریځ لري .

جنرال حمید ګل چي ترخپل تقاعد وروسته دخبریالانو دډیر تمینګارله امله دخپل تقاعد دعواملو په باب کومه لهجه کارولي وه ، هغه په ډاګه ښیي چي نوموړي دامریکا دخوشحالولو ښکار شوي دي ، هغه ویلي چي تر ټولو کمه ازادي داده چي انسان « بیدار » واوسي ، خو ځیني طاقتونه دانه غواړي چي مسلمان دي بیدار وي ، زما جرم دادي چي داسلام اوخپل وطن لپاره بیدار یم . بیا په الجزایر اونورو ځایوکي داسلام غوښتني دغورځنګ اودمسلمانانو دبیداري په وړاندي روانو ناروااوو ته اشاره کوي .

دابښیئي چي حمیدګل ته تقاعد ورکول دنویو احتمالي انکشافاتو دمقدمي یوه برخه ده .

که څه هم ویل کیږي چي نوازشریف دمجاهدینو ترعکس العمل وروسته دظاهرشا دراوستو مخالف شوي اوپدي باب ئي قاضي حسین احمد ته ډاډ ورکړي دي خو ددي احتمال کمزوري دي ځکه نواز شریف دیوه سیاسي حکومت په رأس کي دي چي له یوي خوا غواړي دمقطعي ګټو سیاست ته ترجیح ورکړي ، چي حکومت داقتصادي مشکلاتو په حل بریالي شي اوله بل

لوري دستراتيژيکو اهدافو لپاره دخطرناك سياست قبلول ورته گران دي .

دا سمه ده چي پوځ په پاکستان کي لوي اواساسي قدرت لري ، مگر نواز شريف ته گرانه ده چي په سياست کي له خپل مخالفت سره سره دهغه دومره لاس وهنه ومني ، اودومره ستر اختلاف دي تحمل کړاي شي ، داخبره دخليج دجگړي پروخت وازمويله شوه . دپوځ يو نظر واودحکومت بل ، ملت هم دپوځ نظرتائيد اوه ، دا اختلاف بيخي علني شو ، په پټو جلسو کي دپوځ مشرانو نواز شريف ته گواښونه هم وکړل خودهغه ځواب داو چي زه چمتويم استعفي وکړم مگر دخليج په باب له خپل غوره کړي سياست څخه نه اوړم .

شايد نوازشريف پر افغان قضيه دنوي سياست داختيار ولو لپاره پوځ پدي خاطر خوښ کري وي چي په صحنه کي راوړاندي وي چي : الف : دخپل سياست بدلون جدي وښيئ ، ځکه داذهنيت خپور وچي خارجه وزارت له پخوا ډلسي دسياسي حل غوښتنه کوله خو پوځ مخالفت کاوه، اوس غواړي وښيئ چي پوځ هم پدي لارکي پيشقدم دي .

ب : دنواز شريف حکومت په « اسلامي جمهوري اتحاد » کي له خپلو متحدينو سره متعهد دي چي افغان سياست به ني دمجاهدينو په گټه وي. په متحدينو کي دجماعت اسلامي په څير منظم ، مضبوط اودحکومت دړنگولو دبني تجربي خاوند سازمان هم دي چي دنواز دحکومت دملاتړ يو مهم عامل له افغان جهاد نه دهغه ملا- تړ گڼي ، نواز شريف پدي توگه دهغو فشار په ځان کموالي شي چي دافغان سياست بدلون دپوځ کار وښيي.

که پاکستان پدي بدلون کي جدي وي ، نو يوه خطرناکه لوبه کوي . پاکستان اوس بي شکه په افغانستان کي قوي نفوذ اودوستان لري ، خو هغه قوتونه چي پاکستان پري سرمايه گذاري کړي يوه نظريه لري ، له يوه نظامي ـ اجتماعي قوت، نړيوال وجاهت اوپرستيژنه برخمن دي، هغوي په هيڅ توگه داتوهين نشي قبولولاي چي دپاکستان دگټو لپاره يادهغه دفشار له امله دي په خپلو مشخصاتو ، اهدافو او پرستيژ بيخي لوبي وکړي ، داځواکونه چي نن سبا ورته « بنياد گرا » وائي دظاهرشاه دراتلو په صورت کي هم په نظرياتي لحاظ دمقابلي لپاره اساس لري ، هم قوت ورسره دي اوهم له مقاومته پرته بله لار نلري.

نو پدي صورت کي دپاکستان اوهغوي ترمنځ رابطه عادي نشي پاتي کيداي ، دابه حتماً ددښمني حالت ته انتقاليږي ، بيا به پاکستان ته دافغانستان په قضيه کي پدي پيمانه امتياز ورکول کيږي چي څومره دهغوي (بنياد گرايانو) په ځپلو کي مرسته کولاي شي.

دا به پاکستان ته څو خطرونه لري ، ١- له افغاني مسلمانو انقلابيونو سره دښمني ٢- په اسلامي نړي کي دپاکستان حيثيت ته ضربه ٣- په پاکستان کي دانقلابيونو دپلويانو پراخ مخالفت ٤- په افغانستان کي دهغه څه له لاسه ورکول دکوم پربنياد چي پاکستان ته امتياز ورکول کيږي .

کله چي د« بنياد گرايانو » قوت وځپل شو ، پاکستان ته به بيا افغانستان هغه افغانستان وي چي پرون و . شايد دا حتمي نه وي خوددي تضمين به نه وي چي افغانستان دي يو ځل بيا دنورو په لاس دپاکستان پر ضد استعمال نشي .

ددي تر څنگ په ا ساني سره دجگړي ختم هم ممکن ندي ، پدي صورت کي دمرکزي اسيا لپاره چي پاکستان کوم پلان لري دهغه عملي کيدل هم گران دي ، شايد ددي مسايلو په پام کي نيولو سره پاکستان دظاهر شاه دراوستو په پروسه کي تر پايه گډ پاتي

جنرال حميد گل چي ترخپل تقاعد وروسته دخبريالانو دډېر ټينگارله امله دخپل تقاعد دعواملو په باب کومه لهجه کارولي وه ، هغه په داگه ښيي چي نوموړي دامريکا دخوشحالولو ښکار شوي دي ، هغه ويلي چي تر ټولو کمه ازادي داده چي انسان « بيدار » واوسي ، خو ځيني طاقتونه دانه غواړي چي مسلمان دي بيدار وي ، زما جرم دادي چي داسلام اوخپل وطن لپاره بيدار يم .

نشي

د : روسیه اونوي ازاد شوي جمهوریتونه :

فدرالي روسیه اوس دامریکا له یوه پوره متحده پرته بل حیثیت نه لري .

> که پاکستان پدي بدلون کي جدي وي ، نو یوه خطرناکه لوبه کوي . پاکستان اوس بي شکه په افغانستان کي قوي نفوذ اودوستان لري ، خو هغه قوتونه چي پاکستان پري سرمایه گذاري کړي یوه نظریه لري ، له یوه نظامي ـ اجتماعي قوت، نړیوال وجاهت اوپرستیژنه برخمن دي، هغوي په هیڅ توگه داتوهین نشي قبولولاي چي دپاکستان دگټو لپاره یادهغه دفشار له امله دي په خپلو مشخصاتو ، اهدافو او پرستیژ بیخي لوبي وکړي ،

په نویو ازادوشو یو جمهوریتونو کي له افغانستان سره گاونډي دوه جمهور یته ازبکستان اوتاجکستان دي، ازبکستان په ټولو جمهوریتونو کي څواکمن اوپر نفوسه دي، هغه دکابل له رژیم سره مرسته کوي. جمهور رئیس ئي « اسلام کریموف» دي چي پوخ کمونیست بلل کیږي.

دتاجکستان حکومت دنجیب له رژیم سره ژوره همدردي لري،که څه هم هلته دمحمد شریف زید"همت" ترقیادت لاندي یوقوي اسلامي حرکت موجود دي.خو حکومت دخطر په سترگه ورته گوري او اسلامي بنیاد گرائي خپل هیوادته ناوره گني .

پدي توگه زموږ دشمال گاونډیان هم دظاهر شاه دتائید په پروسه ورگډ گڼل پکار دي .

هـ : مجاهدین :

دمجاهدینو لویه برخه دظاهر شاه دراوستو مخالفه ده. هغوي ظاهر شاه دخپل فکر اوروحیي مخالف گڼي اوپدي پوهیږي چي دظاهرشاه راتگ ددوي دجهاد دایجاد کړیو ارزښتونو ختمول دي اودهغه هدف په خاورو خښول دي کوم چي ددوي « مقاومت » جهادکړي او مرگ ئي « شهادت » کړي دي .

له دوي سره داغرور دي چي جگړه ئي کړي اوروسیه ئي ماته کړي ده،هغوي دا احساس لري چي هغه څوک چي پرون دجگړي پروخت « ارام» ناست وو ، څه حق لري چي نن پر دوي حکومت وکړي .

هغوي نه دومره ستومانه دي چي له هر څه تیر شي اونه دومره وارخطا چي په ځان کي دي دخپلي قضیي دحل له قوته مایوس وي .

هغوي عملاً دتولني قیادت په لاس کي لري ، گرانه ده چي دخارجیانو غوښتنه اودهغوي دخوښي اوفشار لپاره له هغه تیرشي .

کوم قوتونه چي په افغانستان کي دظاهرشاه مخالفت کوي هغوي په نظریاتي او روحیاتي لحاظ دجگړي اومقاومت ښه انرژي لري ، هغوي تر بل هر وخت اوس دظاهر شاه شدیده مقابله کوي .

داڅکه نن چي په جهاني سطحه امریکا دمسلمانانو نهضتونو اوا سلامي قوتونو پر ضد څه کوي ، هغه دخصومت بدترین شکل دي او داسي معلومیږي چي په نړي کي ئي اساسي ترین دښمن مسلمان مبارزین اودبیدار احساس خاوند مسلمانان دي . نومسلمان انقلابیون چي دظاهرشاه په بڼه کي دامریکا پلان دځان په ضد راروان گڼي په هغي کي دخپلي نظرئي لپاره اختناق او دخپل سیاسي ـ انقلابي موجودیت لپاره مرگ گوري ، هغوي پوهیږي چي نني ظاهرشاه به حتي هغه پروني ظاهرشاه هم نه وي بلکه تر هغه به ددوي لپاره ډیر بد تر او په مطلقه توگه دنوي یهودي جهاني سیستم لپاره دمسلمانانو دځپلو حربه وي .

بل داچي غرب به چي دډیموکراسي اوانتخاباتو کومي چیغي وهلي هغه اوس دمسلمانانو لپاره ډیر ناوړه استبداد او دیکتاتوري په بڼه کي مطرح ده .په الجزایر کي چي دمسلمانانو دانتخاباتو گټلو په وړاندي څه کیږي هغه ترخه تجربه ئي په مخ کي ده ، اوس دوي په دي پوهیږي چي سبا هم چي خپل حق اخلي څوک ئي په قانوني

متوګه نه ورکوي بلکي په زور به ئي ترلاسه کوي ږ داکار نن ولي نه کوي چي عملاً دزور داستعمال په موقعیت ګي‌هم دي .

دریم دا چي اسلامي نړي اوس دامریکا دعزايمو په نسبت ډیره بدګومانه ده، دمسلمانانو په زړونو کي له امریکا نه کرکه ډیره اوج ته رسیدلي ده نن که دظاهرشاه په مقابل کي مقاومت کیږي اوددي په وراندي مقابله کیږي چي امریکا غواړي هغه زموږ پرملت وتپي ،په عامو اذهانو کي ددي مقاومت اومقابلي « مشروعیت » او « په حقه توب » بل هیڅ وخت هم دومره نه تثبیتیده .

څلورم داچي دپخواني روسیي او امریکا ترمنځ دسړي جګړي ترختم وروسته داذهنیت عام کړاي شو چي ګني نوردجګړو وخت تیردي. نړیوالي لانجي به په خبروحل کیږي اوحتي د وسلو ارزښت په کمیدو دي ، مګر دامریکا جنګ افروزانه سیاستونو او دزور منطق دا ذهنیت دیر ژر ختم کړ ، اوس ګورو چي په نړي کي تر پخوا زیات دوسلي دترلاسه کولو میلان زیات شوي اودخپل ځان ددفاع اوخپل حق دګټلو لپاره او دزور دمنطق دماتولو لپاره جنګ ته دچمتو کیدو ګرایش قوي شوي دي ، له دي امله دخپلو حقوقو داحقاق لپاره دمقاومت منطق یو « غریب » اونامانوس منطق ندي . افغانستان ته دظاهر شاه راوستل دیوي خطرناکي لوبي دپیلولو هڅه ده. .نن به دظاهرشاه داسي په شدت مقابله

کیږي او قهرامیزه برخورد به ورسره کیږي چي پخوائي احتمال دومره نه و . که دظاهر شاه ضد قوتونه خپل صفونه منظم کړي اوپه یوه جبهه کي سره ودریږي نو دظاهرشاه حکومت به له خپلي ټولي خارجي پشتوانی سره سره ډیر ژر نسکور وي ، خو که داهم ونشي یعني ټول ظاهرشاهي ضد ځواکونه سره په یوه جبهه کي راغونډ هم نشي نو یوه اوږده خونړي جګړه حتمي ده چي په خپله لمن کي ډیر څه سوځولاي شي .موږ هغو افغانانو ته چي دخپل وطن اوولس غم ورسره دي اوهغو دوستانو ته چي داسلامي امت له مصالحوسره زړه سوي لري داویلاي شو چي دظاهرشاه دراوستو له لاري پـه

خوشباوري نه ده پکار ، داسمه ده چي دوي په اوسني حالت کي هم مقاومت کولاي شي ، خو چي واحده جبهه جوړه نکړي او دولس اونړي دي پوښتني ته ځواب ونه مومي چي څه عملي طرحه لري، جګړه به وکړي خودبري ترلاسه کول ئي ګران بریښي .

پدي کي شك نشته چي زموږ په هیواد کي جهادي احزاب مسلم طاقتونه دي ، مګر داهم هیرول ندي بکار چي زموږ ولس د سولي راتلو اودجګړي ختمیدوته اړتیالري،هغه به داراسره ومني اووبه ئي ګالي چي دجګړي دپاي ته رسولو اوسولي دتحقق په لارکي بهرني لاسونه خنډونه جوړوي مګر دي بوښتني ته به ئي څه ځواب وي چي

در صورتیکه دشمن حاضر به پذیرفتن خواسته هاي اساسي ما نباشد دوام مذاکرات بي نتیجه روحیه دشمن روحیه باخته را تقویت ساخته وخواسته هاي دشمن بالا میرود که به خاطر دوباره پائین آوردن آن باید محکمتر جنگید وبدین ترتیب برتعداد تلفات خود خواهیم افزود .

افغانستان کي دسولي تأمین ډیرګران دي ، دا د ټولو لپاره ستونزي ایجاد- وي ، ددي پرځاي ددي احتمالات ډیر زیات اوروښانه دي چي دمجاهدینو ترمنځ داعتماد دایجاد لپاره کار وشي او پریښودل شي چي دشرافت په فضا کي په یوه معقوله لار توافق وکړي اودقضیي دعادلانه حل فرصت مساعد شي .

خوددي خبري یادونه ضروري ده چي دظاهرشاه ضد احزابو اوقوتونو ته هم

داقوتونه چي ملت صبراومقاومت ته رابولي اوددیسو مقابلي ته ئي راغواړي اوپدي برخه کي تري دهوښیاري او قرباني غوښتنه کوي ولي یوه مشخصه طرح نلري ، ولي په یوه واحده جبهه کي سره نه دریږي اوولي ددي عملي ثبوت نه ورکوي چي واقعاً دیوه درد ، نظرئي اوارمان لپاره مخالفت او مقاومت کوي نه دسیاسي ګټو اوشخصي اهدافو لپاره ؟

دظاهر شاه له زوم سره داصف نواز کتنه

دجنوري په ۵مه دپاکستان مشهوري « جنګ » ورځپاڼې په لومړي مخ دغتو توريو په عنوان يو رپوټ خپور کړ . پدې رپوټ کي ويل شوي و چي « له باوري منابعو څخه معلومه شوي ده چي په افغانستان کي دبيلا بيلو اطرافو ترمنځ ديوه داسي حکومت په جوړيدو توافق شوي چي دپخواني پاچا ظاهر شاه په ګډون به دمجاهدينو برخه هم پکي وي .« جنګ» چي له خپلو منابعو کوم معلومات ترلاسه کړي ، هغه وائي چي «بالاخره پاکستان دروسيي او امريکا له دي طرحي سره موافقه کړي چي پخواني پاچا دي دافغانستان دانتقالي حکومت رئيس وټاکل شي اواستاد برهان الدين رباني دي دمجاهدينو دنماينده په توګه صدراعظم شي ، ددي منابعو له نظر سره سم دکابل رژيم مشر ډاکتر نجيب به هم پدي پيشنهاد شوي طرحه کي ګډون لري ، اوپه حکومت کي به هغه ته هم نمايندګي ورکوله کيږي، خودانده معلومه شوي چي دډاکتر نجيب منصب به څه وي- اوپدي لړ کي به د پاکستان د پوځ قوماندان جنرال اصف نواز تر امريکا مخکي روم ته هم سفر وکړي. »

دا رپوټ پداسي وخت کي خپور شو چي يوه پاکستاني هيأت دمرکزي اسياجمهوريتونو له ۲۱ ورځني سفر نه تراستنيدو وروسته داخبره ډيره توده کړي وه چي پاکستان له نوموړيو هيوادو سره دخپلو اړيکو دپراخوالو لپاره اړتيا لري چي دافغانستان قضيه ژرحل کړي ، ددي هيأت نظر دپاکستان په خارجه وزارت کي دا ذهنيت پياوړي کړ چي نه يواځي دافغان بحران دسياسي" حل لپاره په چټکتيا کاروشي ، بلکي پاکستان ته پکار ده چي په دي حل کي دازبکستان ، تاجکستان اوقزاقستان دجمهوريتونو نظرته درناوي وکړي ، هغه نظر چي په واضح توګه ئي تر مجاهدينو ، دکابل رژيم لوري ته ميلان زيات دي .

په زياتره حلقو کي روم ته دجنرال آصف نواز سفر ته په جدي سترګه وکتل شو ، اوهغه ددي نښه اومقدمه وبلله شوه چي پاکستان دامريکا دمرستو اوتوجه دترلاسه کولو لپاره دڅه معاملي کولو تصميم نيولي دي .

روم ته دجنرال اصف نواز سفر او هلته ئي دخپل هيواد په سفارت کي دظاهرشاه له زوم سردار ولي سره کتني لويه هنګامه رامنځ ته کړه ، هغه دمخکنيو څرګندونو اوتحليلو نو عملي شاهد اودپاکستان د دريځ واضح بدلون وبلل شو .

جنرال اصف نواز غوښتل چي په خپله ظاهرشاه وګوري مګر دپروتوکول په سر اختلاف مشکل ايجاد کړ ،داسي چي دظاهرشاه قصر ته ورتګ پاکستاني جنرال نه غوښتل اودپاکستان سفارت ته ورتلل ظاهر شاه.له دي امله داصف نواز او سردارولي ترمنځ مختصره ليدنه وشوه .

دجنرال اصف نواز داحرکت ډيري پوښتني راولاړي کړي ، دبي بي سي راډيو پښتو اوفارسي سرويسونو هغه د پاکستان دسياست څرګند تغيير اودافغان قضيي دنوي حالت اونوي دوري په لوري ګرندي اوجدي پر مختګ وباله .

داسفر دظاهر شاه پلويانو ئي ستاينه وکړه . دکابل رژيم تقدير کړ اوپه مجموع کي د« بنياد ګرايانو» سياستونو اواهدافو ته ضربه وګڼل شو.

دجنوري په ۷مه محترم « حکمتيار» په ځاځيو کي يوه مطبوعاتي کنفرانس ته وينا وکړه هغه په دي کنفرانس کي دپاکستان دسياست دبدليدو خبري وکړي او دظاهر شاه له نماينده سره ئي داصف نواز په کتنو اعتراض وکړ .

د «حکمتيار» خبري غربي راديو ګانو په ښه اب وتاب خپري کړي .

تردي وروسته داهنګامه لا تاوده شوه چي پاکستان دظاهر شاه په راوستو توافق کړي دي . اودي ذهنيت دهغوي جهادي حلقو کلك عكس العمل راوپاراوه چي دظاهرشاه دراوستو مخالفت کوي . دپاکستان خارجه وزارت مجبور شو چي په دي مفهوم يوه توضيحي اعلاميه صادره کړي چي پاکستان نه دکوم خاص شخص دراوستو لپاره کارکوي اونه ئي

دمخنیوي لپاره اوله ظاهر شاه سره ددوي رابطه کومه نوي خبره نده بلکي دپخواني لړي ادامه ده .

په زیاتره حلقو کي روم ته دجنرال آصف نواز سفر ته په جدي سترگه وکتل شو ، اوهغه ددي نښه اومقدمه وبلله شوه چي پاکستان دامریکا دمرستو اوتوجه دترلاسه کولو لپاره دځه معاملي کولو تصمیم نیولي دي . جنرال اصف نواز مخکي تردي چي امریکا ته ولاړشي ځیني حرکتونه وکړل چي امریکا ته دشنو چراغونو ورکول وو ـ سره له دي چي په پاکستان کي داپوزسیون دمشري بي نظیر بوټو اړیکي ددي هیواد له جمهور رئیس غلام اسحق خان سره دخرابوالي په اوج کي وي . او ځوورځي وړاندي ئي په پارلمان کي دهغه دوینا پروخت افراطي اوغیر معمول عکس العمل ښودلي و، یوه قبایلي مشر چي داصف نواز دوست دي په اسلام آباد کي میلمستیا وکړه ، دي میلمستیا ته بي نظیر بوټو هم راغوښتله شـي وه او چوکي ئي داصف نواز جنجوعه په خواکي ایښودله شوي وه جنرال جنجوعه اوبي نظیر بوټو دډیر صمیمت اوگرمي په فضا کي له یوبل سره اوزد روغبړ او خبري اتري وکړي .

مبصرینو دجنرال اصف نواز داحرکت داسي تحلیل کړ چي غواړي امریکا ته تر تلو دمخه امریکا یانوته داسي وښیي چي دي په ټول هیواد پوري اړه لري اویواځي دیوه خاص سیاسي رجحان اوقوت نمایندگي نه کوي اوپه دي خبره غرب ته ووایي چي دهغوي له دلخواه سیاسي شخصیت یعني میرمن بوټو سره ځه ستونزه نلري .

دوهم قدم ئي دتورن جنرال حمید گل دتبدیلي پورته کړ .

حمید گل دضیاالحق شهید په وروستیو دوو کلونو کي د اي ، ایس ، اي اداري مسؤل و .

نوموړي دغربي حلقو له خوا په دي تورنیده چي هم په پاکستان کي اوهم افغانستان کي دبنیادگرایانو داقتدار لپاره کارکوي . په پاکستان کي دبي نظیر بوټو دگوند پرخلاف داسلامي جمهوري اتحاد دجوړیدو لوي نقش هغه ته منسوبوي او دضیاء الحق دسیاسي تگلاري اوستراتیژي مظبوط پلوي ئي بولي ، دوه کاله دمخه ئي غرب پر ضد لوي تبلیغاتي کمپاین شروع کړ اوهغه ئي پدي متهماوه چي دافغانستان دقضیي دنظامي حل غوښتونکي دي اود« بنیادگرایانو » ملاتړي ، ددي تبلیغاتو له امله هغه بنه نړیوال شهرت ترلاسه کړ بالاخره بي نظیر بوټو داي، ایس ، اي - داداري له مشرتابه برطرف کړ . البته په ظاهري اعزاز ، یعني د برید جنرالي له رتبي ئي تورن جنرالي ته لوړ کړ . چي وروسته دپوځ دهغه وخت دقوماندان جنرال میرزااسلم بیگ له خوا دملتان قول اردو چي دپاکستان دپوځ په تشکیلاتو کي زيات اهمیت لري قوماندان وټاکل شو، نوموړي دپاکستان په اردوکي داسلامي نظریاتو اووطندوستانه احساساتو ددرلودونکي شخصیت په توگه مطرح دي ، امریکا ورته « بنیاد گر» وائي جنرال اصف نواز جنجوعه دخپل سفر تر پیل دمخه هغه په عاجله توگه دقول اردو له قوماندانی لري کړ .

داهم ددي هڅه وگڼله شوه چي جنرال جنجوعه غواړي ځان امریکایانو ته د « بنیاد گرایانو » مخالف وښیئ .

په روم کي دجنرال جنجوعه تم کیدل اوله سردارولي سره ئي ۲۰ دقیقي خبري ددي لړ ي یوبل گام و که ځه هم شل دقیقي ډیر کم وخت دي په هغه کي پر زیاتو شیانو خبري نشي کیداي . مگر دا یوسمبولیک حرکت وچي پاکستان غوښتل امریکایانو ته داوښیئي چي دافغان بحران په باب په خپل دریځ کي تجدید نظر ته چمتو دي اوکیداي شي دامریکا دپلان له مخي قدم واخلي .

په روم کي دجنرال جنجوعه تم کیدل اوله سردارولي سره ئي ۲۰ دقیقي خبري ددي لړ ي یوبل گام و که ځه هم شل دقیقي ډیر کم وخت دي په هغه کي پر زیاتو شیانو خبري نشي کیداي . مگر دا یوسمبولیک حرکت وچي پاکستان غوښتل امریکایانو ته داوښیني چي دافغان بحران په باب په خپل دریځ کي تجدید نظر ته چمتو دي اوکیداي شي دامریکا دپلان له مخي قدم واخلي .

اصف نواز جنجوعه امریکاته تر رسیدو وروسته دخپل هیواد په سفارت کي دمیلمستیا په ترځ کي دیوه خبریال دپوښتني په ځواب کي وویل چي دي له دي امله په روم کي پاتي شو چي یو خو له پاکستانه تر امریکا ۲۲ ساعته مزل ډیر ستومانوونکي دي اوبل دایتالیا دپوځ قوماندان چي ځه موده دمخه ئي پاکستان ته سفر هم کړي و دده دوست دي .له هغه سره ئي لیدل غوښتل .

خودجنرال جنجوعه دي خبري ځوک قانع نکړاي شو ، اوددي سفر یواځیني هدف دافغانستان دقضیي دحل لپاره دامریکا ددریځ اونقشي منلو ته دتیاري چراغ ورکول و .

دافغانستان دقیادت لپاره په ظاهرشاه لاس ایښودل له ډیر پخوا راهیسي دنورو هیوادو په ځیر دپاکستان له واکمنو سره هم مطرح ده یو وخت چي جگړه په

وحشتناك شدت روانه وه ، روسانو وروستي زور ازمايه ، اوقوت ئي لا په ماتيدونه بريښيده .دضياء الحق په ګډون زياتره حكومتي اشخاص او اورګانونه دي ته چمتو وو چي كه روسيه له افغانستان وځي اودكمونيستانو اقتدار پا ي ته رسيږي دظاهرشاه په زعامت دي توافق وشي . ان تردي چي يو وخت ضياالحق شهيد دجهادي احزابو له مشرانو سره په خپله يوه داسي طرحه خبري كولي چي دمجاهدينو له مشرانو اوپه غرب كي دظاهرشاه له طرفدارو ميشتو افغانانو دي يوه ګډه شوري جوړه شي .ددي معني دظاهرشاه دزعامت لپاره دلاري پرانيستل و ، په هغه غونډه كي دمجاهدينو يو تن مشر محترم « حكمتيار» ددي طرحي په وړاندي خپله نارضايتي ښكاره كړي وه ، چي په نتيجه كي دهغه اوضياءا لحق ترمنځ څه ترخي خبري هم تبادله شوي وي مګر كله چي ضياء اودپاكستان پوځ ته دخپلو باوري منابعو له لوري داربوټ وركړ شو چي روسان نور په افغانستان كي دمقاومت له ټكولو مايوس شوي دي او په هرحالت چي وي خپل پوځونه باسي دظاهرشاه دزعامت خبره ئي له خپلي نقشي وايسته .

خو خارجه وزارت ئي لاپه پخواني نظر ؤ . هغوي وتوته دروسانو چمتو كيدل لويه موقع ګڼله اودروسانو چي په هغه وخت كي كوم رعب په نړي پروت و دهغه په پام كي نيولو سره پدي نظر وچي كه پاكستان دريځ سخت كړي دابه ديوه ابرقدرت زيات توهين ته ملاتړلي وي او داكيداي شي خطرناك عواقب ولري .

دپاكستان پخواني خارجه وزير يعقوب خان دامريكا دهغه وخت خارجه وزير جورج شولتز ته ويلي و چي هسي موله دي قضيي خلاص كړي نه عبوري

دافغانستان دقيادت لپاره په ظاهرشاه لاس اينودل له ډير پخوا راهيسي دنورو هيوادو په څير دپاكستان له واكمنو سره هم مطرح ده يو وخت چي جګړه په وحشتناك شدت روانه وه ، روسانو وروستي زور ازمايه ، اوقوت ئي لا په ماتيدونه بريښيده .دضياء الحق په ګډون زياتره حكومتي اشخاص او اورګانونه دي ته چمتو وو چي كه روسيه له افغانستان وځي اودكمونيستانو اقتدار پا ي ته رسيږي دظاهرشاه په زعامت دي توافق وشي .

حكومت غواړو او نه بل شرط لرو خو ضياء الحق اوپوځ دنظامي تحليل له مخي پدي پوه شوي وو چي روسانو په واقعي مفهوم اووروستي معني ماتي خوړلي ده اونور په اساني سره دشرارت جرئت نشي كولاي .

اوبايد هڅه وشي چي په افغانستان كي داسي حكومت جوړ نشي چي له پاكستان سره دپخوانيو تر خواږيكو تجربه بيا تكرار كړي .

دانظر له پوځ سره تر اوسه پاتي و .

داخبره په پراخه توګه افشا هم شوه چي دپاكستان خارجه وزارت ، سياسي حلقي اوبيروكراتيك ځواك دافغانستان قضيي ته له يوي ديدګاه ګوري اوپوځ له بلي .

همدارازپه يوه مجلس كي ئي دمجاهدينو دځو مشرانو ددي اعتراض په ځواب كي چي تاسي ولي عجله كوي اوخپله دځوكالو خواري ضايع كوي ويلي و چي موږ تر ارګه ستاسي دبدرګي مسئوليت نه لرو .

له سردار ولي سره دجنرال جنجوعه كتنه له دي امله مهمه وه چي يو خوپه هر حالت كي په پاكستان كي اصلي قدرت له پوځ سره دي چي كله پوځ څه كول غواړي په هغه جدي حساب كيږي .

دوهم داچي لكه مخكي مو چي وويل داسي ذهنيت وچي پوځ دظاهر شاه دراوستو مخالف دي ، اصف نواز غوښتل دسردارولي په ليدو دا ذهنيت بدل كړي .

او پدي دول غرب ومني چي پاكستان دظاهرشاه له راوستو سره موافق دي .پاكستان غوښتل پدي چارو سره له امريكا نه دكال شپرسوه مليونه ډالره مرستي ترلاسه كړي ، ايف ١٦ الوتكي چي بيه ئي هم وركړي تري واخلي اونور هغه فشار چي په بيلا بيلو بڼو دامريكا له لوري په پاكستان پروت دي ختم كړي .

خو معلوميږي چي اصف نواز په خپل هدف كي بريالي نشو اوامريكايانو ورسره ډير سوړ برخورد كړي دي ، په هغو ورځو كي چي دي په امريكا كي و دامريكا دپارلمان يو متنفذ غړي « پريسلر» دهند په سفر بوخت و ، بيا له هغه ځايه پاكستان ته راغي ، په پاكستان كي ئي له جمهوررئيس اوصدراعظم نه دملاقات وخت وغوښت ، خو هغوي ئي له كتو ډډه وكړه ، ددي كار دوه عوامل بيانيدل يو په هند كي دپاكستان په باب دهغه خصمانه وينا اوبل له اصف نواز سره دامريكا يانو سوړ چال چلن .

اوس دا پوښتنه مطرح ده چي آيا پاكستان په رښتيا غوښتل چي له امريكايانو سره پرافغان بحران څه اساسي سازش ته تن وركړي ، اوكه ئي تاكتكي حركت كاوه .

اوغوښتل ئي ديو لږ شكلي ګامونو په پورته كولو سره له امريكا سره

دخپلو اړیکو دبیرته ښه کولو هڅه وازموئي .

ترکومه چي موږ فکر کوو پاکستان په دواړو حالتو کي اشتباه کوله .زما په نظر دپاکستان لپاره اوس دضیاء الحق هغه روش زوړ شوي .دي چي په ځیني تاکتیکي حرکتونو به ني دامریکا با ور تر لاسه کاوه خو

> ان تردي چي یو وخت ضیاالحق شهید دجهادي احزابو له مشرانو سره په خپله یوه داسي طرحه خبري کولي چي دمجاهد ینو له مشرانو اوپه غرب کي دظاهرشاه له طرفدارو میشتو افغانانو دي یوه ګډه شوري جوړه شي .ددي معني دظاهرشاه دزعامت لپاره دلاري پرانیستل و ، په هغه غونډه کي دمجاهدینو یو تن مشر محترم « حکمتیار» ددي طرحي په وړاندي خپله نارضایتي ښکاره کړي وه ، چي په نتیجه کي دهغه اوضیاءالحق ترمنځ څه ترخي خبري هم تبادله شوي وي

ستراتیژي به ني خپله وه ، چي په لري واټن کي به ني دامریکا له ګټو سره تصادم درلود .

هغه داسي وخت و چي امریکا دکمونیستي امپراتوري په څیر قهرجن اوخطر ناک رقیب درلود ، او تر ډیره حده ني ګټي په جنوبي اسیا له پاکستان سره یووي خو اوس وضعه بیخي بدله ده .

که پاکستان غوښتل چي له امریکا سره په افغان بحران اساسي سازش وکړي او بڼدي بیه دي دهغي مرستي اودوستي راجلب کړي هم ني غلط فکر کړي ، ځکه اوس چي امریکا په نړي کي کوم موقعیت لري اودنوي نړیوال نظام له مخي چي کوم اهداف لري ، دهغوي پر بنسټ له پاکستانه غواړي چي خپل اتومي پروګرام ختم کړي . دپوځي طاقت دزیاتو لو له هدفه لاس واخلي ، دکشمیر اوپنجاب دقیامونو له ملاتړه لاس په سر شي ،هند دمنطقوي ابرقدرت په توګه ومني ، خپل خپلواک جهاني سیاست دامریکا په ګټه واړوي . ددي احتمال نشته چي امریکا دي پداسي حال کي چي پاس اهداف ني په ځاي پراته وي یواځي دافغانستان دقضیي په حل کي په امتیاز ترلاسه کولو قانع شي شاید اوس پاکستان پدي خبره عملاً پوهیدلي وي پاکستان به اوس حتماً پدي فکر کي کیږي چي ددي په ځاي چي پرافغان قضیه معامله وکړي اودکمي بیي لپاره خپل سیاست واړوي ، ورته پکار ده چي دمجاهدینو له احزابو سره دیوه معقول جهادي حل په خاطر مرسته وکړي ، پاکستا ن اوس هم لازموږ دقضیي په هغه حل کي چي دپاکستان اوافغانستان دواړوپه خیروي مهم نقش لوبولاي شي، شاید دوخت تیریدل ئي دا چانس کمزوري کړي .

> پاکستان به اوس حتماً پدي فکر کي کیږي چي ددي په ځاي چي پرافغان قضیه معامله وکړي اودکمي بیي لپاره خپل سیاست واړوي ، ورته پکار ده چي دمجاهدینو له احزابو سره دیوه معقول جهادي حل په خاطر مرسته وکړي ، پاکستا ن اوس هم لازموږ دقضیي په هغه حل کي چي دپاکستان اوافغانستان دواړوپه خیروي مهم نقش لوبولاي شي، شاید دوخت تیریدل ئي دا چانس کمزوري کړي .

ددي تر څنګ دجهاد هغو قیادتونو ته چي دامریکا اونورو هیوادونو له توطیو فریاد کوي لازمه ده چي په خپل ابتکار اوهوښیاري پاکستاني زعامت دخپل پخواني سیاست ادامې ته تشویق اوتشجیع کړي .

امریکا آزادی میخواهد یا فرماندهی؟

حبیب الله

در مرز قرن نوزده وبیست تقسیم جهان بيني دول سرمايه داری به پایان رسیدو بعداز آن اصلاح تقسیم جهان از بین رفت زیرا تقسیم جهان ممکن نبود بلکه آنچه ممکن بود تقسیم مجدد جهان توسط کشور های امپریالیستی بود . بعداز این ممکن نبود کشور امپریالیستی سرزمینی را از بی صاحب بودن زیر تسلط گیرد بلکه از دست صاحب بدستی صاحبی میافتاد . بنابراین در جهان نه تنها گروهی از کشور های مستعمراه دار و مستعمره پدید آمدند بلکه اشکال گونا گون از کشور های وابسته یعنی کشور های که رسماً استقلال سیاسی داشتند ولی عملاً در دام وابستگی مالی ودیپلماتیك گرفتار بودند بوجود آمدند همین کشور ها بنام کشور های نیمه مستعمره یاد شدند .

زمانیکه تقسیم جهان بین کشور های امپریالیستی به پایه ی اکمال رسید هر کشور مطابق سرمایه مالی وقدرت نظامی ساحه نفوذ داشت . هریکی سهم خود را گرفت ونتیجه آن شد که دیگر در کره زمین سرزمین آزاد باقی نماند . تا وقتیکه تعادل بین نیروی مالی ونظامی کشور های امپریالیستی برقرار بود موضوع تقسیم مجدد مطرح شده نمیتوانست وزمانیکه بار اول این تعادل بهم خورد جنگ اول جهانی بوقوع پیوست ویار دوم بهم خوردن تعادل سبب بوجود آمدن جنگ دوم جهانی گشت .

بعداز جنگ دوم جهانی امریکا وشوروی بحیث دو قدرت بزرگ نظامی در برابر هم قرار گرفتند وهریکی از این دو کشور امپریالیستی نیات خود را در رابطه با فرماندهی جهانی پوشش آزادی خواهی میداند. لذا میخواهم در ینجا با مرور نشرده برگذشته آنها نیات فرماندهی جهانی شانرا برملاسازم که البته شوروی باعدم موجودیت خود دیگر خطر جهانی شده نمیتواند بناءً امپریالیسم امریکا بزرگترین دشمن آزادی مردم جهانیکه تازمیدان مانده است .

در آواخر قرن نوزه اگر از یك طرف سرمایه داری به حد اعلی تکامل خود رسید از طرف دیگر در بطن خود نیروی مخالف خود را که احزاب کمونیست بود نیز رشد داد وکمونیسم در برابر لیبرالیسم بورژوازی به مبارزه برخاست . تلاش های مارکس وانگلس در ۱۸٤۸ به تأسیس اولین حزب کمونیست منجر شد ولی این حزب کمونیست وشاخچه های دیگر اروپایی آن بجز ۷۲ روز در فرانسه بنام کمون پاریس باوجود استفاده از هر موقع مناسب نتوانستند به قدرت سیاسی دست یابند . بالاخره پراتیك مبارزاتی احزاب کمونیست اروپایی تزمارکس را که انقلاب کمونیستی در اروپا وآنهم در سراسر اروپا به یکبارگی باید به پیروزی برسد غلط ثابت نمود .

تا اینکه لینن در راس حزب کمونیست بلشویك پیاده کننده آرمان مارکس وانگلس گردید واین پیروزی به کمونیسم جان تازه بخشید . حزب لینن در مبارزه سخت ودشوار علیه تزار وارتش منظم آن سهم گرفت وبا مهارت کامل از ضعف تشکیلاتی وبی برنامگی نیروی بزرگ دموکراتیك در جهت نیل به قدرت سیاسی استفاده نمود . تزار روس که بخاطر حفظ بقای خود تمام فعالیت های انقلابی را ممنوع قرار داد شروع به سرکوب وتعقیب نیروهای انقلابی در سراسر روسیه نمود . حزب بلشویك ها تحت همین فشار مجبور گردید مرکز فعالیت خود را در خارج از رورسیه تشکیل دهد ، شهر ژنیو بحیث مرکز حزب کمونیست انتخاب گردید .

در ین وقت عده زیاد از اعضای حزب

کمونست به کشور های مختلف اروپایی پناهنده شدند ودر همه جا تبلیغات ضد تزاری اوج گرفت درین زمان جنگ اول جهانی بوقوع پیوست که حزب کمونیست روسیه موضع مخالف چنین جنگ را داشت

طبق امار بودجه نظامي امریکا در حدود ٦ فیصد وشوروي در حدود ١٢ فیصد تولید ناخالص ملي انها را تشکیل میدهد وهم چنین طبق امار ناقص بودجه نظامي شوروي در سال ١٩٧٤ حدود ٣٥ فیصد بودجه دولتي بوده است .

این حزب چون دارای اهداف روشن وبرنامه بود توانست از جنگ عمومی به نفع خود استفاده کند . در جریان جنگ حزب کمونست روسیه بهترین مبلغ صلح بود واین شعار در زمان جنگ غیر عادلانه توانست افکار مردم را بطرف حزب کمونست جلب کند . به هرحال جنگ توانست زمینه رابرای جهش بزرگ کمونیست ها مهیا سازد وآنان بازرنگی خاص از چنین وضع مساعد استفاده کردند . در ینجا آنچه که از عوامل بقدرت رسیدن حزب کمونیست روسیه میتوان بسادگی یاد آوری نمود بد بختیها ومحرومیت های است که جنگ جهانی بر مردم روسیه تحمیل نمود بناءً خشم ونفرتی که ادامه چنین وضع در مردم روسیه نسبت به سران وفرماندهان خود پیدا کرد با این عقیده توأم گردید که مسئولیت تمام تیره بختیها ، محرومیت ها ، شکست ها و مصائب به تزار تکیه میکند . این چنین شرایط ابتکار عمل رابدست کمونیست ها سپرد .

داسي سربښندونکي اوله ستونزو سره روږدي انسانان دنړۍ په بل ځاي کي نه لیدل کیږي ، هغه له لویدیځ نه راغلیو خلکوته دغه حقایق له مبالغي پرته بیانول ، خداي «ج» هغه ته غیر معمولي ذهن ورکړي ؤ ، هغه دڅا تر هیبت اورعب لاندي نه راته اوله تذبذب پرته یي خبري کولي شواي ، هغه له تصنع نه کرکه درلوده دشمیر او اعداد و جالونه یي نه غوړول او نه یي له موضوع پرته پراوږدو مقدمو خبري کولي . خپل مطلب به یي پر لږ تر لږه ممکنو الفاظو کي بیاناوه ، نه په عاجزي او نه په کبر ، نه په چپلوسي اونه په دوه زړه توب ، نه یي بي ضرورته جوش او خروش درلود اونه غیر معمولي تمه اوتوقع نوځکه خو دهغه مخاطب له دده څخه بي اغیزي نشو پاتي کیداي امریکایان اوس مرستي ته حاضر وو خودهغوي څه شرطونه وو هغوي دپاکستان له حکومتي نظام څخه ډاډه نه وو ، وسلي یي افغاني قوماندانانو ته نیغي پخپله ورسپارل غوښتل ، دهغوي داغوښتنه هم وه چي پاکستان له خپل اتومي پروګرام څخه لاس پرسر شي دجمهور رئیس ځواب داؤ چي پاکستان اتومي بم نه جوړوي او ترکومه وخته چي هند خپل اتومي تاسیسات دنړیوالو د کتني لپاره وړاندي نه کړي پاکستان دا کار نه کوي ، تر کومه چي دپاکستان دسیاسي نظام خبره ده نو داد پاکستان خپلمنځي معامله ده او امریکایان په دي کي دلاسوهني هیڅ حق نه لري . اوس پاتي شوه دامسئله چي آیا دامریکا یانو مرستي نیغ په نیغه افغان مجاهدینو ته رسیداي شي ؟ نو داخو په پاکستان دآزادي اوخپلواکي له مجروح کولو سره مترادفه ده خو امریکایان به څه وړ ډاډه کړاي شو ؟

په پیل کي تریوه وخته امریکایانو نیغ په نیغه افغاني قوماندانانو ته وسلي ورسولي خوبیا جنرال اختر عبدالرحمن دوسلو دویش لپاره یو فورمول وضعه کړ چي دهمغه سره سم پاکستان دغه معامله په خپل لاس کي واخستله ، بنیادي اصل دا ؤ چي مجاهدینو ته به دومره وسلي او مهمات ورکول کیږي څو مره چي دوي جهادي فعالیتونه کولي شي بشپړ عدالت به مراعات کیږي اوهیڅ ډول رعایت به نه وي

دچپ لاسو ګوندونو لیډران نور هم ډېر وارخطا وو ، دهغوي نظرياتي سرپرست په یوه کمزوري اووروسته پاتي هیواد پوځي تیري کړي ؤ چي په دي عمل سره دتولي نړي ملامتي اولعنت وربانديي اوریده . سوسیالیزم دیوي نظريي په دود رسوا شوي ؤ او اوس دیوي یرغلیزي ستراتیژي په بڼه اوښتي ؤ چپ لاسو ګوندونو ددي ترخه حقیقت بدل له خپل هیواد څخه اخیست.

جنرال ضیاء الحق شهید ، همیشه سودا بازي کوونکو امریکا یانو ته براﻻ وویل چي ددوي شرایط نشي منلي ، پوره دوه کاله په دي منلو اونه منلو کي تیرشول ، بالاخره د ۱۹۸۲ کال په پیل کي امریکایانو وسله کیښوده او داځکه چي ګټه یي پکي وه او همدي ته یي ضرورت هم ؤ . اوه کاله وروسته د ۱۹۸۸ کال په فبروري کي چي په راولپنډي کي د صدارت په ماڼي کي دامریکا دسنا او شورا دغړویو ګروپ دجینوا تړون دلاسلیک اوتوافق لپاره له جمهور رئیس سره وکتل هغوي افغانستان ته دامریکا یي مرستو خبره یاده کړه نو جمهور رئیس دوي ته ور په غوږ کړه چي پاکستان له څه وړ مشکلو حالاتوڅخه تر تیریدو وروسته هغه پرستیژ ترلاسه کړي اوپه هغه موده کي دامریکایانو چلند څه وړ ؤ .

جمهور رئیس وویل :

زموږ خلکو خپله جګړه له کوتکونو اوډبرو څخه پیل کړي « شهید ضیاء مطلب له خپلو څخه افغاني غازیان دي ژباړن»

دغه وخت له ببرک کارمل سره دمخامخ خبرو اترو پلویان دخلکو ګوند اونورو چپي ګوندونو روښان فکرانو پر ضیاء الحق دامریکا داجنټ تورلګاوه ، خو دمجاهدینو ، پاکستان او امریکا په دي ګډ پروګرام کي چا غوره شرایط اودریځ درلود دچالاس لوړ ؤ ، څوک دقیادت دصفتونو خاوند ؤ ؟ که ناپلیون دسلطان تیپو شهید مرستي ته دهند نیمي وچي ته رارسیدلي و اي نوشرایطو به څه وړیدلون موند ؟ آیا پاکستان اوافغان مجاهد ینو له دي نه کم شرایط منلي ، آیا دوي پر خپلي خپلواکي سودا کړي وه ؟ او چي کله وخت راغي آیا ضیاء الحق شهید دامریکایانو دخبري له منلو نه انکار ونه کړ ؟ او آیا افغاني غازیانو دوسلو دروېزه رد اوخپله لاره بیله نه کړه ؟ نه یوازني دشهید ضیاء سیاسي مخالفین بلکي دآغاشاهي په شمول دپاکستان دبهرنیو چارو وزارت مامورین ټول له روس سره دجګړي اولاس ګریوان کیدو مخالف وو ، دبهرنیو چارو وزارت کارکوونکو ویل چي پاکستان دفلسطین دربړي دپلوي عربو هیوادونو له سرنوشت سره مخا مخ کیداي شي ، هغوي اندیښنه درلوده چي دهجرت په دغه بهیر کي به هیوادته ، بازي ، رندي ، مجرمان اوخطرناک کسان

ننوزي ، هغوي افغانان نه پیژندل اوله مزاج سره یې بلکل ناآشنا وو ، هغوي په دې نه پوهیدل چې افغانان خپل یتیم هم بل چاته نه سپاري ، دبهرنیو چارو وزارت افسرانو ویل چې روسان کوم ځاي ته ننوتي دي بیایي هیڅوک هم بیرته نه شي ویستلي ، خو جنرال اختر ویل چې دافغانانو تاریخ هم بیا داپه گوته کوي چې هلته هیڅوک هم نه دي پائیدلي .

دبهرنیو چاو وزارت څه چې دپلیو قواوو پوځي جنرالانو هم په دې خبرو پوري خندل چې روسان به دپوځي عملیاتو له لارې له افغانستان څخه وتلو ته مجبوریږي ، په دې ډله کې دشهید ضیا هغه باوري ملگري هم شریك ؤ چې وروسته یې افغاني مجاهدینو په پلوي احساساتي او پرجوشه بیانونه ورکول « بنايي جنرال فضل الحق شهیدته اشاره وي ژباړن » له دې جنرالانو نه یوه تن دروسانو کلك ملاتړي خان عبدالولي خان ته وویل چې ضیاء الحق ساده دي که روسان وغواړي په ټانکونو کې نه په « مرسدیز» موټروکې سپاره په درې ورځو کې دکراچي ترساحل پوري رسیږي .

جنرال اختر دافغاني مجاهدینو دبریالیتوبونو شمیرني اواعداد وړاندي کول اوچې کله به هغه ویل چې دومره ټانکونه ویجاړ، دومره تنه روسي پوځیان ووژل شول اودومره الوتکې رانسکوري کړاي شوي نو په هغه پوري به ملنډې وهل کیدلې .

دپاکستان زیاترو ممتازو ژورنالستانو او

لیډرانو لومړي داهیڅکله منله نه چې په افغانستان کې ربنتیا هم جگړه روانه ده دبریالیتو بونو ادعا خوبې هسې مسخري گڼلي ، ځنو جنرالانو به لا داویل چې دآي .اس .آي اداره دروغ وايي اوپه جنرال اختر پسې بې اوازې گرمې کړې وې چې دکریدت دترلاسه کولو لپاره یې دافغان جهاد ډرامه کومه چې هیڅ حقیقت نه لري په لاره اچولي ده ، دایوازې امریکایان وو چې په دې پوهیدل چې کوم راپوروونه آي اس ، آي ورکوي ټول رښتیا دي ، دهغوي مصنوعي سپوږمۍ دافغانستان دلویشت لویشت خاوري تصویرونه اخستل اوله دوي سره په افغانستان کې دویجاړ شوي هرټانگ ،لارې او جیپ تصویرونه وو .

دسرحدي ایالت تناسب بدلون موند ، مثلاً دکرمي په سیمه کې چې دیوي مذهبي ډلي اکثریت ؤ ددې تناسب دبدلون نه ځني لیډران اندیښمن وو ، هغوي دروس اوهند له مشرانو سره یوځاي دحکومت او مجاهدینو پر ضد تبلیغات کول ، دآي اس اي ، پټو راپوروونو له مخې چې دپوځ کوم افسران له رتبې څخه محرومیــــدل

هغوي خودسیاسي لیډرانو په څیر برالا کوم پروپاگنډ اوتبلیغات نشوکولي خو په پټه کې هغوي هم څه صرفه نه ده کړي ، په دې ډول دجنرال اختر عبدالرحمن مخالفین ورځ تر ورځي مخ پر زیاتیدو وو دبهرنیو چاو وزارت پرله پسې په دې خبره زور اچولي ؤ چې دروس او کابل

گوډاگي رژیم له واکمنو سره باید مخامخ خبرو اترو دروازه خلاصه شي اودغه مسئله دخبرو اترو له لارې حل کړاي شي کله کله به یې په دې خبره هم زور لگاوه چې که معرکه له لاسه ووتله پاکستان بنایي پیښمانه شي . دجنرال اختر اوملگرو رایه یې داوه چې روس اوس هیڅکله هم پاکستان نه بخښي اویوازې آزاد افغانستان دپاکستان دساتني اوامنیت غوره لاره ده چې هلته باید دپاکستان دوست حکومت وي ، له فلیپن څخه تر لویدیځ المان اوله فرانسې تر امریکا اوبریتانیا دټولې نړۍ آزاد مطبوعات دمجاهدینو دبې ساري مقاومت او اتلولي پر داستانو ډك شول .

خودپاکستان اخبارونه اومطبوعات چې دوي ته تر ټولو ستره مسله دشهید ضیاء الحق موجودیت او واکمني وه ، هغوي دحکومت په هره پړه اوهره حادثه کې پر افغاني مجاهدینو دملامتي خاوري وراړولي ، په هیوادو کې چې کوم ناوړه پیښه رامنځ ته کیدله ، کومه وراني تر سترگو کیدله سمدستي به پرافغان مجاهدینو پوري ور تپل کیدله ، په ١٩٨١ میلادي کال د « هتوراگروپ» عملیات پیل شول آي ، اس ، اي زرترزره پته ولگوله چې په دې کې دیوه افریقایي هیواد لاس دي ، دهغوي دسفارت یو کار کوونکي په رنگ لاسونو پکې ونیول شو ، حکومت داحس کړه چې ددې خبرې اعلان او نشرول دهیواد په گټه نه وه ، ځکه یې هغه سرې خوشې کړ ، دلته ډیرو سیاسي لیډرانو اوژورنالستانو دیړې بار بیا هم پر مجاهدینو ورغورځاوه ، کوم هیواد چې دجگړې ځپلي هیواد خلکو ته پناه ورکړې وه ، هغوي خپله دغه پناه گاه ولې پخپلو لاسو رنگوله ؟ خو سیاسي بزرجمهران له عقل او منطق نه دکا،جي ، بې اوخاد

هغه قوم چې جگړې اوتباهي ته په ذهني ډول نه ؤ اماده شوي نو ددغو تخریب کاریو په نتیجه کې له راپیدا شوي ویرې اوهیبت څخه پاکستاني سیاسي لیډرانو دشهید ضیاء پرخلاف کارواخست – په هره دغسې پیښه کې پر هغه اوځنو مجاهدو مشرانو دملامتي اوپړې بار واچول شو .

دغه سیاسي لیډران ددې منلو ته نه وو تیار چې افغان مجاهدین دپاکستان دسلامتي جگړه پرمخ بیایي .

پروپاګندونو ته زیات اهمیت ورکاوه .

دچپ لاسو ګوندونو لیډران نور هم ډیر وارخطا وو ، دهغوي نظرياتي سرپرست په یوه کمزوري اووروسته پاتي هیواد پوځي تیري کړي ؤ چي په دي عمل سره دټولي نړي ملامتي اولعنت وربانديي اوریده . سوسیالیزم دیوي نظریي په دود رسوا شوي ؤ او اوس دیوي یرغلیزي ستراتیژي په بڼه اوښتي ؤ چپ لاسو ګوندونو ددي ترخه حقیقت بدل له خپل هیواد څخه اخیست .

هغوي دهیروئینو دطاعون دخپراوي مسئولیت هم دمجاهدینو پر اوږو ورغورځاوه ، حال دا چي تر ۱۹۸۷ کاله پوري په افغانستان کي دهیروئینو جوړولو یوه کارخانه هم نه وه . . دهیروئینو جوړولو کارخاني دپاکستان په قبایلي سیموکي دریدلي اوددي اصلي جوړوونکي هم دلویدیځو هیوادونو هغه قاچقبران و چي له هیروئینو سره عادت وو اوله همدوی سره ددغي خطرناك طاعون دجوړیدو چل اوداقاچاق وسیلي وي .

عام ذهنیت داؤ چي ټولي مرستي له امریکا څخه راځي ، له هغه ځایه دوسلو څخه ډکي بیړي دپاکستان پر ساحل ښکته کیږي ، خوددي پرخلاف حقیقت بلکل بل ډول ؤ څومره مرسته چي امریکا له مجاهدینو سره کوله نږدي په همغه پیمانه سعودي عربستان هم کوله . دکویت اوعربي نورو هیوادونو مرستي اوددغو ځایونو دمسلمانانو فردي مرستي اواعاني که حساب شي د امریکایي مرستو نه زیاتیږي د سعودي عرب دخفیه اداري مشر شهزاده ترکي به پاکستان ته پټ سفرونه کول اود آي اس آي له مشر جنرال اختر عبدالرحمن سره به یي پټي لیدني کتني درلودي . زیاترو عربو به دزکات پیسي مجاهدینو ته رااستولي، دآي اس آي د لوړ رتبه افسرانو وینا ده چي که دسعودي عرب مرستي نه واي روسي پوځونه به هیڅکله هم له افغانستان څخه په تیښته نه وو مجبور شوي « البته دایو شخصي نظر دي اوحقیقت داسي نه دي ژباړن »

طرحه شوي پلان داسي ؤ چي دجګړي لپاره ضروري وسلو او نورسامان دمثال په توګه دنهرونو اوسیندونو لپاره کوچني بیړي اونوروشیانو لست به سي آي اي ته سپارل کیږي . دسعودي مالي مرستي به هم امریکایانو ته سپارلي کیږي اوپاکستان به وربانديي خبریږي ، وسلي به امریکایانو پیرودلي اوپه دي کي دپاکستاني آي اس اي بلکل څه کار نه ؤ . کلاشینکوفونه سپك ماشیندار او نوره وړه وسله ټوله له چین څخه پیرودل کیدله په پیل کي دټولو وسلو په سلو کي اتیا تر ۹۰ برخوله چین څخه اخیستل کیدله هغوي یوه اندازه وسله دسوغات په توګه هم ورکوله ، وروسته بیا یوه برخه له مصر څخه اخستل کیدله اوداهم یوه لویه ذخیره وه ، یو څه وسله ځینو لویدیځو هیوادونو پرسي آي اي خرڅوله چي په هغو کي دټانګ ضد مینو نه او راکټونه شامل و . مجاهدینو ته دري ډوله وسلي ضروري وي :

* دپلیوپوځونو پر خلاف ماشیندار اوټوپك .
* دموټرواو عراده جاتو دتخریب لپاره وسلي .
* دالوتکو راغورځولو لپاره .

دسي آي اي اداره دوسلو له پرودلو وروسته پاکستان ته دهغي درارسولو مسئوله هم وه ، په پاکستان کي به آي اس آي ته سپارل کیدله چي دتربیه شویو ځانګړیو کسانو لخوا به دشپي په تیاره کي په ځانګرو ډیپوګانو کي خوندي کیدله ، په دي رابطه د راز ساتلو غیر معمولي انتظام ؤ چي یو کړي به له بلي نه ناخبره ساتل کیدله تر څو دښمن په دي راز باندي لاس بري نه شي ، دمثال په توګه له هوایي ډګر نه به دغه وسلي په لاریو کي باریدلي اووروسته به بیا ډکو لاریو ته دریو ران راغوښتل کیدل هغوي به تر یوه ټاکل شوي ځایه پوري رسوله او کلي به یي په موټر کي پریښودلي او دریوران به تري تلل ، له یوه ټاکلي وخت وروسته به دریوران بیرته ورته راغوښتل کیدل اوتشي لاري به یي بیرته تاکلو ځایونو ته رسولي . دغه ډول به دوسلو له ډیپو څخه دلاریو بل کاروان هغه سرحدونو ته رسوله اولاري به بیرته تشي راستنیدلي ، له دغه ځایه وسلي مجاهدینو ته سپارل کیدلي چي په لاریو ، وړو موټرو اویا کچرو به دافغانستان دننه خورو ورو نږدي یوزرجنګي محاذونو ته رسول کیدله ، دریمه ورځ به تش موټر بیرته راستنیدل .

ډیر پخوا کله چي روسانو لا په افغانستان کي دجګړي تاونه ؤ حس کړي دافغانستان په رابطه دیوي غونډي په جریان کي جنرال اختر ویلي وو چي په کابل کي عادي ژوند تیرونکي روسي جنرالان تر څود جګړي له هیبته ونه ویرول شي هیڅکله هم دشاته تګ په فکر کي نه دي . اوس هغه په یوه بله غونډه کي وویل چي که روسان پر افغانستان تیري کولي شي مجاهدین هم کولي شي چي له آمو پوري وزي اودروسیي په خاوره کي واړه واړه لنډ شانته عملیات وکړي . په دي غونډه له نورو کسانو علاوه دبهرنیو چارو وزیر صاحبزاده یعقوب خان هم ؤ چي په زوره یي چیغه کړه اوویي ویل : په دي کار به تاسو پاکستان برباد کړي .

آي اس آي اصلاً دوسلو ويشلو ، د مجاهدينو دتربيه کولو اوهغوي ته دلازمو معلوماتو برابرولو اداره وه ، جنرال اختر په همغه پيل کي دا برالا کړي وه چي هغه خپله اداره له هر داسي کار څخه لري ساتل غواړي چي دپيسو راکړه ورکړه پکي دخيله وي ، ځکه خو آي اس آي دوسلوي خريداري څخه تر پايه ځان لري ساته ، تردي هم وړاندي چي کله دوسلو ددريدلو او دنورو ضروورياتو له املﻪ دجوړولو مرحله پيل شوه نو داکار دتعميراتو اړوند دپوځ يوي ځانګي ته وسپارل شو. جنرال اختر په خپله اداره کي دغوره شخصيتونو دراټولولو زيار ويوست اوهغه دخيانت دکومي پيښي په رابطه ډيره کلکه پوښتنه اوپلټنه کوله .

دناوړه اخلاقو درلودونکي افسران يي دآي اس آي له اداري څخه وايستل ، هغه په دي رابطه ډير ټينګ موقف درلود ، اوس چي هغه ديوي جګړي په ډګر ولاړ ؤ نوځکه يي بلا خطر نشو منلي ، په کويټه کي دڅو ټوپکو دپلورلو په پيښه کي هغه په خپله دتحقيق لپاره هلته ولاړ په داسي حال کي چي هغه دسفرونو ډير ليوال هم نه ؤ او دا پيښه هم څه ستره فوق العاده پيښه نه وه ، خوهلته هغه نه يوازي په هغه دوسيه کي شامل کسان بلکي ددوي افسر هم بر طرف کړل ، هغه افسر چي هر څو مره فريادونه او کړيکي وکړي چي هغه خونيغ په جرم کي شريك نه دي خو دجنرال اختر په تصميم کي هيڅ ډول بدلون رانه غي دخيانت ، اختلاس اوفريب په وړوکي پيښه به هغه ډير احساساتي کيده اوهيڅکله به يي هم مجرمين نه بخښل .

ظاهراً داسي ښکاريده چي دروسانو دشاتګ له ويري دا د« واد » کارژ ، خوځني باخبره ماهرين بيا وايي چي دا د وسلو دتهيه کولو اصلي منبع « سي آي اي » کارنامه وه چي اوس د« آي اس اي » له موجوديت څخه ناخوښ اوخفه وو . دپيښي دتحقيق لپاره دامريکايي يو ټيم چي ټيکري يي اغوستي وو الوزول شوي کمپ ته ننوتل ددوي داتجويز وړاندي کړ چي اسلام آباد او پنډي ښارونه بايد له اوسيدونکو څخه خالي کړاي شي ، دجنرال اختر په حکم پوځي ځوانانو کتارونه وتړل او کمپ ته ننوتل اوپخپلو لاسويي پاتي وسله اومهمات راوويستل او بل ځاي ته يي انتقال کړل .

وروسته بيا چي له افغانستان څخه دروس پوځونو دشاتګ خبره يقيني شوه لويديځو مطبوعاتو دافغاني مجاهدينو دوسلو په باب دګرېږ اوخرڅلاو ډير پروپاګندي داستانونه خواره کړل ، هغوي ددي ذهنيت خورول غوښتل چي امريکايان څه له لوريني نه مجاهدينو ته استوي هغه دپاکستاني اداري آي اس آي افسران خرڅوي اوپيسي يي په خپلو جيبونو کي اچوي .

ددي پر خلاف حقيقت داؤ چي کومو حلقو اواشخاصو چي که وسلي خرڅولي هم هغه دلويديځ انډيوالان او ددوي خپل کسان وو چي دهغوي ګوندونه ډير کمزوري هم وو – کله کله به داړتيا له مخي کوم محتاج کس هم دا کار کړي و . دجګړي خوزرګونه ضرورتونه نور هم دي ،کيداي شي چادهغو دپوره کولو لپاره هم وسله خرڅه کړي وي .خو دا خبره چي آي اس آي وسلي خرڅولي هسي دخپلي خيټي خبره ده چي حقيقت نه لري اولويديځو مطبوعاتو دآي اس آي اومجاهدينو دبدناملو لپاره تبليغوله .

اوکله چي روس او امريکا يوله بله توافق ته ورسيدل همغه مجاهدين د« بنسټ پالو » په نوم ونوموول شول . که دوسلو په برابرولو کي څه فريب اوچل په کار لويدلي وي نو ددي معلومات به تر ټولو دمخه سي آي اي ته کيده او همدي اداري بايد تر هر چا وړاندي انديسنه درلوداي ، حال داچي سي آي اي تر اوسه رسماً په دي رابطه اي اس آي ته څه شکايت او ګيله نه ده کړي . دآي اس آي له يوه لوړ رتبه افسر څخه په دي رابطه پوښتنه وشوه هغه ډير احساساتي شو اوپه زوره زوره يي ځواب ورکړ : زه تاسوته اطمينان درکوم چي يو ځل هم داسي کار نه دي شوي ، آخر هغه به ولي شکايت کاوه په داسي حال کي چي هغه ته دا ښه معلومه وه چي جنرال اختر په دي مسئله کي څومره حساسيت لري .

دجنرال اختر يوه بله کارنامه داوه چي تر ځلويښتو زيات بي نظمه ګروپونه يي په اوو ګوندونو اوهغه يي بيا په يوه ګډ محاذ کي راټول کړل ، داکومه اسانه خبره نه وه ، افغاني ليډران او جنګيالي دقبايلي ټولني خلك وو ، هغوي په اسانه يو پر بل باور نه شو کولي ، ددوي په منځ کي داشخاصو تر منځ ټکر ډير زر پيښيده لکه چي دپنجشير دقوماندان احمد شاه مسعود اودحزب اسلامي دامير انجنير ګلبدين حکمتيار ترمنځ داختلاف په صورت کي پيښ شو ، هغوي دواړه يو دبل ملګري وو يو دبل په ملګرتيا يي دروسانو پر خلاف پلان جوړکړ خودمعمولي اختلاف اوغلط فهمي په نتيجه کي دټکر ترحده خبره ورسيده اوله دي نه افغان جهاد ته ډير تاوان ورسيد هغوي دواړه لوي مشران وو اودخپلو اوامرو عملي کيدل يي غوښتل . ديوه ممتاز پاکستاني شخصيت چي دواړه

مشران له نږدې نه پېژني وينا ده چې دواړه دهغو ونو په څېردي چې لاندي تري هيڅ ډول وابنه نشي زرغونيداي .

په افغاني جهاد کي دواړو ډيري ستري کارنامي ترسره کړي دي خو ببا يووخت داسي راغي چې په ۱۹۸۳ کي مسعود دروسانو دفشار په نتيجه کي اوربند اعلان کړ ، له دي نه روسانو ډيره ګټه پورته کړه ، هغوي په سيمه کي خپلي پوستي بني کلکي کړاي شوي ، احمد شاه مسعود چې تاجك دي په فرانسوي ژبه پوهيږي . څکه خو دفرانسويانو ژوري اړيکي ورسره پيدا شوي ، کوم چې په جګړه کي يي څه مرسته ورسره ونه کړه خو جګړي ځپلي سيمي ته يي داکتران اوژورنالستان ډير ولاړل ، هغوي به ځني جاسوسان هم وو ، خودافغانستان دمجاهدينو لپاره يي اخلاقي مرستي هم جلبولي اوخپله رابطه يي هم ټينګوله ، لويديځو الو له احمد شاه مسعود څخه يو لوي قوماندان وتراشه ، په دي کي شك نشته چې دهرات داسمعيل خان په څير ده هم چريکي جګړه په منظمه توګه زده کړه اونورو ته يي دزده کړي زيار ويوست او په دي رابطه يي دجګړي دماهرينو له ليکلو کتابونو څخه استفاده هم وکړه ، خودده په څير نور قوماندانان هم په هيواد کي وو ، دلويديځ مطبوعاتو دخپلو ځينو ځانګړو اهدافو له مخي له دوي نه دځينو لپاره زيات تبليغات وکړل ، او دهغوي کارنامي يي ډيري وستايلي ، په داسي حال کي چې دځينو نورو دشخصيت په جرحه کولو کي يي هڅي وکړي .

هغوي تر ټولو زيات دانجنير ګلبدين حکمتيار پرضد ډير فعاليت وکړ- کوم چې دوي ته دافغانستان امام خميني ښکاره کيده حکمتيار ډير له ستونزو سره عادي اودنظم اواداري پلوي مشر دي، دهغه ګوند په دي باره کي يو ځانګړي مثال دي ، حکمتيار دظاهرشاه سخت مخالف دي اوهغه دافغانستان داوسني ربړي اصلي مسئول ګڼي ، کوم چې له روسانو سره يي ددوستي لاسونه ورکړل اودجهاد په ستونز ورولکلونو کي په روم کي په راحت اوآرام کي پروت ؤ ، حکمتيار په نظرياتي خطوطو ډير حساب کوي خودده تر ټولو ستره «ګناه» داوه چې کله امريکي ته ولاړ نو د هغه ځاي دجمهور رئيس پر غوښتني سربيره يي له امريکي جمهور رئيس سره له ملاقات څخه ډډه وکړه ، لومړي ځل دامريکا دبهرنيو چارومامورينو هغه ته دملاقات بلنه ورکړه ببا وروسته دجمهور رئيس ريګان خپله (٥٠) کلنه لور هغه ته واستوله اوبلنه يي ورکړه خو هغه په هيڅ صورت تيارنه شو . دهغه پخه عقيده دا وه چې دوخت په تيريدو ربښتيا هم شوه چې دامريکايانو له افغانانو سره کومه همدردي نشته ، هغوي هر څه دخپلو ګټو لپاره کوي ، له دي نه وروسته امريکايان دده پر خلاف ودريدل ، يهودي ژورناليست اودامريکا دکانګرس غړي ستيفن سولارز غوندي پاکستان دښمنه يهودي سياستمدار په خاص ډول دده پر خلاف دي .

هلته هندوان هم ترټولو زيات پر حکمتيار ګوتنيونه کوي او ددي دوه ستر سببونه دي ، يو داچي دافغانستان له آزادي نه وروسته حکمتيار له پاکستان سره ډيرو نږدي روابطو اوحتي دامکان په صورت کي دکنفدراسيون حامي دي اودوهم دا چې هغه دظاهرشاه سخت مخالف دي او دپخواني پاچا په اړه هندوان دميني اواحترام جذبه لري .

له ۱۹۸۷ م څخه را په دي خوا لويديځو اوهندي اخبارونو همدايوه سندره پيل کړه چې دوسلو تر ټولو ډيره برخه حکمتيار ته ورکول کيږي ،داخپره له سره دروغ وه ، جنرال اختر عبدالرحمن ته افغاني مشران ټول يوشان وو ، هغه ته کله هم ځني منلي اوځني نامنلي نه وو ، هغه داصولو پابند اوپلوي انسان ؤ اوپوهيده چې که په خپل سرکارونه اوله عدل او انصاف نه لري کړه وړه تر سره کړي ښه نتيجه نه ورکوي ، هغه له هرو دريومياشتو وروسته دوسلو دويشلو نظام جاري کړي ؤ اوهيڅکله يي هم له دي نه دمخالفت اجازه ورنه کړه - داسي نه وه چې دکوم ګوند کسان ډير وو هغه ته زياته وسله ورکول کيدله بلکي دي ته نظر کيده چې دکوم ګوند څومره کسان « مجاهدين » موجود دي هغه چې دښمن ته ضربه ورکولي شي ،دمثال په توګه ديوه ګوند دکابل کوم جهادي ګروپ ته زياته وسله ورکول کيدله خودبل ګوند ببا دپکتيا اويا کندهار کوم ګروپ اوقوماندان ته .

همدارنګ به پرحساسو اومشکلو ځايونو دحملي ګروپونو اوپر هوايي ډګرونو دبريد ټولګيو ته خاصه پاملرنه کيدله . تر ۱۹۸۷ م پوري په تيرو اتوکلونو کي داووګوندونو دوسلو داخيستلو تناسب په لاندي ډول ؤ :

١- حزب اسلامي « حکمتيار » له ۱۸ نه تر ۲۰ فيصده پوري
۲- جمعيت اسلامي « رباني» رر ۱۸ - ۱۹ رر
۳- اتحاد اسلامي «سياف » رر ۱۷ - ۱۸ رر
٤- حزب اسلامي « خالص » رر ۱۲ - ۱۳ رر
٥- حرکت انقلاب اسلامي محمدنبي رر ۱۲ - ۱۳ رر
٦- محاذ ملي اسلامي «سيداحمد ګيلاني ۸ - ۱۰ رر
۷- جبهه نجات ملي « مجددي » ۳ - ٥ رر

مختلفو گوندونو چي دخپلو فعالیتونو په تناسب کومه سهمیه ترلاسه کوله په هغو کي دامریکا یانو په شمول چاڅه لاسوهنه او مداخله نشواي کولي - دامریکا سفیر ، دسي آي اي مشر آن جمهور رئیس ضیاء الحق او یا رونالد ریگان البته دامریکا مختلفو ادارو ، پنتاگون ، دملي امنیت او سي آي اي شبکي تر منځ دیو بل دترجیحاتو په باب اختلاف ؤ . له هغوي نه هري اداري دامریکایي رژیم دننه دکریدت دترلاسه کولو هڅه کوله اویو تربله سره رقابت کي وي .

چي په دي رابطه پاکستان اوآي اس آي هیڅ کار نه درلود . ځینو امریکایي ادارو ، اخبارونو یا سیاستمدارانو دااعتراض کاوه چي « بنسټ پالو » ډلو ته زیاته وسله ورکوله کیږي اوداخبره ربنتیا هم وه ځکه چي لومړیو ذکر شویو څلورو گوندونو ته له ۶۵-۷۰ فیصده وسله رسیدله - کوم چي بنیادگر بلل کیږي خو جنگ هم همدوي کاوه اودفعالیت ساحه هم دهمدي گوندونو پراخه وه ، دځینو امریکایانو ددي غوښتني سربیره چي دظاهرشاه پلویانو اوله لویدیځ سره دښو اړیکو غوښتونکو ته زیاته وسله باید ورکړل شي خوله آي اس آي سره تل په تماس کي سي آي اي اداري هیڅکله هم رسماً دغه غوښتنه نه ده کړي

هغوي ددي ضرورت هیڅکله محسوس نه کړ - افغانستان دننه هغوي د جاسوسي منظم نظام درلود ، دمصنوعي سپوږمي دتصویرونو نه علاوه هغوي هلته دجاسوسي لپاره ترټولو غوره تخنیکي الات درلودل ، هغوي ښه پوهیدل چي په شمیر نو اواحصائیو کي آي اس آي له څومره دقت اوزحمت څخه کار اخلي .

هغوي دآي اس آي له جگړه ایز مهارت څخه نه یوازي خوښ نه وو بلکي په ویره کي هم وو - هغوي پخپله چي په نیکاراگوا ، کیوبا اوځینو نوروځایونو کي دچریکانو دملاتړ لپاره کومي طرحي جوړي کړي وي ډیري بدي له ناکامي سره مخ شوي وي - هغوي په خپله پردي اعتراف کاوه چي په دي هکله دپاکستان له آي اس آي اداري سره دنړي هیڅ کومه خفیه اداره برابري اوسیالي نشي کولي اوپه دي بیابنه پوهیدل چي په دي کار کي مداخله معضله نوره جنجالي کولي شي اوبهتري پکي نه راځي .

د۱۹۸۶ دستمبر په ۲۵ مه په جلال آباد کي پر هوایي ډگر لومړي ستنگر میزایل فیر شو او نیغ پر هدف ولگید. په لومړي ورځ دپنځو میزایلو په ویشتلو سره دري الوتکي رانسکوري کړای شوي له هغو نه یو دهوایي ډگر دپرواز په لیکه راولویده اودوه نوري دیو کیلو متر دایري دننه . دافغانستان داو کلني جگړي په دوران کي دا یوه دخوښي ورځ وه ، څو میاشتي وروسته چي «۱۱۷» فیره میزایل ویشتل شوي وو او حساب یي وشو نو « ۸۵» الوتکي وربانديي غورځول شوي وي

امریکایان له دي نتیجو نه حیراني واخستل ، پخپله ددوي د امن په دوران کي ددي میزایلو دکامیابي تناسب ۶۰ - ۶۵ ٪ پوري ؤ چي دجگړي په دوران کي باید دغه فیصدي هم نیمایي شوي واي ، حال دا چي افغاني مجاهدینو دجگړي په حال کي (۸۰) فیصده بریالي نتیجه ترلاسه کړي وه ، د حیراني خبره داوه چي مجاهدینو نیغ په نیغه دمیزایلو له جوړوونکو « امریکایانو » څخه ددي دفیر اواستعمال زده کړي هم نه وي کړي ، امریکایا نو د« آي اس آي » صاحب منصبانو ته ورښودلي وو ،وروسته بیا مجاهدینو له هغوي نه زده کړي وو ، همدارنگ دآي اس آي افسرانو دځنو وسلو داستعمال چل له چینایانو څخه زده کړ اوبیا دوي مجاهدینو ته وروښود ، امریکایان هیڅ شي تر اوسه دومره په حیرت کي نه وو ډوب کړي لکه دا.ستنگر میزایلو دبي ساري بریالي استعمال په رابطه چي افغانانو ته حیرت واخستل ، دجنگ دپیل په څیر اوس هم دوي نه پوهیدل چي دآزادي پالو افغانانو لپاره جنگ څه وړلو به ده ، اوافغانان په دي کي څومره لوړ صلاحیت اواستعداد لري .

ستنگر دنړي ډیر غوره میزایل ؤ، ددي پر استعمال دجگړي نقشه بدله شوه ،دنورو میزایلو پر عکس چي له الوتکي نه دحرارت په خورولو له هدفه بي لاري کیداي شي ، ستنگر داسي میزایل ؤ چي یوځل هدف ته برابر شي بیایي گولي بیځایه نه ځي .

یوه بله وسله چي د جگړي تله یي دمجاهدینو په لوري درنه کړه د (107m Bm1) دستگاوه چي وداني او موټر وربانديي ویشتل کیداي شول او منزل موټر یي«۹» کیلومتره فاصله وه ، ددغي وسلي چینایي ماډل په ۱۹۸۵ م

دگردي میز دلومړي ورځي په پاي کي هغه دکابیني غړوته وینا وکړه په داسي احساساتو اوجوش چي دده دمزاج اوطبیعت خلاف وه ، جونیجو اوملگروته یي وویل چي که دخپلو شرطونو له منلو پرته پر تړون لاسلیك وشي نو پاکستان به یوه تاریخي موقع له لاسه ورکړي - دبهرنیو چارو معین زین نوراني ته یي په خطاب کي وویل : که تا پر تړون لاسلیك وکړ نوپاکستاني ولس به دي غوښي په نوکانو وشکوي .

کي افغانستان ته ورسيده ، اوزر تر زره تر استعمال لاندي ونيول شوه ، دوو تنو په آساني سره له يوه ځاي څخه تر بل ځايه پوري وړلي شواي او دغه وخت چي روسانو يو بل ته دلنهو پوستو ځنځيرونه خپاره کړي وو چي دمجاهدينو لاري يي بلکل تړلي ،مجاهدين به دهمدغي وسلي سره دپوستو منځ ته ننوتل اوبيا به يي په يوه بريد شاوخوا پوستي له يوي مخي وځپلي .

دآي اس آي په دفتر کي ۱۹۸٤ کال ډير اورد محسوسيده ،دجګړي ځپليو انسانانو سيلاب پاکستان ته راروان ؤ ، افغاني بچيان ياپه لوږ وغرونو کي دواورو تر برستن لاندي په ابدي خوب ويده کيدل او يابه دروس لوبوته ورته بمونو په واسطه سره . دزهرجن ګاز په شمول روسانو هر دول وسلي استعمالولي ، هغوي زرګونه کاله مخکښني جوړشوي کلي دبمونو په واسطه دځمکي له مخي نه والوزول ، آبادي په کنډوالو بدليدلي ، باغونه اوځنګلونه له منځه تلل ،کلي ، بانډي او ښارونه تربمباري لاندي راغلل ، دافغانستان دوهم لوي ښار دافغانستان دموسس احمد شاه ابدالي ټاټوبي کندهار سراسر په کنډواله بدل شو ، دا دحوصلو دازمايلو کال ؤ ، خوافغاني غازيان له دغه ازموينښت نه سرلوړي ووتل ، د ۱۹۸٥ کال په پيل کي جنرال اختر دفتحي اوبري له اميده ډك ؤ ، كله چي ګورباچوف دروسيي داقتدار په کرسي کيناست نو جنرال اختر شپه او ورځ په نه ستړيدونکي روحيه لاس په کار شو ، له افغانستان سره يي عجيبه او ژوره مينه په زړه کي را پيدا شوي وه ، له افغاني مشرانو سره يي تر پخوا زياتي ليدني کتني رواني وي ، کوم چي په ډير سري ډول به دده کور ته راوستل کيدل ،اوس جنرال اختر دافغانستان په رابطه ډير په زغرده خپل نظر ښکارولي شو ، اوحقيقت دادي چي په اوس وخت کي دافغانستان په اړه ترټولو زيات باخبره انسان ؤ . دآي اس آي نه پرته د سي اي اي له لوري راټول شوي معلومات به هم هره ورځ ورته رسيدل ، اوس خلك ده ته ورتلل اودده خبري يي اوريدلي ، كه دده خبره په چاښه نه لګيدله هم خوله منلو او اوريدلو پرته يي بله لاره نه وه

هغه رخصتي نه درلوده ، او شپه ورځ پخپل دغه ارمان کي ډوب ؤ ، له سفر او دوروخخه يي ډډه کوله ، پريستر تر پريوتو پوري به يي په تلفون له دفتر سره تماس درلود اوهدايت به يي ورکاوه ، د ۱۹۸٥ کال دمارچ په ۲۳ مه له غير ګوندي انتخاباتو وروسته جمهور رئيس محمد خان جونيجو ته دصدراعظم په حيث اقتدار وسپاره .ورو ورو اخبارو زياته آزادي تر لاسه کړه او ورسره د افغانستان په هکله دپاکستان په پاليسي انتقادونه اواعتراضونه پکي منعکس شول – دترقي پسند و دا تش په نامه ترقي پسندو يا روښانفکرو ، ژورنالستانو طبعاً داوږدو اوږدو ږيرو خاوندان دافغاني مجاهدينو ليډران بد ايسدل چي خبري به يي په بسم الله پيلولي .

ډيرو نورو ژورنالستانو هم دافغان مجاهدينو پر خلاف ليکني کولي ، داخبره سمه دلويديځ په غيږ کي تعليم يافته کسانو ذهن ته نه لويدله چي په اوسني زمانه کي دي پر اسلام خپل ځانونه قربان کړي ، او روس غوندي ستر پوځي ځواك به هم له پوځي ماتي سره مخامخ کيږي . په پاکستاني مطبوعاتو کي دچپ لاسوژورنالستانو اکثريت ؤ چي اوس ميدان ته راووتل اوبرالاشول – په افغانستان کي دببرك كارمل داقتدار ته رسيدو په وخت کي په کابل کي ګرفتار شوي اوبيا دپلچرخي زندان دګړهونو ميلمه مختار حسن چي کله له جيل نه راووت او پاکستان ته راغي نوئي دافغان خبري آژانس يو وړوکي تشکيل جوړ کړ ، چي هره ورځ يي يو دوه خبرونه په انګليسي او اردو ژبه بهرنيو اوننيو مطبوعاتو ته ورکول ، همدارنګه په اوني کي به ئي يو نيم رويداد اخباروته ورکاوه اوددي خبرونو اورويدادونو د خپرولو لپاره به مختار حسن داخبار ونو اونشريو چلوونکو ته خواستونه کول چي بيا به هم زياتره خبرونه نه نشريدل . په هيواد کي هره ورځ دبمونو په چاودنو کي بي ګناه انسانان وژل کيدل چي پردي به دسياسي ليډرانو بيا نونه تر ډيرو سترو سرليکونو لاندي په اخبارونو کي خپريدل چي هغوي به ددي کار ذمه واري هم پرافغان مجاهدينو وراچوله .

دلاهور يو مشهور ليکوال ايله په۱۹۸۸ م کال کي افغاني غازيان دآزادي غوښتونکو په حيث تسليم کړل . دافغان مجاهدينو نه ملاتړ کوونکي يوه اخبار ليکلي وو چي دا مشکله ده چي تشخيص شي چي په پاکستان کي چاودني څوك كوي ، دهغه اشاره دي ته وه چي ممکن دجمهور رئيس ضياء حکومت به په دغه كار کي لاس لري ، مشهور پوه حنيف رامي چي وروسته ښاغلي ګلبدين حکمتيار ته په ډير احترام اودرناوي معترف شو په لاهور کي يوي غونډي ته په خطاب کي وويل چي افغاني مجاهدين اصلاً دامريکا اجنتان دي . دجمعيت العلماء پاکستان مشر شا احمد نوراني چي هغه وخت له قذافي سره نږدي اړيکي درلودي او اوس صدام حسين دوهم صلاح الدين ايوبي ګڼي غوښتل چي خپل ګوند دمجاهدينو پر خلاف په کار واچوي ، خومولانا عبدالستار خان نيازي يي په مخه کي ودريد او ددي کارمخه يي ونيوله

. مولانافضل الرحمن دمجاهدینوملاتړ کاوه خوله دي سره یي په یوه ساه داهم ویل چي دا جګړه دروس اوامریکا ترمنځ ده ، وروسته بیا ددیوبندي علماؤد فکر ته متأثره زیاتره علما اوطالبان دجهاد مورچلو نو ته هم ولاړل خو مولانافضل الرحمن بیا هم په دي جهاد کي داسي رول ونه لوباوه لکه له حکومتونو سره دمقابلي ډګر ته له راوتلیو کسانو څخه چي تمه کیږي . مګر له ده څخه جلا شوي ددرخواستي ګروپ علماؤ بیا دجهاد ناره اوچته وساتله . دجمهور رئیس ضیاالحق دپلوي ګوند مسلم لیګ دننه بیا عجیب حالت ؤ دي ګوند په مرکز اوځلورو واړو ایالاتونو کي حکومت درلود ، خو په دي معامله کي چي دپاکستان لپاره دژوند اومرګ لوبه وه بي پروا وو ، چه دسرحد اوبلوچستان اعلي وزیرانو ارباب جهانګیر اوجام اف لسبیله خوپه رسمي ډول دمجاهدینو تائید کاوه خو په خصوص مجلسونو کي یي بیاله مجاهدینو نه خپله ژوره کرکه ګرګندوله. په اسلام آباد کي دپاکستان دملي شوري یوه غړي چي دمسلم لیګ ګوند غړي هم ؤ هغه وخت خپلو دستانوته وویل :

« زه نه پوهیږم چي په دي ورځو کي دافغانستان دمسئلي په رابطه دحکومت پالیسي څه وړده ؟ »

عجیبه داوه چي جونیجوله بنیادي پالیسي څخه ښه خبر کړاي شوي ؤ اوښکاره ده چي هغه له قبلولو پرته بل څه لاره نشواي غوره کولي خو هغه پرله پسي باوري ونه ساتلي شو ، پخپله جونیجو هم په دي مسئله کي څه دلچسپي نه درلوده ، وبل کیږي چي پوره کال هغه له اصلي وضعیت څخه خبر نه شو ، کله چي وروسته بیاخطرناک حالات رامنځ ته شول نو هغه له ضیاءالحق څخه ګوښه شو او ځانګړي ودرید ، یو له دي مجبوري نه چي دغه مسئله دېښي اداري له لاري په کار لویدلي وه اوبل دا چي په دي ډول حکومتونو کي دعوامو رایي ته چندان ضرورت نه لیدل کیږي .

پاکستاني تلویزیون او رادیو دعام ذهنیت داړولولپاره هیڅکله هم په کارونه لویدل ، اوکله چي ددي کار ضرورت حس شو نو بیا فرصت له لاسه وتلي ؤ .

ذهین اوهوښیار ګورباچوف په ۱۹۸۶ او ۱۹۸۷ کلونو کي خپلو جنرالانو ته څلور څلي شپږ شپږ میاشتي موده وروستي فرصت ورکړ تر څو دافغاني مجاهدینو مقاومت وځپي خو کله چي ورته څرګنده شوه چي پنځلس لکه کسه قرباني ورکوونکي افغان قوم بیا هم سرټیټي اوتسلیمي ته مني هره ورځ لږ. ترلږه یوه روسي الوتکه په ځمکه رانسکوریږي.ټانکونه او موټروبجاړیږي ، اودمړیو په ډیر ښت په روسیه کي اندیښني اوتشویشونه مخ په زیاتیدو دي ، نو دروسیي ټولني دنوي جوړولو هیله من لیډر ګورباچوف له افغانستان څخه دشاتګ پریکړه وکړه .

امریکایانو ته یي دخپلي پریکړي اشاره ورکړه نو هغوي دنویو حالاتو له تقاضا سره سم دراتلونکي لپاره په نوي طرحه غور وکړ .

دپاکستان دبهرنیو چارو وزارت اوس دژنیو خبرو اترو دزړي ترانې په تمرین کي سرګردانه ؤ ، صاحبزاده یعقوب خان اودهغه انډیوالان دیوه بریالي تړون دکریدت اخیستلو لپاره ډیر ناکرار وو.

ډیر پخوا کله چي روسانو لا په افغانستان کي دجګړي تاونه ؤ حس کړي دافغانستان په رابطه دیوي غونډي په جریان کي جنرال اختر ویلي وو چي په کابل کي عادي ژوند تیرونکي روسي جنرالان تر څود جګړي له هیبته ونه ویرول شي هیڅکله هم دشاته تګ په فکر کي نه دي . اوس هغه په یوه بله غونډه کي وویل چي که روسان پر افغانستان تیري کولي شي مجاهدین هم کولي شي چي له آمو پوري وزي اودروسیي په خاوره کي واړه واړه لنډ شانته عملیات وکړي . په دي غونډه کي بېرنورو کسانو علاوه دبهرنیو چارو وزیر صاحبزاده یعقوب خان هم ؤ چي په زوره یي چیغه کړه اوویي ویل : په دي کار به تاسو پاکستان برباد کړي .

دابیا بیله خبره ده چي کله مجاهدینو دا کار وکړ نو ګورباچوف له افغانستان څخه دپوځونو ایستلو لپاره دیوه دلیل په حیث یاداوه او دخبرو اترو اوسولي دلاري اشاري بي نوري هم زیاتي محسوس شوي ،په یوه بل اجلاس کي چي جنرال اختر بیا هم همداسي یو« خطرناک » وړاندیز وکړ نو صاحبزاده یعقوب ډیر غوسه شو . جنرال اختر دخپل مزاج سره سم هیڅ پرواونه کړه ، هغه دغه « اوه ژیبي » یوه جنرال ته احترام درلود کوم چي په پوځ کي ترده وړاندیني و اوپخپله جمهور رئیس به « صاحب» ورته ویل. جنرال په ډیره حوصله دخپلي خبري لپاره دلائل وویل اوخپله خبره یي په ټولو ومنله .کله چي غونډه پاي ته ورسیده اوخلک دچاي خوړلو میزونو ته جګ شول نو جنرال اختر دصاحبزاده صاحب څنګ ته ورغي او ورته وي ویل : صـاحب ! تاسو احساساتي شوي !

هغه ځواب ورکړ : ګومان کوم چي زه نور بوډا شوي یم . دیوي باخبري اومعتبري منبع په حواله و یل کیږي چي ۱۹۸۷ کال پوري امریکایانو جنرال اختر نه خوښا وه .هغه هیڅکله هم له امریکایانو نه نه ویریده ، اوهیڅکله هم دترلاس لاندي خلکو په خیر دوي ته په ادب او احترام نه دي دریدلي . هغه به تل ددلیل سره خبره

کوله او دبل له خبري سره به بي دليل غوښت .هغه دامريكايانو لخوا افغانانو دشوري اوعبوري حكومت دجوړيد و تجويز هيڅكله هم ونه مانه ، دهغه دعقل اوشعور پرينسټ ولاړه رايه داوه چي په دي كار دمجاهدينو هيڅ دردنه دوا كيږي . ورروسته بيا دمجاهدينو شوري اوعبوري حكومت جوړ شول چي افغانانو هيڅ هم تري تر لاسه نه كړاي شول .

دعبوري حكومت دجوړولو لپاره دامريكايانوشله‌ګي ورو وروزياتيدله اوله نورو پرته پخپله شهيد ضياء الحق هم پردي خبره راضي شوي ؤ له افغاني مشرانو سره په ډيرو مجلسونو كي چي دجمهور رئيس په رول هغوي ده ته ډير احترام هم درلود. شهيد جمهور رئيس هغوي ديوه داسي عبوري حكومت جوړولو ته هڅول چي پكي ددوي يو شمير مخالفين هم وي .

خو داوه ګوندونو نه جوړشوي اتحاد هيڅكله هم دي ته تيارنه و ، په همداسي يوه غونډه كي جمهور رئيس دحديبيه دصلحي يادونه وكړه هلته چي رسول الله«ص» دكفارو څو شرطونه هم منلي وو او بيا بالاخره همغه سوله په فتح المبين بدله شوه . خو دافغاني مشرانو رايه دجمهور رئيس پرخلاف وه ، په دغه ملاقات كي شامل دري تنه مشران استاد رباني ، استاد سياف اوصبغت الله مجددي چي دشرعي قانون اوحديثو شهادتنامي يي در لودي له جمهور رئيس سره بحث كاوه .

په دي رابطه دوه ډوله رايي وي چي دجمهوررئيس له دغه زيارنه امريكا خبره وه كه نه ، په هر صورت كه هر ډول وو خو امريكايي مطبوعاتو نور جمهور رئيس شهيد ضياء «ديوه بنسټ پال» په نوم معرفي كاوه .

امريكا يانو پخواني پاچا ظاهر شاه ته اقتدار سپارل غوښتل ، روسانو اوهندوانو هم ددي نظريي ملاتړ كاوه ، افغاني مجاهدين دي ته نه وو حاضر او امريكايان له جمهور رئيس نه ناراضه وو چي ولي پر مجاهدينو داخبره نه مني . آيا دوي ته دانه و ، څرګنده چي كه جمهوررئيس وغواړي هم په مجاهدينو داخبره څوك نشي منلي ، افغانانو زخم خوړلي ؤ ، دهغوي هري كورني لږترلږه يو تن په دي جګړه كي قربان كړي ؤ ، هغوي دغه جګړه په يوه شعار پيل كړي اوجاري ساتلي و، هغوي په نيمګړي بري ډاډه نه وو اونه يي وربانديي قناعت درلود . امريكايان تر ټولو زيات له ګلبدين حكمتيار څخه ناراض وو - هغوي اوس حكمتيار دهيروئينو قاچاقبر اوويره اچوونكي معرفي كاوه . ټول خلك پوهيدل چي دوي ولي داسي كوي ، هغوي پخوا پرحكمتيار داسي توروونه هيڅكله هم نه وو پوري كړي ، خواوس يي په وار وار او په ډير اصرار هغه په دي تورن كاوه .

ځينو امريكايي نشريو دهلمند يو قوماندان د ترياكو اوهيروئينو په كار كي ملوث ګاڼه اودغه تور يي بياپر ګلبدين حكمتيار پوري كاوه ، هغه قوماندان رښتيا هم په دي كار ككړ ؤ خو له ګلبدين حكمتيار سره يي بلكل اړيكي نه وي ، له بلي خوا امريكايانو ، انګريزانو اوفرانسويانو په افغانستان كي دننه له قوماندانانو سره داړيكو ټينګولو زيار يوست اوتر ډيره حده په دي كار كي بريالي هم شول ، هغوي له قوماندانانو سره ځانګړي مالي مرستي هم پيل كړي .

دهغوي خپلو خلكو دپاكستان په قبايلي سيمو كي دهيروينو جوړولو ملاتړ پيل كړ اوله دي لوري يي په مليونو روپي سرمايه برابره كړه، دنشه يي موادو اوهيروئينو په قاچاق كي ككړ لويديځيان له افغاني مجاهدينو اوپاكستانيانو نه په لسهاوځله زيات وو خودوي بيا ددغه بد مرغي تور پر پاكستانيانو اومجاهدينو پوري كاوه ، په تيره بيا دمجاهدينو مشران چي دنشه يي موادو سره دمذهبي جذبي له مخي مخالف دي او كركه تري لري دوي دهيرئينو په قاچاق تورن كړل .

امريكايانو له مجاهدينو سره تر سعودي عرب زياته مرسته نه وه كړي خو اوس چي دحساب وخت رارسيدلي ؤ نو ديوي يوي روپي ګټه يي غوښتله ، ظلم داؤ چي دصدراعظم جونيجو په شمول د پاكستان دحكومت مركزي قيادت له حقايقو نه ناخبره وو .

هغوي دافغانستان دستري فتحي په ځاي چي پاكستان به يي يوه نوي دوران ته داخلاوه زر ترزره له دي رېړي نه دخلاصون هيله من وو لكه كوم بزدله اوناخبره سري چي دجګړي سرولو لپاره هر شرط منلو ته تيار وي . جنرال ضياء اوجنرال اختر په دي نظر وو چي افغانستان آزاد شي اوهلته دمجاهدينو اسلامي حكومت قايم شي ، له پاكستان سره به دوستانه اړيكي لري ، بيابه دكشمير دآزادي لپاره غورځنګ پيل كوو - همدغه وخت به خالصتان هم آزاديږي اوبيا به دپاكستان- افغانستان - تركيي اوايران ترمنځ يوكلك اتحاد جوړيږي او په دي سيمه كي به دتل لپاره دطاقت توازن دمسلمانانو په ګټه تغير ومومي ، دآي اس آي په مركز ي دفتر كي د آذربايجان دخلكو لپاره دټيپ كيسټونه تهيه شول .چي د۱۲ څخه تر ۱٦ كلو نو خوانانو په منځ كي خواره شي دروس په مسلمانو رياستونو كي دتوزيع لپاره قرآن كريم اوزبكي يي تهيه شوي اوهلته واستول شول .

جمهور رئيس اوجنرال اختر په دي باور ؤ چي هدف يي نور ډير نږدي دي - هغوي ديوه ځواكمن اوستر پاكستان راتلونكي څارله ، ديوي ستري فتحي خوب يي په

زړه او دماغ منګولي لګولي وي ، ديوي ډيري باوري او موثقي منبع په قول په ۱۹۸۷ کال کي شهيد جمهور رئيس اوجنرال اختر ميرامشاه ته نژدي دمجاهدينو يوه مرکز « خوست» ته ولاړل .

هلته چي لږ موده وړاندي روسانو يوه ستره حمله کړي وه اوهلته چي په تيرو اتو کلونو کي ډيري سختي اوخونړي جګړي پيښي شوي وي ، دا دافغانستان دننه دمجاهدينو يو ډير ستر مرکز ؤ چي پخي سمڅي اوغارونه يي لرل ،ددي سفر راز له دواړو جنرالانو اوددوي له دوو تنو نژدي همرازانو او دالوتکي له پيلوټ نه پرته نه ؤ معلوم ، هغوي په يوه هليکوپتر کي سپاره شول او د« ژوره » مرکز ته ولاړل، له هغه ځايه بيا له يوه ساعته پياده مزله وروسته د« داغ بيلي» مورچل ته ورسيدل ، پرلوړغره پرتي دغي مور چي څخه لاندي دخوست ښار، هوايي ډګر او نور تاسيسات روغ ښکاريدل هلته دواړه له لږ وخت تم کيدو وروسته بيرته راستانه شول .دلافاني راتلونکي په يوه جادويي خوب کي دواړه جنرالان يوبل ته ډيرنژدي شول ، يو پر بل دپوره اعتماد نه په ډکه فضا کي دواړو پرراتلونکو ورځو فکر کاوه ، په هغو ورځو چي له افق نه يي دپاکستان ولس او دسيمي نورو مسلمانانو ته د نيکمرغي اوعظمت ديوه نوي دوران درا ښکاره کيدو امکان ؤ .

د«پوځ کور» شاته چي جنرال ضيأ پکي اوسيده په ځانګړي ډول جنرال اختر هم يو کور ترلاسه کړي ؤ ، هلته به دواړه تر ډيره وخته يوازي يو له بل سره په مرکه ناست وو . جنرال ضيأ به ډير ځله يوازي خپل دريور له ځانه سره ملګري کړ اودجنرال اختر کره به ورتلو چي پردي به دامنيت مسئولينو ډير ځله انديښنه هم ښکاروله . او جمهور رئيس ته به يي ويل چي داله امنيتي تدابير ونه بلکل سرغړاوي دي . خو هغه به کله جدي اوکله په موسکا ځواب ورکړ !

« فکرمه کوي ، زه په محفوظو لاسونو کي يم »

دځنو نورو لوړ رتبه امرينو په څير دجنرال ضياء اوجنرال اختر ترمنځ دتلفون نيغه رابطه هم وه ، خو دواړو له دي لاري له ډير تماس نيولونه ډډه کوله . کله به چي کومه حساسه خبره وه بيا به دواړو له يوبل سره کتل اوپه خلاصه فضا کي به يي مخامخ خبري کولي . هغوي مهم موضوعات تر چت لاندي نه مطرح کول .

دجنرال اختر دميز په خانه کي يوه وړوکي دايري (دنوټ کتابچه)وه چي په هغي کي به يي له جمهور رئيس سره دمهمو موضوعاتو پر سرد خبرو اترو ليست نيولي ؤ . که به ددواړو ترمنځ ديوازي ليدو کتو امکان او فرصت نه ؤ نو بيا به دواړه دجمعي په لمانځه کي د پوځي کلا په وړوکي جومات کي يوازي کيناستل ، هغوي به له جومات نه ترلمانځه وروسته ووتل اوديوي کوچني ونې لاندي به ولاړ وو او خبري به يي کولي . جنرال اختر به له جيبه دنوټ کتابچه را وويستله او خپل يادښتونه به يي دجمهور رئيس حضورته وړاندي کړل . شهيد جمهور رئيس به په هغو کي دځنو ټکو دوضاحت غوښتنه کوله ، دځنو احکامو دتعميل پوښتنه به يي کوله . اودځنو په باب يي ويل چي په دي به وروسته خبري کوو . د ۱۹۸۷ په مارچ کي جنرال اختر دآي اس آي له مشرتابه څخه لري شو خو ددوي ترمنځ دغه معمول دوام وموند ، له آي اس آي څخه تر بيلتون وروسته هم جنرال اختر دافغانستان دمسئلي په اړه دمشورتي کميسيون غړي ؤ ، چي بيا يي هم نظر ته تر هر چا زيات قدر اواهميت ورکول کيده ، که څه هم هغه اوس پريکړه نشواي صادروالاي او غوره لاره يي نشواي عملي کولي .

روسانو په افغانستان کي کومه اداره جوړه نه کړاي شوه آن چي د افغاني پوځيانو دتيښتي مخه يي ونشواي نيولي ، سره له دي چي پر مخنيوي يي ډير زور اچولي ؤ . خوهغوي د« ۷۰» زره تنو پټو پوليسو « خاد» په شبکه جوړولو بيا هم کامياب شول چي هغو ته يي اوس دوزارت تشکيل جوړاودواد« وزارت امنيت دولتي » په نوم ونومول شو .

د ۱۹۸۰ کال ديوه تړون له مخي د« واد » زياتره غړي په مسکو کي د« کاجي بي » ترنيغي څارني لاندي روزل کيدل – په پاکستان کي د« واد » فعاليتونه هم د « کاجي بي » تر مستقيمي څارني لاندي تر سره کيدل .

دتخريب کاري لپاره ددوي مرکز په کراچي کي ؤ اودمعلوماتو راغونډولو لپاره ټول پاکستاني چپ لاس روښانفکران ورسره ملګري وو .

دپاکستان اوافغانستان دسرحددنه کنترول په وجه په پاکستان کي د « واد » فعاليتونوته ښه زمينه برابره وه ، دهغوي ځني غړي دمهاجرو کمپونو ته په ننوتلو اودجهادي ګوندونو دکار تونو په ترلاسه کولو بريالي شول ، په کراچي کي دروسيي فرهنګي مرکز د« واد » دغړو په واسطه دپاکستان له زده کوونکو اومحصلينو سره داړيکو ټينګولو هڅه کوله .

دنمايشونو اوکليزو دلمانځني په مراسمو کي به ددي اړيکو ټينګيد و اهتمام کيده – په ۱۹۸۷ کال کي په کراچي کي دترقي خوښونکو اديبانو له کنفرانس نه « واد » زياته ګټه اوچته کړه ، دجګړي له حالت سره سره پاکستان افغانستان ته دکراچي له

بندر څخه د خپل تجارت دجریان اجازه ورکړي وه څکه ددي په بندیز پر افغان ولس فشار زیاتیده - په کراچي کي دافغان حکومت قونسلګري هم دجاسوسي مرکز حیثیت درلود ، دچپ لاسو پنځو ګوندونو په مرسته په هر کال کي په زرګونو تنه پاکستاني محصلین روس ته استول کیدل . هلته دوي ته مفت تعلیم اوفن ورزده کیده ، « واد » دډیورنډ کرښي ته نژدي دترور اووحشت دپروګرام عملي کولو یوه طرح تر لاس لاندي ونیوله ، دافغان جهاد له پیلیدو سره دوي په پاکستان کي دننه په تخریب کاري او چاودنو پیل وکړ خود ۱۹۸۷ کال په پیلیدو ئې ورو ورو زور ونیو ، له دوي سره په دي تخریب کي دهند جاسوسي شبکي « را » هم لاس درلود ، کوم چي د سند په ایالت کي له پخوانه لاس په کار اومشغول وو . کله چي په هندي پنجاب کي وضعیت خراب شو نوهند وانو دپاکستان په نورو ښارونو کي هم دچاودنو او تخریب طرحي ترلاس لاندي ونیولي چي د ۱۹۸۸ کال تر رارسیدو ددوي فعالیتونه ډیر ګړندي اوخطر ناک شول ۱۹۸۷ کال دپاکستان لپاره دتخریب کاري اوترور کال ؤ ، په پیښور،کراچي - لاهور ، پنډي اونوروښارونو کي په سلګونو تنه پاکستانیان دبمونو په درد ناکو چاودنو کي وژل شول .

هغه قوم چي جګړي اوتباهي ته په ذهني ډول نه ؤ اماده شوي نو ددغو تخریب کاریو په نتیجه کي له راپیدا شوي ویري اوهیبت څخه پاکستاني سیاسي لیډرانو دشهید ضیاء پرخلاف کاروا خست - په هره دغسي پیښه کي پر هغه اوځنو مجاهدو مشرانو دملامتي اوبړي بار واچول شو .

دغه سیاسي لیډران ددي منلو ته نه وو تیار چي افغان مجاهدین دپاکستان دسلامتي جګړه پرمخ بیایي .

په۱۹۸۸کال کي دګورباچوف اوریګن ترمنځ دافغانستان دربړي په رابطه یوه چو-په اوپټه معاهده وشوه -په ښکاره دواړو لوریو داومنله چي له افغانستان څخه باید روسي پوځونه ووزي خوامریکا بیا داهم ومنله چي روسان درسواماتي له شرمه وژغوري او په غالب ګومان ددوي ترمنځ پردي هم توافق وشو چي په افغانستان کي دهغوي خطرناکو « بنسټ پالو » دحکومت مخنیوي وکړي چي په ایران کي یي ورونو د« نه شرقي نه غربي » شعار اوچت کړي دي .

ګورباچوف اعلان وکړ چي که دجنیوا تړون لاسلیک شي اوکه نه ، روسي پوځونه به له افغانستان څخه خامخا وزي ، دلته دجمهور رئیس ضیاءالحق دهلو ځلو په نتیجه کي بالاخره جهادي مشران دي ته تیار شول چي دکابل له هغو ښو مسلمانانو سره ګډ حکومت جوړ کړي چي مسلمانان وو خو په جهادي کي ئې نیغه برخه نه لرله اودکمونستي رژیم سره یي هم هیڅ ډول مرسته نه ده کړي . په جنیوا کي دخبرو اترو وروستي پړاو پیل کیدونکي ؤ ، دبهرنیو چارو وزیر صاحبزاده یعقوب خان دملګرو ملتو داداري یونسکو دانتخاباتو تر بایللو وروسته دبهرنیو چارو له وزارت څخه ګوښه کړای شو . اوزین نوراني چي یونیم کال دبهرنیو چارودمعین په حیث روزل شوي ؤ د جونیجو دحکومت نوي دبهرنیو چارو وزیرو ټاکل شو .

جمهور رئیس ضیاء الحق پردي ټینګار کاوه چي پر روس فشار راوړل شي اودآزادي نړي اوامریکا په ملاتړ او تائید په افغانستان کي دهغو جهادي ځواکونو حکومت جوړ شي چي تیر لس کلونه یي قرباني ورکړي اوپه دغه ستره تاریخي فتحه کي یي رښتیاني رول درلود .

ناځاپه د اوجړي کیمپ په پوځي چوڼي کي چاودني وشوي اودراولپنډي ښار او کوڅي یي وړچولي ، په داسي حال کي چي جمهوررئیس اوصدراعظم دواړه له هیواده بهر وو ، جنرال اختر ته چي دوسلو الو قواوو دګډي کومیتي مشر ؤ ددي کوم نیغ مسئولیت نه ؤ متوجه ، خو هغه وروړاندي شو اودپیښي دپلټني پیل یي وکړ . د «آي اس آي » دمشرتابه په دوران کي هغه په هفته کي دوه ځله دغه پوځي چوڼي ته ورته اودلته هغه غیر معمولي امنیتي تدبیرونه نیولي وو تردي چي دپوځ زیات جنرالان هم له هغو نه ناخبره وو - خو وروسته بیا دهمدومره امنیتي تدابیرو سر بیره رازونه ساتل شو اودښمن ته ددي ځاي راز افشا شو ، ظاهراً داسي ښکاریده چي دروسانو دشاته تګ له ویري دا د« واد» کارؤ ، خوځني باخبره ماهرین بیا وایي چي دا د وسلو دتهیه کولو اصلي منبع « سي آي اي » کارنامه وه چي اوس د« آي اس آي » له موجودیت څخه ناخوښ اوخفه وو . دپیښي دتحقیقت لپاره دامریکایي یو ټیم چي ټیکري یي اغوستي وو الوزول شوي کمپ ته ننوتل دوي داتجویز وړاندي کړ چي اسلام آباد او پنډي ښارونه باید له اوسیدونکو څخه خالي کړاي شي ، دجنرال اختر په حکم پوځي ځواکونو کتارونه وتړل او کمپ ته ننوتل اوپخپلو لاسویي پاتي وسله اومهمات راوویستل او بل ځاي ته یي انتقال کړل .

له بهر نه تر راستنیدو وروسته صدراعظم محمد خان جونیجو اعلان وکړ چي دا وجړي کیمپ دپیښي تحقیقات به وشي اومسئول کسان به محاکمه شي خو وړځي وروسته په هند کي هم همدغسي یوه پوځي ډیپو وچاودیدله خو هلته دکوم جنرال پر خلاف ځه اقدامات ونه وشول .

جمهور رئیس چي کله له بهرنه راستون

شو جنرال اختر عبدالرحمن ته يې يوليك واستاوه اود اوجړي كيمپ له پيښې وروسته يې دحالاتو په كنترول دده ستاينه كړې وه .

صدراعظم جونيجو دخپلې كابينې پنځه كسيزه كميټه د ابراهيم بلوچ ، قاضي عابد ، رانا نعيم ، اسلم خټك اونسيم آهير په شمول تشكيل كړه چې دپيښې تحقيقات بشپړ كړي ، وروسته بيا ددوی په ترتيب شوي راپور كې ويل شوي وو چې دا ددښمن تخريبكاري ده اوكه چاپه دې رابطه غفلت كړې وي نودهغه پر خلاف دپوځي قانون له مخې اقدام كيداى شي . ددې كميټې نور غړي هغه وخت هك حيران شول چې اصل راپور رانا نعيم بدل كړ اودهغه پرځاى بل راپور وړاندې شو، پردې راپور دكميټې ددرې تنو لاسليك ؤ داسلم خټك اونسيم آهير لاسليكونه ورباندې نه وو پاتې د وو نورو غړو هم قسمونه خوړل چې ددوی لاسليكونه جعلي دي يوازې ديوه غړي راپور مستند اوباوري گرځول كيده ، هغه دخلكو گوند پيپلز پارټۍ مشرې بې نظير بوټو ته ورغي اوورسره ويې وكتل دهغه دغه تصوير داطلاعاتو داداري له خوا په اخبارونو كې چاپ شو چې دې پكې له يوه ملاقاتي نه ديوه راپورچي په څير ښكاريده .

دجمهور رئيس له شهادت نه وروسته هغه ناڅاپه دپيپلز گوند په موټركې سپور شو.

دجونيجود كابينې يوه وزير برالا دا ويل چې جنرال اختر او ځني نور افسران بايد له خپلو دندو نه بر طرف كړاى شي ، آيا دا نظر وزيراعظم تائيد كړى ؤ او آيا هغه په دې نه پوهيده چې جنرال اختر يو كال دمخه د« آي اس آي » له مشرتابه نه لرې شوى دی ؟

دجنيوا خبرواترو په رابطه دجمهور رئيس اوصدراعظم ترمنځ له پيله ډير ژور فكري اختلاف موجود ؤ ، صدراعظم په راولپنډۍ كې دسياسي گوندونو دمشرانو گردې ميز داير كړ ، په هغې كې دچپي گوندونو ليډرانو او دخلكو گوند مشرې « بې نظير بوټو » دلومړي ځل لپاره بې له قيد اوشرطه گډون وكړ اود جينوا پر تړون بې دلاسليك رايه وركړه . په دې وخت جمهور رئيس ښه پوهيده چې كه پاكستان مقاومت وكړي نو روس اوامريكا به په افغانستان كې دعبوري حكومت پر جوړولو توافق كوي . دگردې ميز دلومړي

> هغوي تر ټولو زيات دانجنير گلبدين حكمتيار پرضد دير فعاليت وكړ- كوم چې دوی ته دافغانستان امام خميني ښكاره كيده حكمتيار ډير له ستونزو سره عادي اودنظم اواداري پلوي مشر دي، دهغه گوند په دې باره كې يو ځانگړي مثال دي

ورځې په پاى كې هغه دكابينې غړوته وينا وكړه په داسې احساساتو اوجوش چې دده دمزاج اوطبيعت خلاف وه ، جونيجو اوملگروته يې وويل چې كه دخپلو شرطونو له منلو پرته پر تړون لاسليك وشي نو پاكستان به يوه تاريخي موقع له لاسه وركړي - دبهرنيو چارو معين زين نوراني ته يې په خطاب كې وويل : كه تا پر تړون لاسليك وكړ نوپاكستاني ولس به دې غوښې په نوكانو وشكوي .

خو نوراني ښه پوهيده چې داسې نشي كيداى - پاكستاني ولس نه پوهيږي چې له هغوي سره څه معامله كيدونكې ده .

څوورځې وروسته دمسلم ليگ گوند دملي شوري غړي دروان تاريخي سياسي حالت څخه دخبرولو په منظور راوغوښتل شول چې جمهور رئيس پخپله په هغه غونډه كې دشركيدو غوښتنه وكړه دهغه دانظر و چې څوك غلط او دروغ معلومات ورنكړي اواستعمال نشي او داوسينو حالاتو ربښتيني واقعات ورته تشريح شي جونيجو جمهوررئيس په داسې لهجه هغه غونډې ته راوغوښت چې اصلاً خوستا راغوښتلو اوشريكيدوته ضرورت نشته خو چې ته غواړې نوراشه او خپل نظر واوروه . همدارنگه راديو اوتلويزيون ته ځانگړې داهدايت وشو چې دجمهور رئيس دغه وينا نشر نكړاى شي . ددې غونډې ځني شاهدان كوم چې ستيژته نږدې وو وايي چې داحساساتو له زوره جمهوررئيس لاسونه لړزيدل خو په څيره اوجذباتو يې بيا هم كنترول درلود .

د١٩٨٨ كال داپريل په ١٤ مه دجينوا پرتړون لاسليك وشو چې دهغې له مخې به روسي پوځونه د١٩٨٩ كال دفبرورې تر پايه له افغانستان څخه بشپړ وتل ، پرتړون دپاكستان اوكابل دمزدور رژيم دنمايندگانو سربيره دامريكا نماينده دضامن په حيث لاسليك وكړ - پوره څلويښت ورځې وروسته محمد خان جونيجو اوحكومت يې په داسې حال كې برطرف شول چې هغه نوى دلرې ختيځ له سفر څخه راستون شوی ؤ .

جمهور رئيس ددې امر څخه وړاندې له چاسره مشوره نه وه كړې دناڅاپي خبري كنفرانس لپاره هغه بيانيه پخپله وليكله او دهغې له ټيپ څخه يې هم صرف نظر وكړ . دخبري كنفرانس په جريان كې دجمهور رئيس په لهجه كې هغه اعتماد نه ؤ لكه چې كلونه كلونه ورسره ؤ . خودا برالاوه چې هغه دغه جگړې ته په يوازې ځان دردېدو پريكړه كړې وه له ټولو گوندنو او گروپونو څخه بيل اوله خپلو بهرنيو حليفانونه ليرې

شگفت انگیزترین واقعه یی که در قرن ما به وقوع پیوست !

محمد معروف « فروغگر »

فلمی که میتوان آن را معجزهء قرن حاضر اسلام دانست ، همین اکنون در دسترس حکومت عراق قرار دارد ، از حکومت پاکستان میخواهیم که این فلم را از حکومت عراق خواسته واز استدیوهای تلویزیونی اش به معرض نمایش جهانیان قرار دهد ، تا روس وممالك دیگر نامسلمان از دیدن آن به عظمت وبزرگی دین مبین اسلام معتقد شوند ، باید تذکرنمود که بادیدن این فلم به صدها هزار کفار به دین اسلام مشرف شده بودند .

این واقعه ، واقعه قرن حاضر است که در عراق به وقوع پیوسته است : زمانی که فیصل اول حاکم عراق بود ، شبی یکتن از صحابه رسول الله صلی الله علیه وسلم (حذیفه بن ایمان رضی الله تعالی عنه) را که از وفاتش تقریباً سیزده صد ۱۳۰۰سال میگذشت درخواب دید او برایش گفت که در قبرم آب فرود آمده وقبر جابر بن عبدالله نم آلوده شده است لهذا شما ما را بجای محفوظ انتقال دهید ! باید بیاد داشت که حضرت حذیفه بن ایمان رضی الله محرم راز رسول کریم صلی الله علیه وسلم بود ودر اکثر غزوات باوی صلی الله علیه وسلم شریك میبود ، در حالی که حضرت جابر بن عبدالله نیز در غزوات شرکت نموده وامتیاز دیگری که داشت این بود که هرگاه رسول الله به نقد وجنس ضرورت پیدا میکرد از وی قرض میخواست شاه فیصل شاه عراق چون در امور کشور داری خیلی منهمك بود (ویا اساساً رؤیا را اهمیت نمیداد ویا عقیده وی سازگاری نمیداشت) این خواب حیرت انگیز را فراموش کرد ومصروف کارهای کشور داری شد، شب دوم بازهم حضرت حذیفه رضی الله عنه در خواب شاه عراق آمد ، ولی اتفاقاً این بار نیز وی این خواب را فراموش کرد . شب سوم حضرت حذیفه رضی الله عنه در خواب مفتی اعظم عراق آمد وعین مطلب را که به شاه عراق گفته بود به وی گفت ، من بار دوم نیز شاه عراق را خبر داده ام ولی وی نسبت به مصروفیت هایی زیادی که دارد فراموش کرده است ، مفتی اعظم فوراً از خواب بیدار شد وصحابی یی را که سیزده صدسال بعداز مرگش در خواب دیده بود باعث نگرانی اش شد، فورا بر آن شد که موضوع را از راه تلفون به نخست وزیر عراق « نوری العید پاشا » در میان گذارد – بعداز این تماس تلفونی قرار بر آن شد که مفتی اعظم ونخست وزیر به شاه عراق رفتند وموضوع را درمیان گذاشتند ، شاه عراق به ایشان گفت : من واقعاً این واقعه را در خواب دیده بودم ولی فراموشم شد ، ولی با آن هم وی میخواست قبل از انتقال جنازه صحابه رسول الله صلی الله علیه وسلم از جای اولی اش به جای دیگر – این حقیقت را ثابت کند که واقعاً در قبر های شان آب فرو آمده است ویا فقط این واقعه خواب محض است ! طوری که اوبه مهندسان ریاست شهرسازی که آنها زمین مجاور مزار های صحابه را معاینه کنند که آیا واقعاً آب دارد ؛ زیرا شاه عراق در اندیشه آن بود که خوابش به خطا نرفته باشد ودست به بی حرمتي مزار های صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم نزند ، انجنیران ریاست تعمیرات به فاصله بیست فت از مزار ها به طرف دریا زمین راحفر کردند وخاك آن را غرض معاینه بیشتر به لابراتوار فرستادند بعداز معاینه لابراتوار ثابت شد که در این ساحه آثار آب دیده نمی شود ، بعداز آن که شاه عراق از ماجری وتحقیق انجنیران آگاه شد بشمول مفتی اعظم ، نوری العید ودیگر منسو بین بلند پایه دولت همه مطمئن شدند ورویای گذشته را خواب محض تصور نموده ازان فروگذاشت کردند ، شب آینده حضرت حذیفه رضی الله عنه بازهم درخواب مفتی آمد وماجرای گذشته را باز تکرار کردویالهجه شکوه امیز به وی گفت که شاه وقت سخن مارا اهمیت نمیدهد ، مفتی باشاه دوباره تماس گرفت وچیزی راکه در خواب دیده بود به وی بازگونمود ، شاه به وی گفت : در حالی که نتیجه تست خاك

محیط مزار را خود دیدی باز چه ضرورت است که به رویا محض باورمیکنی ؛ .... ولی با آن هم مفتی برسخن خود مصرماندوپافشاری نشان داد که حتماً باید مزار صحابه از جایش به جای دیگر انتقال یابد ؛ وقتی شاه از مفتی عراق فتوای انتقال مزار صحابه را گرفت ، در ایام عید قربان البته بعداز نماز ظهر از راه رادیو تلویزیون اعلان کرد که مزار صحابه را به جای دیگری انتقال میدهد ، اعلان گشایش قبور صحابه آن هم بعداز ۱۳۰۰ سیزده صد سال آوازه وسروصدای زائدالوصفی را در گوشه گوشه جهان به راه انداخت ، واین رابطه از هر گوشه وکنار جهان باشاه عراق رابطه گرفته شد. کسی مکتوبی رابطه گرفت ، کسی تلفونی وکسی .... در این روابط اکثر مردم خواهش کرده بودند که در انتقال مجدد جنازه صحابه کرام اشتراك داشته باشند ، چون ایام صبح بود وسایر حجاج ازین موضوع آگاهی یافته بودند- لذا میخواستند هرقسمی که ممکن باشد در مراسم انتقال مجددجنازه صحابه کرام شرکت ورزند وآن هستی های نورانی را از نزدیك ببینند از سوی دیگر نصرانی ها وکمونستها نیز خواستند که روز انتقال اجساد مطهر صحابه کرام به آن ها نیز معین شود تا بتوانند با استفاده از فرصت خبرنگاران وهیئت شان را به این مراسم بزرگ بفرستند ... حکومت عراق باتدابیر لازم جهت حفاظت قبور صحابه ازآب اعلام داشت که بعداز ده روز انتقال جنازه ها صورت میگیرد ؛ در جریان این ده روز مردم از هرگوشه وکنار جهان به عراق سرازیر شدند وروز موعود فرارسید وسرانجام ده روز بعداز ایام صبح هنگامیکه روز دوشنبه در حضور پنج صد هزار (۵۰۰۰۰۰) نفر قبورصحابه را شگافتند همه دیدند که واقعاً درقبرهای صحابه رضی الله عنهم آب فرود آمده بود حکومت عراق قبلاماشنی را تدارك دیده بود که نعش های مبارك صحابه را توسط آن از قبر های شان بیرون کند، همان بود که در حضور ولی عهد مصر « ملك فاروق » ووزیر مختار مصطفی کمال اتاتورك رئیس جمهور ترکیه وعلمای جید منطقه وجهان این نعشهای مبارك را به بسیار احترام از

از چهره هریك شان نورمی بارید ودرچشمان شان درخشندگی خاصی دیده میشد ، کسی را مجال آن نبود که با ایشان چشم به چشم شود واگر کسی میخواست این کار را بکند خوف وهراس بروی طاری می شد - اتفاقاً در آن جا داکتر جرمنی که متخصص امراض چشم بود نیز حضور داشت ، وی پیوسته با این که چشمان صحابه را دید به شتاب نزد مفتی اعظم عراق شتاف وبا اقرار این حرف که تا اکنون چشمانی به این جذابیت ودرخشنده گی نه دیده است - به وی گفت که اسلام رابه من تعلیم کنید وبه این ترتیب اسلام آورد ومسلمان

قبرهای شان بیرون کردند ودر تابوت های شیشه یی جابجا نمودند جریان این واقعه را یکتن از کمره منهای جرمنی در پرده بزرگی که ده گز طول داشت وتقریبا هفت گز عرض به مردمی که از محل واقعه دور قرار داشتند توسط کامره تلویزیونی به نمایش گذاشت . چون این بحرخروشان مردم دیدند که با وجود ۱۳۰۰ سال هنوز هم کفنهای صحابه سفید است وپوسیده نشده است ومحاسن شان نیز سفید وپاك وتمیز - که بادیدن آن هرکس می پنداشت که صحابه کرام همین اکنون چند ساعت قبل وفات کرده اند -گرچه وفات حذیفه بن ایمان در سال ۳٦ هـ ق ووفات حضرت جابر بن عبدالله در سال ۷٤ هـ ق واقع شده بود .

از چهره هریك شان نورمی بارید ودرچشمان شان درخشندگی خاصی دیده میشد ، کسی را مجال آن نبود که با ایشان چشم به چشم شود واگر کسی میخواست این کار را بکند خوف وهراس بروی طاری می شد - اتفاقاً در آن جا داکتر جرمنی که متخصص امراض چشم بود نیز حضور داشت ، وی پیوسته با این که چشمان صحابه را دید به شتاب نزد مفتی اعظم عراق شتاف وبا اقرار این حرف که تا اکنون چشمانی به این جذابیت ودرخشنده گی نه دیده است - به وی گفت که اسلام رابه من تعلیم کنید وبه این ترتیب اسلام آورد ومسلمان شد . چون جهت دیدار عامه مردم کفن از چهره های صحابه بدر زده شد قوای نظامی عراق به علامت سلامی توپها را یکی پی دیگر فیر کردند ، وقتی که جنازه ها را مردم برداشتند وبجای دیگرانتقال میدادند طیاره های قوای هوایی عراق در فضا نمایان شدند وبه رسم تعظیم وبزرگداشت برجمع غفیر مردم ملاق میزدند وبه صحابه کرام ادای رسم تعظیم وسلام میکردند وبرمردم گل افشانی میکردند چون جنازه صحابه کرام را تا نزدیك مزار سلمان فارسي رضی الله عنه رساندندن باوصفي که راه بسیار کوتاه بود نظر به تراکم نفوس این راه کوتاه در چهار ساعت طی شد وقوای بری ، بحری وفضایی عراق رژه رفتند وقسم گارد خاص رسم تعظیم را بجا آوردند فضا را غرش طیاره ها وفیر متواتر توپها به سرگرفت وبه تعقیب آن نعره های کفر شکن «الله اکبر» در زمین وآسمان عراق طنین انداخت از ین مجمع بزرگ به هزاران تن اسلام را بحیث دین قبول کردند واین واقعه چون خاطره فراموش ناشدنی برلوح خاطرات هر یك آن هانقش بست ...

داسلامي نظام دقائمې یواځنی لار جهاد دی

دپکتیا ولایت دجهاد آمر انجنیر فیض محمد د« حریت » له خبریال سره دیوي مرکي په ترڅ کي دي پوښتني ته چي په افغانستان باندي مو دروسي لښکرو دیرغل خبر چیري واورید اوڅه احساس مو وکړ داسي ځواب ورکړ : « زه لومړي له خپل محترم ورور ځخه ډیره زیاته شکریه اومننه کوم چه دانقلاب پدي حساس وخت کي مو له ما څخه دا پوښتنه وکړه . ستاسي دي پوښتني ما ته یوځل بیا دا را په یاد کړه چي دلوي خداي «ج» ارشاد

«وقل جاألحق وذهق الباطل ان الباطل كان ذهوقا » یوځل بیا څنګه دتاریخ دیوي لوئي حادثي اودپیړي دیوه لوي تحول په شکل تحقق پیدا کړ. همداراز دالله «ج» ددي مبارك قول عملي مصداق مي سترګوته دریږي چي « قاتلوهم یعذبهم الله بایدیکم ویخزهم وینصرکم علیهم ویشف صدور قوم مومنین ط -١٤ التوبه .

ما دجدي دشپږمي نیټي په مابنام ددنیا له ټولو رادیوګانو څخه دببرك كارمل دهغي رادیوئي وینا خبر چه له تاشکند څخه خپره شوه اوپه هغي کي ئي وویل چي موږ نوي پړاوته دثورانقلاب درسیدلو لپاره اقدام کړي واورید !

زه په دي وخت کي دحزب اسلامي دتنظیم المؤمنین په غنډکي چه یو جهادي سنګرو دغند دشوري دعضو په حیث په وظیفه بوخت وم دادحزب یوابتدائي غنډ و ، نو په هغه وخت کي موږ خپل دشوري اعضا راجمع کړل ، فیصله مووکړه چي دموقع څخه باید استفاده وشي ، اوسملاسي په خپلو عملیاتو پیل وکړو ، هغه وچه یو ګروپ مجاهدین مو منظم کړل او دځاځیمیدان په ولسوالي موخپل عملیات پیل کړل. ټولو افغاني صاحب منصبو ته موخبر ورکړ چي که په تاسو کي دمسلماني څه احساس موجود وي

انجنیر فیض محمد

اویا دافغانیت ، له مجاهدینو سره رابطه قایمه کړي چي وکولي شو په ګډه دافغانستان له پاکي خاوري څخه روسان په بیرته تلو مجبور کړو ،البته دا اعلان دهغو خلکو لپاره وو چي کمونیستان ئي په اصلي څیره نه پیژندل . که څه هم موږ دکمونستانو اصلي څیري په هروخت خپلو خلکو ته وروپیژندلي وي چي هغوي دروسانو غلامان دي خو ددي لپاره چه روسانو مستقیماً په افغانستان تیري وکړ، یو نیم لك پوځ ئي داخل کړ فکر موکړ، چي کیداي شي اوس هغو کسانو ته چي کمونستانو ته ئي دشك په سترګه کتل دابیخي روښانه شوي وي چي افغانستان دوطن فروشوکمونستانو د مستقیمي همکاري په وجه دروسانو له خوا اشغال شو ، باید خپل روابط له کمونستانو سره وشلوي اودمجاهدینو په خوا کي ودریږي اود مجاهدینو په همکاري دروسانو او دهغو دغلامانو په خلاف په عملي جګړه لاس پوري کړي . زما احساس داو چي روسان به له سخت مقاومت سره مخامخ کیږي اوبالاخره به بري زموږ دولس په برخه وي »

انجنیر فیض محمد دیوي بلي پوښتني په ځواب کي وویل : «مادروسانو دموجودیت په دور کي دپکتیا ولایت د مختلفو منطقو په عملیاتو کي برخه اخیستي ده چي څو نمونې ئي درته ذکر کوم ، دځاځي میدان په ولسوالي باندي مو په ١٣٦٢ کال پراخ عملیات وکړل او ددښمن زیاتي پوستي موفتح کړي .

دعملیاتو په بهیر کي مو ددښمن په هغي لوي قوا چه دکابل څخه دګردیز - میرزکي، شهرنو او ځاځیمیدان دلاري خوست ته راغله اوبیائي دژوري په استقامت زموږ په غنډ (دشهید جهاد وال غنډ، اودمولوي صاحب جلال الدین حقاني په غنډ حمله وکړه برید وکړ چي پدي عملیاتو کي دښمن ته لوي درانه مالي اوځاني تلفات ورسید ل. زیات شمیر جیت الوتکي ،هلیکوپټراو جنګي وسایل ئي

لکه ټانکونه او زرهپوش له منځه ولاړل اوزیات افراد ئي ونیول شول چي بیا وروسته ورسره شرعي معامله وشوه .

اوهم یوه بله لویه قوه چي دنبي عظیمي ترمشري لاندي دروسانو په همکاري خوست ته راغلي وه اودژوري په سیمه برید وکړ،

خوورځي مسلسل دمجاهدینو دکلك برخورد اومقابلي سره مخامخ شوه چه بالاخره بیرته ماتي ته مجبوره شوه اولویه ضربه ئي وخوړه ».

فیض محمد دروسانو دتاکتیکونو په برخه کي یوي پوښتني ته دځواب ورکولو په ترځ کي څرګنده کړه : « روسانو په خپلو تهاجمي حملو کي له مختلفو تاکتیکو نو څخه کاراخیست چه کله به ئي غوښتل چه دمجاهدینو په خلاف حمله شروع کړي نوبه ئي دخپلو زر خریده غلامانو په لاس پیس توزیع کولي ، زیات منفي تبلیغات به ئي کول ، بیا به ئي وروسته دالوتکو په وسیله شدیده بمباري کوله ،کلي به ئي ورانول ، زراعتي ځمکي به ئي خرابولي کله به چي په ځمکو کي فصل ولاړ وو ، داور بمونه به ئي استعمالول تر څو مجاهدین له لوږي سره مخامخ شي، ولس له خپلو کلیواو بانډو څخه په هجرت مجبور اومنطقه تري خالي شي ، بیا به ئي د توپچي شدید انداخت کولو کله به چه اطمنان ورته حاصل شو چه ګوندي دښمن ئي په پوره اندازه ټکولي نوبیا به ئي پیاده حملي پیل کړي ،خپل عسکري قطعات ئي پداسي شکل استعمالول چه اول به هغه عسکر اوصاحب منصب وو چه ګوندي کسان به نه وو ، یابه ئي دپلچرخي زندانیان مخي ته کول ،دهغوي تر شا به ئي بیا کمونست صاحب منصبان قوماندہ کړل اوپه دریم خط کي به روسي پوځیانو په حمله کي ګډون کولو البته روسانو ترهر افغان نه دوي ته زیات اهمیت درلود .بیا کمونستانو دوي ته تر بل افغان زیات اهمیت درلود . دجګړي په اول خط کي به هغه بي ګناه افغانان پراته وو چي یا به محبوسین وو یا به هغه خلك و چه په زوره ئي عسکري ته مجبورکړي وو .

البته ،روسانو دافغانستان په مختلفو ځایونو کي په مختلفو تاکتیکو نو حملي کولي په ځیني ځایونو کي به ئي کمین نیولو ، په هغو ځایوکي چه یابه دمجاهدینو دعبور او مرور لاري وي کمین به ئي ونیولو چي لارویان به ئي په ډیره بي رحمي په شهادت رسول .په کلیو اوباندو به دروسانو وحشي لښکرو د تلاشي په نامه تعارض پیل کړ چه پدي نوع حملو کي به دافغانانو زیاته بي عزتي کیدله – د خلکو شتمني لوټ کیدلي ،دافغانانو دناموس بي عزتي کیدله، بي ګناه افغانان به داشرارو په نوم وژل کیدل چه دافغانستان په هر ګوټ کي داناوړه وحشیانه حملي پداسي شکل ترسره شوي چه قلم ئي له لیکلو څخه عاجز دي .خو لله الحمد دخداي «ج» سنت دي چي دظلم ماڼي نسکوربږي دروسانو دظلم کلاوي دبي وزلي افغانانو په لاس داسي وراني شوي چه چا ئي تصور هــم نشواي کولاي .

کمونیزم ختم شو، دلور اوڅټك سمبول چي یو وخت ئي دزور او افتخار سمبول بللو په خاورو ومو ښل شو ، دلیڼن مجسمي په ډیره بي عزتي رانسکوري شوي . البته دا دلوي خداي «ج» فضل اومرسته وه او دمظلوم افغان ولس دشهیدانو دوینو برکت و چي کمونیزم ئي له داسي رسوا سرنوشت سره مخامخ کړ. انشاءالله داځل دامریکائي استعمار دکبر دماڼي دماتیدلو واردي ،لوي ښتن دي اسلامي امت پدي امتحان کي هم کامیاب کړي ».

انجنیر فیض محمد زمونږ دقضیي د معقولي حل لاري په باب دحریت خبریال ته وویل :

« دافغانستان دقضیي دحل یواځیني ابرومندانه لار وسلوال جهاد دي. لدي څخه پرته دافغانستان دمسلمانانو ارمان نشي تر سره کیداي ،دا وسلوال جهاد و چي روسان ئي تیښتي ته مجبور کړل . دوسلوال جهاد برکت و چي دروسانو دغلامانو مشران په افغانستان کي یو په بل پسي له فضیحت اورسوائي سره مخامخ شول دوسلوال جهاد برکت دي چي دنجیب غوندي بدنام کمونیست نن دخپلي څیري بدلولوته مجبور دي .

مونږ جهاد دیوه ثابت هدف لپاره کړي ، مونږ هجرت دیوه معلوم اوڅرګند هدف لپاره کړي هغه هدف داسلامي نظام قیام دي اوداسلامي نظام قیام له جهاد څخه پرته په بله هیڅ طریقه ممکن ندي ».

البته روسانو دافغانستان په مختلفو ځایونو کي په مختلفو تاکتیکو نو حملي کولي په ځیني ځایونو کي به ئي کمین نیولو، په هغو ځایوکي چه یابه دمجاهدینو دعبور او مرور لاري وي کمین به ئي ونیولو چي لارویان به ئي په ډیره بي رحمي په شهادت رسول .په کلیو اوباندو به دروسانو وحشي لښکرو د تلاشي په نامه تعارض پیل کړ چه پدي نوع حملو کي به دافغانانو زیاته بي عزتي کیدله – د خلکو شتمني لوټ کیدلي ،دافغانانو دناموس بي عزتي کیدله، بي ګناه افغانان به داشرارو په نوم وژل کیدل چه دافغانستان په هر ګوټ کي داناوړه وحشیانه حملي پداسي شکل ترسره شوي چه قلم ئي له لیکلو څخه عاجز دي .خو لله الحمد دخداي «ج» سنت دي چي دظلم ماڼي نسکوربږي دروسانو دظلم کلاوي دبي وزلي افغانانو په لاس داسي وراني شوي چه چا ئي تصور هــم نشواي کولاي .

دګردیز دوروستیو جګړو دشهیدانو په یاد
دپکتیا دجهاد امارت «پیغام»

بسم الله الرحمن الرحیم

ولئن قتلتم في سبیل الله اومتم لمغفرة من الله ورحمة خیر ممایجمعون .

دالله «ج» شکر په ځاي کوم چي دګردیز دوروستیو جګړو دبرمیالو شهیدانو پاکو روحونو ته په داسي حال کي ددعا لاس پورته کوم اودغمجنو کورنیو اوپه وینو رنګیدلیو سنګرونو وارثانو ته یي دتسلیت اودرناوي مراتب وړاندي کوم چي « ذوانتقام » اوغیرتي خداي «ج» زموږ دشپاړس لکه شهیدانو دمظلومو وینو اودملیونو کونډو ، یتیمانو ، بورو او پرهارژلیو داوښکو اواسویلیو غچ له خونخواري او کبرجني روسیي څخه اخیستي دي .

واقعیت دادي چي موږ باید دغم پرځاي افتخار وکړو چي الله «ج» زموږ شهیدان دیوه عظیم الشان اومعجزي ته ورته نړیوال بدلون دراوستو له پاره انتخاب کړي وو ، داچي نن دروسیي دامپراتوري پرتم په خاورو لړل کیږي ، له کریملین نه دلور اوخټک بیرغ چي یو وخت دنه ماتیدونکي ځواک اوزور سمبول اودلسګونو ملتو دخوفناک اسارت نښه بلله کیده دکریملین له بامه رانسکوریږي ، د« شوروي اتحاد » نوم دجغرافیا له مخي نابود یږي اودغلامي ، زولنو ، استبداد اواختناق یوه توره دوره پاي ته رسیږي ، زموږ دګرانو شهیدانو سپیڅلي ویني اوزموږ دباعظمته

مجاهدینو تاریخي ـ جد وجهد یي اساسي عامل دي .

موږ آن په هغه وخت کي چي چا دروسانو دماتي خوبرېزده ددي تصور هم نشواي کولاي چي افغان محروم اوبي وسه ملت دي دهغو په مقابله کي ددریدو جرئت وکړي ، پدي قلباً معتقد وو چي لکه څرنګه چي څوارلس سوه کاله مخکي عزیز خداي «ج» دفیل دخاوندانو لښکري داباببیل مرغانو په کاڼو ټب ټب کړي ،همداسي به دشلمي پیړي دفیلانو خاوند طاغوتي اوستمګر روسي طاقت دګمنام اوتش لاسي افغان قوم په لاسونو خوار او ذلیل کړي ، اوالله «ج» به یو ځل بیا خپل داسنت تکرار وي چي : « الم ترکیف فعل ربك باصحب الفیل - الم یجل کیدهم في تضلیل - وارسل علیهم طیراً ابابیل - ترمیهم بحجارة من سجیل فجعلهم کعصب ماکول ».

تاونه لیدل چي ستا رب دفیل له ښتنانو سره څه وکړل ؟ ایا هغه دهغو تدبیر یا بیزه نکړ اوپر هغو باندي یي دمرغانو سیلونه ونه لیږل چي پر هغوي یي دپخي شوي خټي تیږي غورځولي ، بیایي دهغوي حالت داسي وګرځاوه لکه دخارویو شخوند وهلي وابنه .

دادي ګورو چي نن دروسي امپراتوري حالت له شخوند وهلي وښو هم بدتر دي .

موږ پدي باور درلود چي « والله جنود السموات والارض وکان الله عزیزا حکیما » دآسمانونو اومځکي لښکري دالله دي اوهغه عزیز اوحکیم دي .

په همدي بنیاد موږ ان په هغو ورځو کي ددښمن له فضیحته ډك انجام ته منتظر وو چي نورو دروسانو په خلاف زموږ دڅو میاشتو په مقاومت هم باور نه درلود .

سره له دي چي زموږ دشهیدانو به بهیدلیو مقدسو وینو دا ستر جهاني نتایج مرتب شول ، ګن شمیر محکوم ملتونه زموږ دشهیدان دوینو په طفیل خپلواك شول ، دکرو ړونو پر ګنو له لاسونو اوپښنو دهیبتناك اسارت زولني اوولچکونه مات شول ، دملیونونو انسانانو ستوني داستبداد او اختناق له سرو منګولو خلاص شول ، له لسګونو کلابند و ملتونو دجبر اواستعمار تاوشوي پولادي دیوالونه مات شول خومتأسفانه چي په خپل هیواد کي مولا دشهیدانو آرمان نه دي پوره شوي ، اوهغه مزدور اوبدنام رژیم لا په کابل کي پروت دي چي دبقاهره شیبه ئي زموږ دشهیدانو دپاکو وینو توهین اودهغوي دسپیڅلو روحونو ځوریدل دي .

دلته په طبیعي توګه دا پوښتنه پیداکیږي چي له هغه ټول عظمت سره سره چي زموږ جهاد تري برخمن دي اوله خپل ټول زور سره سره ئي یوه امپراتوري

په واقعي مفهوم ریز مریز کړه ولي دیوه بي بنسټه رژیم په رانسکورولو کي لاپاتي دي ؟

ددي پوښتني مطرح کولو اودهغه پر معقول ځواب ژور فکر کولو ته زموږ جهاد اساسي اړتیا لري .

موږ باید په واقعیتونو داعتراف شهامت ولرو او په خپلو نیمګړتیاوو دغږیدو جرئت وکړو ، له دي امله باید ومنو چي دکابل رژیم په بقا کي زموږ خپل نواقص دخیل دي ، اوزموږ اشتباهات ، سهل انګاري ، غفلتونه اودواقعیتونو ناسم تحلیل اوله پیښنو سره غیر محتاط اوغیر دقیق برخورد پکي اثر لري . مګر واقعیت دادي چي په افغانستان کي دروسانو ترماتي وروسته زموږ دمقاومت په وړاندي جهاني وضعه بدله شوه ، جهاني کفارو ، اوپه بیلا بیلو بڼو اوبیلابیلو موقعیتونو کي دهغوي ګوډاګیانو درک کړي وه چي دافغانستان دجهاد وروستي بري اوپدي هیواد کي داسلامي حکومت جوړیدل دټولو مسلمانانو لپاره فتح ده ، داسلام دبیا راژوندي کیدو دسرتاسري نړیوال فکر اوحرکت هیجاني کیدل دي ، دامت دبایللي عظمت دګټلو لویه مقدمه ده، داسلامي نړي دمؤمنو زلمیانو لپاره دجهاد اوانقلاب یوه ازمویل شوي پیغام ورکوونکي تجربه ده .

او دا مت دټولو مجاهدو غورځنګونو دپاللو داډي جوړیده دي ، چي له دي ځایه به دجهاد پیغام اخلي ، دمبارزي سبق به زده کوي اودمقاومت کمر بندونه به تړي اوپدي ډول به په ټول امت کي دکفر اواستعمار په فرهنګ ، نظام اواهدافو د مرګونو ګوزارونو احساس او روحیه او په ځینو برخو کي عمل په یوه مضبوط اوقهرجن موج اوړي .

له دي امله ټول کفر اودهغوي تړلي لوري زموږ دجهاد دوروستي هدف په ضد ودریدل اوپدي توګه موږ په نویو فتنو اونویو مصیبتونو واوښتو چي لله الحمد تر ډیره حده موږ په مقاومت اوبریالي مقابله کړي ده او ددي ښه ثبوت دادي چي که ووایم چي داڅلور کاله دټولي دنیا له ټولو توطئو سره سره مبالغه به مي نه وي کړي ، مجاهدین په افغانستان کي هماغسي مسلم طاقت دي چي څوك ئي له خوښي پرته دقضیي دحل تصور هم نشي کولای .

الحمد لله دپکتیا زړور مجاهدین لکه څنګه چي دجهاد په آغاز کي دمخکښ نقش ویاړلري ، دهیواد دبیلابیلو برخو دمجاهدینو دپاللو افتخار لري ، په ډیرو سختو اوتنګو شرایطو کي دخپلو مسلمانو وطنوالو پر مخ دمطمیني دروازي دپرانیستلو او مصؤني لاري دخلاصولو اعزاز لري ، او دمجاهد په لاس یي دمجاهد دوینو توئیدو له فاجعي دجهادي تاریخ لمن مطلقاً پاکه ده ، له دښمن سره یي هیڅ راز سازش ته زړه نه دي ښه کړي ، داسلام ددښمنانو دزوروړو لښکرو شانداري مقابلي یي کړي ، دجهاد په دي پړاو کي یي هم لکه چي مخکي مووویل دجهاني کفارو دشدیدو اوخطر ناکو توطئو مرحله ده دخپل خداي «ج» اوخپل مظلوم ولس په وړاندي خپل مسؤلیت په بري سرته رسولي دي .

دخوست تاریخي جګړو اوبیا تاریخي فتحي داسلام ددښمنانو ډیري توطئي په شاوتمبولي ، دملت مورال یي لوړ کړ اوغازیانو شاوي یي تودي کړي .

موږ پدي عقیده یو چي موږ دتیرو دولس کلونو په شان اوس هم جګړي ته ضرورت لرو ، داسلام دښمنان زموږ حق نه تسلیموي ، دجګړي عوامل تقویه کوي اوزموږ دولس دارادي پر خلاف سړه اوتوده جګړه کوي . اوپه دي جنګ لګیا دي چي زموږ سوبه په ماتي بدله کړي ، له دي امله موږ دتجربي له مخي پدي باوریو چي دزوروړو زور به په زور ماتوو اودجګړه مارو ظالمانو ظلم به په جګړه رفع کوو اوموږ یواځي دجنګ له لاري دخپل ملت آزادي ګټلاي شو .

دګردیز وروستي لوي جګړي زموږ دهمدي برداشت انعکاس دي ، دا جګړي زموږ دمسلمان ملت دمقدس ارمان اوزموږ دسپیڅلي جهاد دښمرو په خلاف دظالمو کفارو دددسیسو دشنډولو جګړي وي ، دا جګړي په ماتي باندي زموږ دبرمیال قوم دسویې د بدلولو دظالمانه هاند دشنډولو فعالیت واو بالاخره په ګران افغانستان کي دجګړي دلمني د وړټولولو اودسولي دتحقق جدو جهدو اوله مزید وفتنو اوفاجعو نه دافغان ځب ځب ملت دبچولو اوژغورلو جنګ و .

پدي جګړو کي چي کومو وروڼو خپل ژوند له لاسه ورکړ هغوي زموږ دعظیم الشان جهاد دفاتحانه برم اوشوکت دساتلو اودمسلمانانو له لاسونو نه دفتحي دبیرغ داخیستو دشوم یرغل دماتولو دلاري شهیدان دي .. زموږ تاریخ به یي نومونه په زرینو تورو لیکي .

یوځل بیا خپل لوي رب ته دنیاز اودعا لاس پورته کوم چي زموږ داصادق شهید وروڼه د بدر او احد دشهیدانو په صف کي ودروي ، دهغوي وارثانو ته جزیل اجر اوجمیل صبر ورکړي ، اولکه دروسیي دامپراطوري په دړي وړي کیدویې چي دکرملین له حاکمانو زموږ دمظلومو شهیدانو وارواخیست همداسي په ګران افغانستان کي دمجاهدینو دحکومت په جوړیدو داسلام له ټولو دښمنانو نه زموږ دبرحقه جهاد اومشروع آرمان پر ضد دکړیو توطئو اوجنایاتو انتقام هم واخلي . آمین

انجنیر فیض محمد

ژور ګړنګونه چې حادثو ته انتظار وو

ګړنګونه : چې حادثو ته انتظار وو !

دشهید پیغام مجله می په لاس کی ده ، په مینه مینه یی پاڼی اړوم ، ناڅاپه می په یوه پاڼه سترګی لګیږی اوپه همغه بیا ځای پر ځای پاتی شی . .

لږه شیبه می حواس له کاره ولویږی او بیا یوازینی او وروستی عکس العمل یو سوړ اسویلی وی ، چی له خولی می وزی ، بیا هم دغازیانو یو سالار ګورم چی دشهیدانو په کاروان ورګډ شویدی بیاهم زموږ دویاړمن جهاد یو مخلص اتل زموږ سره خدای «ج» پامانی کړی ده بیا یی هم موږ ددنیا غمونو ، دردونو ،رنځونو او سړو تودو ته یوازی پریښی وو.دیوی نورانی بشری تصویر دی اودتصویر سره جوخت دشهید محمد الله نعمتی « صوفي کریم»...نوم .

***

د بورد په ګڼه ګونه کی ولاړیم ، په زړه می دخوښیو ځپی شیبه په شیبه زور نیسی ، نوی نوی زیری مو اوریدلی ، دجهاد دوروستی بری امیدونه را ژوندی شوی ، په همدغه خوښي او همدغه سرور کښی څوك یو اخبار راته نیسی ، داخبار پرتندی نن هسی کلیشه یی او دوامدار معمول خبرونه نه دی ،نن داخبار ړومبی صفحه دبل ځه پیغام لری نوریی پخوانی موډمات شوی دی . دکفر اوکمونیزم دیوه ستر مورچل « خوست» دفتحی زیری یی په تندی لیك دی .

داخبار منځنیو پاڼو ته ګورم ، ځخوآشنا اوناآشنا ځیری پکی دی ، همدغه ستره سوبه دوی ته منسوبه ده همدغه ستر ویاړ همدوی کتلی دی . د ملت په مړژوانده روحیه کی همدوی دژوند او جهاد روح بیا پوکلی دي هوکی همدوی ...ګورم په دی کی یو انجنیر فیض محمد دی ... کوم فیض محمد ؟

خلك به یی ښه پیژنی خو زما د ذهن په پرده دهغه یو بل انځور پروت دی ، دهمداننی فاتح او سوبمن قوماندان دژوندانه ځوشپی ورځی ماته ښی معلومی دی اوزما دذهن په پرده دده همغه ځیره نیغه ولاړه ده.

نن دپکتیا په درو اوکندوونو کی دمجاهدینو تانکونه غوریږی ، هری خواته دهورا پرځای دتکبیر ناری زمزمه کیږی ، زمین اوزمان دتکبیر شعارونو داسی په سراخستی چی زرونو ته دشریفا نه ژوند آزادی او روښانه راتلونکی پیغام ورکوی پردغه فتحی اوبری دغه ویاړونه اوافتخار ونه په کم قیمت نه دی ترلاسه شوی ، نه دومره ارزان دی

او ....

دلوګر دابچکان په پراخ ډاګ دروسی الوتکو هیبت ناکه پهره دریدلی وه ، ځمکه اوفضا دواړه دوبر او ویری پیریانو لاندی کړی وی ، موږ ته په همدغه سپین ږګر په همدغه هیبتناك بیابان او دمرګونو اوماتمونو پر غولی شهیدان پراته دی ، یوازی یو نورانی ځوان دی ، توره ښایسته ګڼه زیره ، سپین مخ او په خوله دستررب «ج» ورد جاری ، موږ ته داد راکوی .

خدای «ج» به خیر پیښ کړی هرڅه به دخدای «ج» په امرسره درست شی ته بیغمه اوسه .... یابه ستاسو شهیدان راوباسو او یابه زما نولس سوه مجاهدین هم تول شبهدان شی .

په ځیره کی یی دایمان روښنایی اوپه لهجه کی یی داد او تسل غالب دی ، داحاجی غالب دی . دبره کی برك دتوریالیوبو توریالی قوماندان ، دلوګر دشازلمیو نومیالی امیر .... اونن دشهیدانو دکاروان یوننګیالی لاروی اوهمدغسی ماته کله کله داسی خاطری او یادونه ستر ګوته ودریږی چی معمولی نه دی ، داسی بنیاد مان می دذهن په پرده راژوندی شی چی عادی خلك نشی ګڼلی ، هغه وخت چی ماته عادی خلك ښکاریدل بس دانور وخلکو غوندی ، تر نورو لږ خوار ، لږ بی وسه بی کسه اودمسافری په ګردونو کی پټ ، خوداسی نه وه ، همغه وخت ددوی له نومونو سره ستر ستر ویاړونه تړلی وو ، همغه وخت همغه دبي وسي او مأیوسي په مهال کي ، خوچانه لیدل باید وخت پردی پورته کړی وای باید ، ګړی ، ورځی ، میاشتی اوکلونه اوښتی

او رااوستی وای ، باید دا زموږښت پرږګر دغه درنی ستی په اور ، وینو او ویرونو کی اړول شوی وای تر څو ددوی جوهر برالاشي اوهمداسی وشول .

شهید نعتي (صوفي کریم)

نن زه دهغو لومړیو شپو ورځو یو څو ننداری درته بنیم دهغو شپو ورځو چی دننیو فتحو اوویاړونو دپیلیدو ړومبی شیبی وی .زما اوستا په هیواد کی دعضر دستری معجزی دپیښیدو ړومبی مقدمه وه ، او دایمانو نو او غیرتونو دتللو ړومبی ازمویښتونه پیلیدل . ... اوماته ستر رب «ج»دهمدغو مقدمو ، همدغی ستری معجزی او ازمیښتونو له اتلانو سره دملګری ویاړ رابخښلی ؤ .

نن درته دزړو رازونو کیسی کوم ، له زړی دنیا نه درته غزیرم اوزاړه یادونه راسپړم .

هغه یادونه چی دنن له چاپیریال اوحالتو سره اړخ نه لګوی خوپیوند یی ورسره ضرور شته ، دهغو مایوسویو، بی کسیو ، بی وسیو اوپردیسیو کیسی چی بنایی دنن له فتحی او بریو سره په بنادی کی دویر دسندرو معنی ولری ، خو داسی نه ده .

زه نن دتاریخ په سینه کی دعصر دستری معجزی دپیښیدو دیوی څنډي دړومبیو شپو ورځو یو تت غوندی انځور درته بنیم . دهغو ورځو یادونه اوکیسی وایم ، چی داوسنیو فتحو خیال اوتصور پکی لیونتوب ښکاریده ، زه نن داسی فاتحان اواتلان درپیژنم چی تر ګامونو لاندی یی دیوی ستری امپراتوری ټول برم پرتم اوپوځی ځواک مغلوب پروت دی خو یو وخت یی له مخ نه خاوری پونیدلی، شونډو یی پتری نیولی وو اوددو مره ستر ویاړ دګټلو ګومان وربآندی محال ؤ ، زه دننیو فاتحانو پرونی څیری دربنیم .

اوزه !

داسی ځوانان هم درپیژنم چی دوینو څاڅکی یی زما ، ستا ، ټول ملت اوټول اسلامی امت دوقار نخښنی اودعزت سبب شول دوینو موجونه یی توپانی شول ، پرغلیم ورواوښتل ، هغوی نور په دی دنیانشته ، خوزموږ دولس اوسنی فاتحانه حیثیت ، برمیال شان اودریځ دهغوی دوینو ثمر اوحاصل دی ، دهغوی دقربانی اوایثار میوه ده .

نن چی موږ دکومو فتحو زیری اورو ، ډیرو ځوانانویی داوریدو ارمانونه ګورته ورسره وړی دی نن چی دجهاد کوم برم اوپرتم وینو ، ډیری منتظری سترګی یی دلیدو په ارمان بی نوره شوی دجهاد صفونه ځواکمن دی ، غازیان مو په هر راز وسلو سمبال دی ، نن دپکتیا په درو اوکندوونو کی دمجاهدینو ټانکونه غوریږی ، هری خواته دهورا پرځای دتکبیر ناری زمزمه کیږی ، زمین اوزمان دتکبیر شعارونو داسی په سراخستی چی زړونو ته دشریفا نه ژوند آزادي او روښانه راتلونکی پیغام ورکوی پردغه فتحی اوبری دغه ویاړونه اوافتخار ونه په کم قیمت نه دی ترلاسه شوی ، نه دومره ارزان دی دهمدغه ویاړ من شورماشور ، همدغه پرتم اوهمدغه جلال په منځ منځ کی زه بل څه وینم ، ددغو فاتحو څیرو په کرښو اونخښو کی دماضی هغه داستانونه اوخاطری وینم چی ویریږم داوسنی فتحی اوسرور په څپو کی بلکل هیری اوورکی نشی زه نن فیض محمد وینم چی د لویو فتحو ویاړونه یی خپل کړی دی ، محمد حکیم وینم ارمان حضرت محمد او....

وینم چی دسترو سوبو تاجونه یی پر سر ځلیږی . خوویر داسی ځوانان نه وینم چی دلیدو ارمان یی کوم ، کاشکی هغوی هم وای ، کاشکی هغوی هم دفتحو جشنونه لمانځلی وای ، چی پرون یی وچی شونډی سپیره مخونه دمظلومیت نخښه وه کاشکی نن یی پرتندو دبری اوفتحو خوښی ځلیدای ، خو هغه نشته اوځای یی تش دی نودغه اوسنی فتحی اوبری هم نیمګړی دی ، نن به احسان الله فیض محمد اوارمان په څه خوښ شی ، چی دکلونو مخلص یاران یی دبری اوخپلواکی په ارمان دګور میلمانه شول ؟ زه نن دهمغی نیمه خوا یارانو یادونه راسپړم ، یوازی هغه څه چی زما په ذهن کی امانت پاتی دی ، زه نور دغه امانت دیوی خاطری په توګه دتاریخ پاڼوته سپارم ......

***

دمنی وروستی میاشتی یوه سړه شپه سبا شوه ، خودغه شپه موږ ته دنورو شپو په څیر نه وه ، همغسی ساړه ؤ دورسک دکمپ ځمجنی اوسپړی کوټی وی ، چی په تودو مرکو تودیدلی ، خوموږ ته نن شپه بل ډول وه ، دازموږ دکیمپ وروستی شپه وه .

موږ دیوه بل ژوندانه په لوری روان وو ، که ووایم چی دشهادت اوقربانی په تکل وتلو نومبالغه نه ده ، خو دخدای «ج» به خوښه نه وه ......

څلور کسیزه ډله موچی دورسک له میدانو نو نه تیریدله دمخه بنی لپاره ډیر ځوانان ولاړ وو ، دهغوی په سترګو کی هم دالوستل کیدل چی له موږ سره یی

ورروستی دیدن وی ، خو څوک خبر و چې
په دې څلورو کسانو کې به یوازې یو تن
دستر سعادت « شهادت » ویاړ ګټي !

زمونږ په ډله کې استاد جعفر اوحاجي
غالب وو ، حاجي غالب چې توره زیره
اوښکلې بشره یې درلوده دښې خولې
څښتن ؤ هره خبره یې دموسکا په شهدو
خوره وه ، مونږ بل ته ځانونه ورروپیژندل
. دیو بل دژوند په باب مو کیسې سره
کولې اوبیا همغه ماسپین دسپین وام په
یوه کیمپ کې یوې لویې کوټې ته ورننوتو
په کوټه کې نه لس تنه ناست وو ، ټولو
دیوال ته ډډې وهلې وی ټول راپورته شول
، له مونږ سره یې ستړې مشې وکړل ، مونږ
داسې حس کړه لکه دکلونو کلونو انډیوالان
مو وی ، ما حول پردی غوندې ؤ ، څیرې
ناآشنا وی خو دڅیروله زړونو نه راوتلی
خبری مونږ ته دآشنایي اودخپلولی احساس
راکاوه په یوه کونج کې یو دقوي متو
ځوان چې نسبتاً رنګې زیره یې وه ناست ؤ
جعفر استاد راوښود ، انجنیر جمعه ګل
دلوګر ....

ظاهراً آرام او خاموش ؤ خو ورروسته راته
څرګنده شوه چې ددغې خاموشی په
پردوکې دجذباتو څومره ستر توپان غلی
ؤ.....

اومونږ ته دا پته هم نه وه چې دغه ستر
میړه به یوه ورځ دخپلو له لاسه دشهادت
په بڼ کې دتل لپاره پټیږي ، انجنیر جمعه
ګل هم زما په ذهن کې دروښانه تصویرونو
نه یو ډیر روښانه تصویر دی . هغه اور
ژبی نطاق ، اوزړه سواند مبلغ ، چې کله
کله به یې دخدای «ج» دکلام اوپیغمبر
«ص» داحادیثو په استدلال زمونږ له زړونو
دمایوسی اوپردیسی ټول ګردونه او غمونه
وڅنډل ،

دزاړه دیوال شاته یو ځای له نورونه لر.
بیرته یو بل دتوری اوګټې زیری خاوند
ناست ؤ ، یو خړپکول یې پرسر ؤ ، شونډې
یې منظمې رپیدلې او د ستر رب«ج» په
تهلیل او تسبیح لګیاؤ ، هغه هم
دهمدغسې پردیسي قافلې یو لاروی ؤ ،
تر ډیره حده ساده کلیوالي سړی ښکاره
کیده ، خو مونږ په هغه هم تیروتلي وو ،
مونږ ته هغه کوم له سواد اوتعلیم نه محروم
کلیوال ښکاره شوی ؤ خو پوه نه وو چې

سلیمان

داسلامی نهضت دقافلې یو ډیر مخلص
داعی را ته ناست دی اویو وخت به یې
دتکبیر چیغې دڅاځیو مړژواندي دری
دژوند اوقیام په شور کې ډوبې شي ، دغه
ساده دتوری زیزی او خړ پکول څښتن
صوفي کریم ؤ ، مونږ څه پوهیدو چې
دهمدغه خړ پړځوان په نامه به یو وخت
ځاځي څه چې ټوله پکتیا اوټول هیواد
ویاړي مور هغه دپردیسي په ګردونو خر
لیده خو ددغه خر پوستکي لاندې هغه
اراده اوایمان مو نه لیده چې حماسې به
زیږوي دجهاد بیرغ به یې په اوږه وي اوټول
ولس به اقتدا وریسې کوی ، دکبر اوجبر
لښکر به په وینو لمبوی او بالاخره به په
دغه خړه څیره هم دشهادت سرخي
راخوریږي ډیر زر مونږ له هغه سره هم
معرفي شوو دبیګانګي پردي موسره
وشلیدې اودزړونو رازونه موسره یو شول نن
چې هغه دشهیدانو دکاروان ملګری دی
اونشته نوزه پوهیږم چې څوک نشته
کاشکې هغه وخت زه پوهیدای چې له
چاسره مخاطب یم ، داڅوک نن راسره په
روغبړ دی ، کاشکې زه پوهیدای ، که می
نور هیڅ نه وای کړي دهغه دڅیرې ټولې
نخښې اوعلامې به می دذهن په پردو کې
ښې خوندي کړي وی .

خو مونږ څه پوهیدو چې دلته څوک راټول
دی .

عادی انسانان وو ، ټول دیوه درد
خاوندان ، دیوه غم اوویر څښتن اوله یوې
مخې له کور اوکلي نه راشړل شوی
اومسافر زه څه پوهیدم چې په همدغو
حیروکي ستر ستر فاتحین هم شته دسترو
حماسو اوکیسو خاوندان هم اودشهادت
دابدی کاروان ډیر بختور یاران هم چې سبا
ته به یې تاریخ په نومونو اویادونو نازیږي
. مونږه یوبل ته یوازې دیوه همدرد ورور
اوخواخوږي په سترګه کتل ، چې سبا ته به
که ډیر بختور وو چیرته په کومه نیمګړې
مقدمه کې قربان شو.

ښه می یادشي ، هغه حالت ، هغه
چاپیریال اوهغه حاکمه فضا زمونږ په ذهن
کې دماضي داستانونه دتل لپاره تر خارو
لاندې وو یوازې دراتلونکی په باب موخبره
وه ، دیوې هیبتناکې راتلونکي دیوې
نامعلومي اووهمناکي ! دیوې په وینو
رنګ اوله دردونو اوټپونو ډکې راتلونکي.
کیدای شول چې دحاجي غالب په شونډو
غالبې موسکا به له مونږ.نه هم ترسته ځنډه
دغمونو وریځې لرې وشړلې ، دصوفي
کریم اغیز ناکې لهجې اوله اخلاصه ډک
روغبړ به مو دزړونو دسوځیدلیو آرزوګانو
په بڼ کې نوې نوې څانګې وغوړولې ،
خو مونږ دکوم عادی ماتم اوغم نه راوتلي
بنیادمان نه وو چې زر تر زره یې هیر
کړای شو ، وطن پاته ؤ ، کورکلي خپل
خپلوان اوبیا دهسې وحشیانو په منګولو
کې چې روغ تری راوتل یې دعصر معجزه

ویللشوه .

موږدهغې کیمپ په یوه کوټه کې اوسیدووچې پوخ دیوال تری راتاوشوی ؤاو دپکتیادمهاجرینوکډۍ پکې وی.په دغومهاجرینوکې داسی کورنی هم وی چې په۱۳۵۳هـ کال کې یې هجرت کړی ؤ ، ما ته دلومړۍ ځل لپاره داراز ښکاره شو ، اوکه ووایم حیران هم شوم ځکه ما پکتیا دتمدن ، تعلیم او ... له قافلې نه ډیره وروسته ګڼله خو اوس چې دلته حقیقت دخپل خیال خلاف ؤ دلته دغځو پګړیو او شخو شملو خاوندان وو ، نه یوازې لوړو اوشخو شملو بلکې داستدلال ، منطق او پوهې دډګر میړنی هم ، مالیدل چې په همدغو دنګو غرونوکې زما داتکل پر خلاف نه یوازې دزړه طبیعت خاوندان زیږی او پالل کیږی بلکې دعقل اوتدبیر اتلان هم دی ، چې زموږ جهادی لسیزې دغه حقیقت یوازې ماته نه ټولو هیوادوالوته ښه ترا برالا کړ .

دوی ورځې وروسته پر کوټه څوتنه نور نوی میلمانه هم اضافه شول اوبیا څو ورځې وروسته څوتنه نور هم ، یوه ورځ دجبهې امیر احسان الله راغی دهغه همدالومړی ځل راتګ ؤ اویا به ښایې زموږ له ورتګ نه وروسته دهغه لومړی راتګ ؤ هغه یوه لنډه ښانته افتتاحیه وینا وکړه ، موږ دجهاد شهادت مورچل او ... خبری ډیری اوریدلی وی خوزه داحسان الله خبرو ناڅاپه په شا یووړم اود څوارلس سوه کاله وړاندې صدر اسلام دغزاګانو په ډګر یې ودرولم .

داسلام دویاړ من تاریخ دړومبیو غزاګانو ننداری یې زما په ذهن کې را ژوندی کړی .

هلته چې مصعب «رض» بیرغ په اوږه کړی دبدر او احد په میدان دغازیانو علمبردار دی ، حمزه «رض» توره ایستلی دکفارو پر صفونو کې لیکی وباسی ، سعد «رض» ،عمر«رض» ، ابوبکر صدیق«رض» علی مرتضی «رض» دخپل محبوب په شاوخوا راټول دی ، ټولو سرونه په تلی کې نیولی دی ، ټولو ځانونه قربانی ته چمتو کړی دی چې اسلام ژوندی پاتی شي، دخدای «ج» دین وساتلی شی ، دکلمة الله بیرغ رپاند پاتی شی .

وروسته بیا نوری غزاګانی ، شهادتونه ، قربانی او میړانی ، دفارس اوروم له بی شمیره لښکرو سره دخالدبن ولید«رض» ،ابوعبیده بن جراح «رض» سعد بن ابی وقاص «رض» اوعمرو بن عاص «رض» ترامارت لاندی خونړی او ویاړمنی غزاګانی .....

اودادی نن احسان الله دیوی ډلی ځوانانو امیر ټاکل شویدی ، کوم عادی امیر نه ، دجهاد امیر ،جهاد به کوی ، موږ عادی خلک نه وو ، دخدای «ج» پردین له کور اوکلی نه را وتلی او دخدای «ج» ددین دساتنی او دفاع لپاره بیرته دننګ اوجنګ ډګرته روان وو ، کومه عادی ډله نه وه په هغه ټمجن نسبتاً لوی اطاق کی ۳۵-۳۰ کسه وو ، فکر مو کاوه چی لکه پخواهسی عادی خلك به یو، یوازې خپل کور اوکهول ته ګران ، خو رښتیا چی دهغو له منځه داسی کسان هم راووتل چی دټول ملت او آن دټول اسلامی امت دعزت اووقار سبب شول .

په دی خو یوازې ستر رب «ج» خبرؤ ، اودا دخدای «ج» تقدیر ؤ چی دسپین وام له یوی نامعلومی کوټی نه پیل شوی دغه بهیر به دهیواد په ډیرو لوړو اوژوروکی دسوبی بیرغونه رپوی څومره چی زمایاد شی اودهغه وخت دما حول په باب فکر کوم موږ خو یوازې پردی ځانونه بختور ګڼل چی که دهیواد په کومه سرحدی سیمه کی په کوم ګرمه جګړه کی زړونه یخ کړو اوبیا جګ سرونه خپل رب«ج» ته په وینو لمبیدلی ودریږو .

خو په تقدیر کی بل څه لیك وو چی دوولس کاله وروسته یې دادی شاهدان یو دهمغې کوټی له انډیوالانو نه به چی په یوه زړه خیراتی سطرنجی یې غولی پوښل شوی ؤ او سپیری سپری زیږی زیږی کمبلې یې په یوه کونج کی انبار پرتی وی ، دهمغو یکنواخته دالو دقروانی نه ، دهمغو تروږیره حده ددنیا دژوندانه اونعمتونو نه مایوسه څیرو له منځه ، نور څوك راووتل ، داسی څوك چی هغه وخت یی تصور ګران ؤ ، داسی څوك چی د مکار غلیم پیچلی اوپر مختللی جنګی ماشین یی تر درنو اوبرمیالوګامونو لاندی شو ، سوبو او بریو په هره تیره ، دره اومعرکه کی لبیك ورته وویل اونن دهغوی په باب څوك دا تصور نشی کولی چی لس دولس کاله وړاندی به دغه اتلان دغه ننګیالیان او فاتحان په یوه ټمجنه خونه کی دسړوله زوره لړ زیدل اوددی توان یی نه ؤ چی ځان له یخنی وژغورلای شی . موږ دلته له نویو نویو څیرو اومیروسره آشنا کیدوچی همداسی زموږ غوندی د پردیسی اوبی وسی په ګردونوکی پتی وو او دنامعلوم راتلونکی په انتظار وو .

یوه ورځ داسی هم راغله چی په موږ وسله ویشل کیدله ، هغه چی پر ټولو داختر ورځ وه ، که رښتیا ووایم تر اوسه پوری دوسلی اخستل راته محال ښکاره کیدل ، وضعیت داسی ؤ لکه دا هر څه چی ټوکی وی ، موږ هسی دخپل تسکین لپاره له ورسك نه دلته راغلی وو اویس نه وسلی وی ، نه جهادو اونه دجهاد لپاره څه زمینه ، خو په همدی ورځ موییقین شو چی رښتیا هم موږ ترنورو بختوران یو ، رښتیا هم موږ ته یو ډیرستر شرف اوویاړ رابخښنل کیږی ، موږ دغازیانو په ډله کی

شمیرل کیدو ، موږ به له کفارو سره دجهاد معرکی لیدلی او دادی نن هغه ورځ ده ، چی وسلی راباندی ویشل کیږی ، ټول بهر انتظار وو ښه می یادشی ، دژمی لمړیر خوندور ؤ ، تودو وړانګوئی یو عجیب خوند اوکیف درلود موږ دلویی دروازی څنګ ته تر پاخه دیوال لاندی همدغه لمر ته ډډی وهلی وی یو یو تن به احسان الله اوغالباً ظابط سلیمان .... یامحمد حکیم « دامی سم په یادنه دی پاتی » کوټی ته ورغوښتل اوهغوی ته به یی ټوپک ، یا شل ډزی ورکول ، زموږ په ډله کی داسی کسان هم وو، چی ټوپک به یی په ژوند کی په لاس کی نه ؤ اخیستی اوبیا که یی اخستی اولیدلی ؤ یوازی چره یی ښکاری به ؤ ، زه په خپله هم داسی وم ، ما به پخوا دغه ټوپک یوازی له کوچیانو سره لیدل چی کله به یی کېږی کوزی اویا بری خواته روانی وی نو دغه ټوپک به ورسره وو خونن به زه دټوپک څښتن کیدم .

زه خپل هغه کیفیت اووضعیت نه شم بیا نولی ، کله کله به له ځانه سره پیله شوم .

له ځانه سره به می ویل چی ماتراوسه داسی ټوپک په لاس کی نه دی اخیستی دا خوچلول اوویشتل غواړی ، ټوپک دری ډوله وو چاته به یی ډیر نوی نوی یوولس ډزی ورکړی وو ، چاته دتوررولرګو وال چی ماته ډیر زاړه اوبی خونده ښکاریدل او ځینو ته شل ډزی .

ما په زړه کی ویل چی که دډیرو لرګو نوی یوولس ډزی راکړی نو ډیر به ښه وی ، په همدی سوچونو کی وم چی زه کوټی ته ورو‌غوښتل شوم ، اوشیبه پس داحسان الله په مخ کی ناست وم . دهغه مخی ته یوتك تور ټوپك ؤ او دری بیا دډیرو نویو لرګیو نوی اوبیا احسان الله همغه تك تور ټوپك ته لاس اوږد کړ او زما خدای «ج» خبر دی

له غوښی که مایوسی یو ځل په سترګو تیاره راغله ، په زړه کی راوګرځیدل چی انکار وکړم او همدغسی تش لاس ووزم خونه پوهیږم ولی می داسی ونه کړل تور ټوپك می راواخیست اوډیر زړه خوړینی بهر ته راووتم بهر چی زما په لاس کی ټوپك دخلکو سترګی ولګیدلی لکه کوم عجیب غوندی شی یی چی لیدلی وی ټول په یوه غږ راپورته شول هغه دی ! داخویی ده ته ورکړی دی .

زه له پریشانی اومایوسی نه خولی خولی یم ، خو ګورم چی په شاوخوا می بیروبار دی ،ټوپك می یی له لاسه اخیستی اوچی ځګیر شوم څوك مبارکی راکوی اوڅوك دټوپك غوری کوی ، ماته داسی ښکاریدله چی ملنډی را باندی وهی په زړه کی نور هم خفه شم ، ماویل کاشکی زه هم ددغو دنګو غرونو بی سواده اوسیدونکی وای اوس خو به ټوپك دویشتلو اعتماد را باندی کیده .

، خو وروسته وروسته په زړه کی شك راولوید ، او بیا می خپلی سادګی او خامی ته په زړه کی پټ پټ خندل .

زما سر اوکار خوتر اوسه له قلم ، کتاب اواستاد سره ؤ ، زه خو دغه ډګرته په زور ورټیل وهل شوی وم ، داخو دحالاتو غوښتنه وه چی کتاب کیږدم ، قلم وغورځوم وسلی ته لاس کړم ایمان ، ناموس اووطن ته خطر پیش شوی ؤ ، که نه نو ماخو وسله نه پیژندله ، زه اوس فکر کوم چی زما او زما دټول ملت یوه تیروتنه هم همداوه ، موږ ولی له وسلی نه دومره بی پروا اوناخبره وو؟ آیا زموږ ستر لارښود او محبوب پیغمبر«ص» دوخت دوسلی زده کړه لازمه نه وه بللی ؟

خیر په هر صورت زه ملامته ووم که نه خو وسله می نه پیژندله په کومو ټوپکو می چی زړه بایللی ؤ هغه کچه وو اوکوم

می چی تر نظره بدراتلل اصیل اوښه وو .

خو نورزه دکوم ډسکو ماحول اوسیدونکی نه وم ، زه دپکتیا له عقابانو سره اوسیدم، بیا داسی عقابانو سره چی یوازی پښتانه ، زیړه ، په وسلو بلد اومیړنی نه وو بلکه دخدای «ج» پردین راپاریدلی اوپاڅیدلی هم وو ، احساسات یی په لمبو وو ، غیر تونه یی را جوشیدلی وو او ددغرواوتکرو ډګر ته دومره هوسیدل لکه اختر ته .

نور زما انډیوالی له قند هاری ضابط عارف ، محب الله ، ابراهیم او..... سره وه ، نور زما دژوند په سفر کی دلاری یاران محمدالله نعمتی (صوفي کریم)غوندی مخلصان وو چی په تندی کی یی د نور ډیوي بلی وی ، سلیمان غوندی ځوانان وو چی همت او غیرت یی په لوړ والی اوکلکوالی کی له وړاندی دنګو او ګڼو غرونو سره سیالی کوله .....

نور می انډیوالان داسی څوك نه وو چی دټوپك له ډزو وویریږی ، داسی څوك وو ، چی دټوپك ویشتل او چلول یی دچپ لاس لوبه وه ، داسی ماهران چی تا به ویل دا ټوپك ، کافر انګریز نه ، دوی جوړ کړی دی .

ما چی ټوپك غاړی ته کړیو ډول غرور راسره پیدا شو ، وپوهیدم چی کوچیانو به څنګه غاړی هسکی نیولی وی اوپه غرور به له موږ نه تیریدل ، داخو دهمدغو وسلو سبب ؤ ، مایو ځل بیا هم ځان دتاریخ په هنداره کی په یوه ګرمه معرکه کی احساس کړ اوبیا می داهم په ذهن کی راتیره شوه چی سبا ته به زه هم دمجاهد اوغازی په نوم یادیږم . زه به هم دغازیانو دلبنکرمل وم ، هوکی الحمد الله داسعادت ، شرف اوافتخارستر خدای (ج) رابخښلی وءنو چابه را څخه اخستی وء ؟ چاهیځ هم نشوکولی،دادخدای(ج)خوښه وه او زه په

خپل قسمت ډیر راضی او خوښ وم.

او داهم دخدای(ج) کړه ووچی په نژدی دیرشویا څلویښتوتنوکی زه دوهم تن وم چی نخښه می وویشتله،هغه ننداره هم زما د ذهن پر پرده داسی جاودنه ثبت ده چی یوازی دمرگ سلگی به ئي محوه کړای شی .

ویوهیږو.

زموږاو هغوی تر منځ همدغه دبنیادی توپیر نخښه وه چی ډیر نه یوازی څلور څلور نیمی میاشتی وروسته دمرانشاه بازاردکابل دجمعی کهنه فروشی ته ورته

دزاړه دیوال شاته یو ځای له نورونه لږ بیرته یو بل دتوری اوګنې بیری خاوند ناست ؤ ، یو خړپکول یی پرسر ؤ ، شونډی یی منظمی رپیدلی او د ستر رب«ج» په تهلیل او تسبیح لگیاؤ ، هغه هم دهمدغسی پردیسی قافلی یو لاروی ؤ ، تر ډیره حده ساده کلیوالی سړی ښکاره کیده ، خو موږ په هغه هم تیروتلی وو ، موږ ته هغه کوم له سواد اوتعلیم نه محروم کلیوال ښکاره شوی ؤ خو پوه نه وو چی داسلامی نهضت دقافلی یو ډیر مخلص داعی را ته ناست دی اویو وخت به یی دتکبیر چیغی دځاځیو مړژواندی دری دژوند اوقیام په شور کی ډوبی شی ، دغه ساده دتوری بیزی او خړ پکول حستن صوفی کریم ؤ ،

هغه ورځ چی موږته د تمرین لپاره دوه دوه ډزونه اجازه وشوه ،ټول دیوی غونډی په لمنه کی را ټول شوو سل دوه سوه گامه وړاندی د غونډی په ډډه کی په یوه خړ کمر یوه سپینه غوندی وړه ډبره نخښه شوه، لومړی څوك تورن غلام محی الدین او دوهم بیا همغه څوك وء چی پرون یی اصیل او دره یی ټوپك نه پیژندل چی نخښه یی وویشتله ،

نور هغه ځان له چا نه کم نه گاڼه ،له چا نه اخر کم وء،نخښه یی ویشتلی وه، سپینه ډبره یی لاندی را غورځولی وه شاباسونه یی گټلي ؤ، د ډزوپه وخت کی چی د هغه په زړه کی څه تیریدل هغی ته دچا څه پام وء

موږ با قاعده پوځیان یو ،وسلی را سره دی ،د تمرین په میدان کی ولاړیو، خو دظاهرشاه ددوری پوځیان نه یوچی په شی گرز او کینځ گرزکی مو دوه کاله تیر شی اویا یوازی په سلام او مارش مارش

سردرو کی داسلام دمبتکرو په لاس اسیران شوی وو .

هر سهار موښه اوږده فاصله منډه اوله چای نه وروسته تر پخی غرمی پوری دکیمپ شمالی خواته تیتو غونډیو ترمنځ دجگړی دتاکتیك زده کړه معمول وگرځیده ، اوس نوزموږ په دی پوخ باور شو چی خامخا به یوه ورځ زموږ تر غوږ دگولیو غږ هم راځی ، دجگړی خیالی ننداری به مو د ذهن په پرده راگرځیدی اودهمداسی یوه ساعت په انتظار مو شیبی شمارلی یوه ورځ موږ ته یوه بله وسله راوړل شوه ، داشکه نه وه زیکویك خو دغنیمتی وسلو څخه د ي ، توپ نه ؤ ، هاوان نه ؤ خو موږچی هغی ته خوښ وو اندازه یی اوس نشم اټکل کولی .

نورنو موږ ځانونه دوسلو له لوری بلکل پوره گڼل نور راته کیناستل گناه گناه ښکاریدله ، موږ د بری ناوی دهمغی وسلی له شپیلی نه لیدله ، موږ دهغی په هرډز

کی دکمونیزم دیوی مانۍ د نړیدو خوبونه لیدل ،

